ښځو دنړیوال غورځنګ په ویاړ



# دساجدې بځرکي ژوند او مبارزه



ليکونکی : ننګيالی بځرکی

خپروونکې ټولنه : داحمد شاه بابا علمي – ادبي ټولنه

## دلوی اومهربانه خدای په نامه

*****

# دساجدې بڅرکي ژوند او مبارزه

## دافغانستان دښځو یو سیا سي غورځنګ

**لومړی چاپ**

**د ۱۳۴۰ هـ ش څخه تر ۱۳۵۷ هـ ش دښځودغورځنګ پیښي**

**لیکوال : ننګیالی بڅرکی**

**دخپریدو نیټه :۱۳۹۸ هـ ش**

**2020-03-05 م کال**

**خپروونکی : داحمد شاه بابا علمي ادبی ټولنه .**

# دکتاب پيژندنه :

دکتاب نوم دساجدې بڅرکي ژوند او مبارزه

لومړی چا پ : ۱۳۹۸هـ ش کال ۲۰۲۰م

دکمپيوټر چاري : په خپله ليکوال

ليکوال ننګيالی بڅرکی

دلومړي چا پ : ۱۳۹۸ هـ ش 05-03-2020 م

خپرونکې مؤسيسه : داحمدشاه بابا علمی ادبي ټولنه

دچاپ شمير : ټوکه .

Zuiderkruis 97 , 3902 WD Veenendaal

Phon : 0031318519004

emil: nbacharki@live.nl

دچاپ ځای :

يادونه : دخپريدو حق ساتلی دی

# لړ ليک ( فهرست )


| شماره | سرليک | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | سريزه | ۱ |
| ۲ | مقدمه | ۷ |
| ۳ | دپيل خبري | ۹ |
| لومړی | دکندهار دښځودغورځنګ مخکښنه استاذاني | ۱۲ |
| دوهم | ساجده بڅرکې دښځودآزادۍ دلاري مبارزه | ۱۵ |
| دريم | دساجدې بڅرکي په با ب څو خبري | ۲۲ |
| څلورم | دواده څه ورسته دسا جدې دژوند ستونزي | ۲۵ |
| پنځم | دروسانو تير وتنه | ۴۷ |
| شپږم | دمرحومي ساجدې پرشعريوه کره کتنه | ۴۹ |
| اووم | مورته | ۵۲ |
| اتم | يو څويادوني دسا جدې په با ب | ۵۴ |
| نهم | دخپل خاوند په باب دسا جدې بڅرکی دريځ | ۶۹ |
| ------ | -------------------------------------------------- | -------- |
| لسم | پايله او ختم | ۷۴ |

# ا هــد أ

## ستاره اڅکـزی

***



***

**شهيدي ستارې اڅکزی ته . چي ؛دمرحومي ساجدې بڅرکي دخورلور اودمرحومی ساجدې دمبارزو دلاري ملګرې وه ، په افغانستان کې دښځودغورځنګ اوډموکراسۍ په لاره کې دافغانستان دښځوپه غورځنګ کې فعاله برخه واخيسته.اوپه همدغه لاره کې دهيواد دښځو دآزادۍ اودښځوپرضد دتاوتريخوالي په لاره کي ترځان او ژوند تيره سوه .ددې پاک روح ته نوموړی کتاب اهدأ کوم.**

**ننګيالی بڅرکی**

# سریزه

که څه هم مورهغه نوم دی چی په اورید ويې هرڅوک مینه احساسوي، موردمینی خزانه ده،مورداولادعاشقه ده،خواولاد بیاد مورمعشوق وي. مورمور.ته د یوه ښې لارښوونکي په توګه دژوند بیلابیلي برخی را وښودلې،زمور.مورمور.ته نه داچی یوه ښه مورده، بلکي؛ هغه دټولنی دپاره هم یوه ډیره ښه استاذه وه، هغې خپلي ټولنی ته دښځوپه برخه کې دښووني اوروزني دروازې پرانیستلې.نوزمور.د مورحق نه یوازي داچي پرمور.دیوې ښې مورپه حیث فرض دی.بلکي؛د ټولنیزوخد متونو پربنسټ زمور.موردښځودغورځنګ مخکښه وه.اوپه همدغه لاره کې د افغانستان په کچه ، په ځانګړې توګه بیا د کندها ر په کچه ډیردپام وړخدمتونه ترسره کړي دي.نوماته خپله موردیوې هیوادپالي مبارزي ښځي په حیث دډیرارزښت وړده.

نوهمدا نن چی زه د محترمی سا جدې بښرکی پرژوند څه نا څه لیکم ، زه یې دځان اوموړپه باب دفخروړګڼم.اوزما هیله داده چي لوستونکي دهمدغه کتاب په لوستلود خپلي ټولني دیوې مبارزي ښځي په باب معلومات ترلاسه کړي.

**میرمن ساجده بښرکي :** ممکن دسا جدې بښرکي په باب ځینوخلکوته کره اوثوقه معلومات وي،یاهم په نوموړي کتاب کي دهغه په باب ډیر څه لیکل سوي دي، خودغه ځوخبری زماهغه خبري دي کوم چي زماپه زړه کې ځای درلود.اوزه یې اوس تراوریدونکواولوستونکوپوري رارسوم اودسبا ورځي د ښځودغورځنګونوپرتاریخي پاڼوباندي یوڅه ورډیره وم.

سا جده بښرکې په قوم پوپلزئ اوپه پوپلزوکي ددولت شاهی په څانګه پورې اړه درلوده.دعلیجانخان پوپلزي لوروه،داوسید وځای یې برو بازارکي ؤ.خوپلاراونیکه یې بیاپه ښارصفاکي باغونه،مالداري اومځکی درلودلې.خوددې دژوندیوه برخه هم هلته تیره سوې ده. څودپلارددولتي ماموریت سره سم ددوی کورنئ وکندهارته راغلل،په کندهارښارکي دهرات دروازې سره ژوند کاوه.

خوکوم وخت چی بیا حاجي محمد انورخان اڅکزی دبولدک دلاری دکند هارپرنیولوبریالی سو.اوکندهاريې دسقاودظلم څخه وژغوری،په افغا نستان کې خپل نوی ژوند راپیل کی؛نوبیا یې دعلیجانخان لوروځان ته اودهغه کشرخوريې( ساجده )وخپل زوی محمدعلم بځرکی ته ورو غوښتل،چي البته دغه دوستي دمحمد علم بځرکی اوساجدي په خوښه او توافق سره سوې ده.چي په دې باب خدای بخښلی محمد علم بځرکی په خپل یوځانګړی یاداښت کی دخپل واده په با ب داسي لیکي :

ساجدې خپلي لومړنۍ زده کړي،ددیني علومو،قران کریم،رشید بیان ، درحمان باباشعرونه اوهمدغسي مروجه علوموسره راپیل کړې، مخکي ترواده د پوره سوادڅښتنه وه.

لکه مخکي چي یادونه وسوه،دساجدې بځرکي اودخدای بخښلي محمد علم بځرکي دژوند لومړني پړاونه ځکه ډیرسخت وه چي یوخوددغه کورنۍ مشران ټوله په سیاسي ژوندکي دومره بوخت وه چي خپل دژوند روانو پیښوته دومره متوجې نه وه لکه دهیوادوستونزوته چي متوجې وه.دغه وخت دسیاست میدان هم ډیرګرم وو،پردوی باندی دحکومت دخوا څخه هم بند یزونه لګیدلي وه ،دکورنۍ دخوا څخه هم کړاونه ورځ تروړځي ورته ډیرید له.داوخت دحاجي محمد انورخان اڅکزي ټوله کورنۍ په یوه ګډ کورکي دګنج یابي،بي هواپه کوڅه کې ژوندکاوه،باید هریوه زوی ئې دخپل ژوند دپاره خواری کښلي وای،نوځکه ولومړي ژوندته ورداخلیدل خوراډیرستنزمند وي.په ډیره بیا دغه ستنزه د خدای بخښلي ساجدې دپاره په ریښتیا لویه ستنزه وه،چی هغه دیوه ډک کورڅخه دموراوپلاردسیوری څخه یودم راجلاسوه اوپه یوه داسي کورنۍ کښیوتل چی د کورنۍ پرمسؤلیت برسیره ئې دهیواد سیاسي مسؤلیت هم پرغاړه اخیستی وو.نودغه څوستونزو دساجدې په ژوند کي یولړکړاونه راوستل .

لومړی : په یوه غټ کورکي څلورپنځه کورنیویوځای ژوند کول چي خپله یوه لویه ستنزه ده . همدغه کړاونه ئې تیر کړل.

دوهم : يود م يادلومړي ځل دپاره ساجده اومحمد علم دژوند دبقأ ده يولوی ازمايښت سره مخامخ سوه. بايد دخپل ژ،ندټوله ضرورتونه ئې خپله بشپړه کړي وای.

دريم:سياسی ژوند وو،څه وخت چي دډ موکراسۍ غوښتونکي سوه، دهيواد د چارواکود خواڅخه ترسختو شرايطواوپابند يولاندی راغله.

نوځکه وروسته ترهغه چې ئې د محمدعلم بښرکی سره واده وکړديولړ ستنزوسره مخامخ سوه،هغه داچي لکه مخکي چي ايشاره ورته وسوه.محمدعلم بښرکی يوسياسي سړی وو.اودسياست په ميدان کې دوخت دارتجاعی دولت دخوازنداني سو.دهغه دبندي کيدوعلت هم دهغه سياسي فعاليت ؤ،دوييښ زلميانو په ګوندکي دهغه لومړۍ سياسی مبارزه را پيل سوه.په دغه وخت کی پرساجدې ستونزي راغلي،ځکه کاريې نه کاوه اولکه مخکي چي يادونه وسوه، ګډ کورئې وو،اولادونه ئې کوچني وه، اقتصادي ستونزې ډيري وې.نوهغه دسردارمحمدداودخان خبره ده چي ويل به ئې:( تصميم دبری لومړی شرط دی ).نوساجدې هم تصميم ونيوه،چی بايد پرخپلوپښوودريږي.دا ځکه ميړه اوماندينه ديوه وجوددوه لاسه دي.نوکه يولاس مات سي،نوبيابايد دهغه بل لاس څخه کاروا خيستل سي.څو په پای کي دهمدغه تصميم سره سم په علي دارالمعلمين کې ځان شامل کی اوترنهم ټولګۍ پورې ئې درس ولوستۍ اودهغه وخت دايولوړډيپلوم ؤ،چي پسله همدغه منځنيوزده کړودتحصيل څخه ئې کولای سو،چی دښوونکي يا استاذ په توګه دنده ترسره کړي. ترهغه وروسته محترمه سا جده بښرکې لومړی ده زرغونه آناپه ليسه کي ددينی علوموپه برخه کي دښوونکی په توګه رسمي ښوونکې وټاکل سوه، خويوه داسی ښوونکې وه چي پرخپلودرسونوئې پوره برلاسی درلوده، ځکه ديني علوم خودپخواڅخه ددې زده وه.اوپه کښي استاذه وه،خو برسيره پردې يې دادبياتواوټولنيزوعلوموته هم مخه کړه.په نورو علوموکي هم دبشپړه صلاحيت وړوګرځيد ل.خويوه ستونزه چی په هغه وخت کي ددې دپاره موجوده وه،هغه داچی ساجده بايد پرخپل وخت ودندی ته وررسيدلې وای اود زرغونې آناليسه ددې دکوره څخه ليري وه؛نوځکه ئې بايسکل ته مخه کړه اوبا يسکل يې زده کړ.اوپه پای کې پرخپل وخت وښوونځی ته پربايسکله تلل اوراتلل.ساجده برسيره پردې چی د خپل

وخت پرښوونکواوټولګی والوباندي ډیره ګرانه وه،خوپر زده کونکوبا ندي هم ډیره ګرا نه وه.زمادخپلي لیدني له مخي ساجده، ډیره صادقه،رښتینه،دبشپړه ارادې خاونده،ښه مور، ښه خور،ښه میرمن اوښه لوروه.په څوټکوکي زما دخپلي مورخاطرات داسي راپیادیږي.

لومړی:دې به ټول عمرویل:( لکه په بد وخوړوچي میده خرابیږي، همدغسي په بدوخبروفکراوماغزه خرابیږي).نوځکه به یې دغیبت او بدوخبروڅخه ډه ډه کول.نه به یې دنوروغیبت کاوه او نه به یې دبل کوم چاه غیبت اوریده.

دوهم : دسا جدې دغه مقوله زموږپه دوستانواوکورنۍ کي نامتو ده چي دې به ویل:(زموږژوند یاداژوندلکه دفلم پرده،یوه صحنه د فلم تیریږي خوبله صحنه په نوي ډول راځي،په نوموړوصحنوکې هم تراژدي صحنه اوبرخه وي،خوځیني بیاکمیډي،تفریحي صحنې هم لري.په پای کی فلم تیریدونکی دی اودانسان ژوند هم دغسي تیریدونکی دی، یوازي لکه دژوند خاطرات چي پاته کیږي،دغسي د فلم یادونه اوخا طرات هم پاته کیږي،خوپه زړه پوري خبره داده چی هم با یدغمګینی صحنې تحمل کړل سي اوهم خو شحاله ونکي صحنې وزغمل سي.

دریم : انسانان با ید نه په لوړ حالت ډیرخوشحاله اومغروره سي او نه هم په کښته حالت خوابدی سي.چی ددې ژوري اوعلمی مقولې هد ف اومراد دادی : ( که دغریبۍ حالت وي هم باید په ورین تندي هغه غریبي قبوله کی، که څوک ډیرخان وي هم با ید ډیر مغروره نه سي.) ځکه دا دواړه حالتونه تیریدونکي دي.اوڅوک باید ترځان ولوړته ونه ګوری.بلکي؛ټول عمرترځان کښته ته وګوري.چي بیاهم په دې کي د قناعت موضوعود بحث وړده،چي خوشبختي په پیسواوماديیاتوکي نه ده: بلکي خوش بختي په قناعت کي ده اوپه قناعت کې هرڅوک ترلاسه کولای سي.

څلورم : یادونه،ساجده بښرکې اولاددوسته ډیره وه،یعني خپل اولادونه پرګران وه خو! داولادونوسره یې مخامخ محبت اومینه نه کوله،مینه یې په زړه کی وه،پردرسونویې زوراچاوه،ضرورتونه یې وربشپړه کوله اوداسي نوري مرستي یې ورسره کولې.خوپه ښکاره ئې جاراوقربان یې نه درلودله،لیکن دومره اولادونه په زړه کي پرګران وه چي حتا ځان یې تراولادو قربان کی.

پنځم : دسا جدې بڅركي دنوروځانګړنو په څنګ کي دغه ځانګړنه هم دپام وړبولم،چي هغې دښځينه ځانګړنوخلاف هيڅ وخت هم زراو زيورنه خوښول.اودزرواستعمال يې يوه خودخواهانه پيښه ګڼل،هغې خپله نه انګوشترئ درلودله اونه يې هم يوساده اميل درلود.په داسي حال کی چی دخان ميرمن هم وه.خو!! په دې عد ت کې دهغې نظرداسي وو،چي زموږټولنه يوه غريبه ټولنه ده اودډيروميرمنواوښځوپه زيوراتو زورنه رسيږي،اوکه زه دزيوراتواستعمال وکړم ممکن دايوه سوزيا ځان ځاني عمل اود ردو نکې پيښه وي.اودنورودژوند په باب هم بايد يوه اندازه فکروسي،ترڅودانسانانوپه منځ کي مساوات څرګند سي. خلکوته داسي ونه فهمول سي،چی موږشتمني لرو،خوتاسويې نه لری. نو په همدغه خاطر ټول عمرساده ګرځيده.

شپږم : اسلامي نيک عملونه يې په ځان کی ساتلي وه اوپه عمل کې هغه پولی کول، درواغ يې نه ويل ، قسمونه يې نه اخيستل .اوځان يې ترنورولوړنه فکر کاوه او نه يې څر ګندا وه.

اووم د خپل ملګری سره دژوند په باب : خدای بخښلي سا جده بڅرکې دخپل ژوند د ملګری سره وفاه داره وه.په ځانګړنوياخصوصياتوئې بلده وه،دهغه په ځانګړنوخبره وه.اودفکرملګرې وه.ټول عمربه ئې د ميړه سره صلاح اومشوره کوله،هغه ته به يې هم صلاح اومشوره ورکوله. او هميشه به يې دغه ويل: بيله د ژوند دملګري ( محمد علم بڅرکي ) څخه ژوند نه غواړم، حتا په هغه دنيا کي هم ژوند دخپل خاوند سره غواړم (ګران آغاسره).هغه ته يې د ګران آغا په نوم ويل چي نوموړی نوم دمحمد علم بڅرکی کورنئ نوم وو.دوی په ژوند کي سره ګران وه،په فکربرابر،کاميابه اودژوند ډيرښه ملګري وه.حتا که به يو کتاب خدای بخښلي بڅرکي صاحب مطالعه کاوه نوهغه کتاب به دې هم ترمطالعي لاندي نيوه.او په دواړو به يې په نوبت سره کاته.

جالبه يې دغه کيسه ده چي دخدای بخښلي محمد علم بڅرکي په ملګروکي د توجه وړګرځيدلې وه.کيسه داسي وه:هرمازديګربه ښاغلي پوهاند عبدالشکوررشادصاحب،مشهوره قانون پوه ،ليکوال اوژباړونکی عبدالاحدعارض صاحب اوزماپلارمحمد علم بڅرکي به چکرسره واهه، خويومازديګرڅه وخت چی پوهاندرشادصاحب د کورنه دباندي دچکر ږغ وکی

اوکورته رانړنوتی نومحمدعلم بښرکی ته ئي وويل:درځه چی چکروهو،خو! ګران آغا (بښرکی) ورته وويل : زه به يوځل دميرمني ښځه پو ښتنه وکړم؛ځکه هغه وويل:ته نن ناروغه يې چکرنه سې وهلای ؛نونه پوهيږم چي دچکر اجازه لرم او که نه؟ . په دې خبره يې ملګروډيرپروخندل اووې ويل:ته خپله په خپل ځان نه پوهيږې،چي دميرمني ښځه دي پوښتنه کوې؟.نوکورته راغلی اوپوښتنه يې وکړه( سا جدې جاني زه خو ناروغه نه يم ؟) هغې ورته وويل:هو! ته ناروغه يې اوذوکام يې.نن دباندی مه ځه اواسترحت وکړه.(مه ځه) بښرکی صاحب بيرته انډيوالانوته راغلی اووې ويل:زه نن چکرته نه ځم اوزه ناروغه يم.ملګرويې ډيرورته وخندل اوبيا يې زمادمورساجدې سره په خندا خبري وکړې اووې ويل:دی خپله په خپله ناروغی نه پوهيږي؟، خوزما مورپه ځواب کي ورته وويل : دی پوهيږي:خودده صلاح کاره زه يم اوموږپه هرڅه کی يودبله مشوره سره کوو.چي نوموړې کيسه ددوی دواړوښه هم طبعي يا هم فکري ښرګند وي.نوپه نتيجه کي ويلای سم،چي خدای بخښلې ساجده بښرکې زموږ دکورنۍ ښه موراوښه لارښوونکې وه،چي موږاولادوته يې د ژوند ښې لاري چاري رازده کړې اوددې دلارښوونوپربنسټ موږپه ژوندکي بريالي اوټوله اولادونه يې د لوړوزده کړوخاوندان سوه.زه په يوه داسي باشهامته،غيرتي ښځي دښځي توب په لحاظ فخرکوم ،په تيره بيا دا چي هغه زما مورده.زما دپوره وياړسبب ده.او زه دهغه د زوی ننګيالي بښرکی ښځه مننه کوم ، چي ديوې مبارزي ښځي ، ښې مورحق يې ورپر ځای کړی دی او دغه کتاب د مرحومی ساجدې په حق کي زه يوپرځای عمل ګڼم .په درناوي .

بريښنا بښرکې

مقـد مــه

## ساجده بښرکی مبارز آزادی زنـان

افغانستان کشوری است،که نهضت زنان همزمان با جنبشهای مشرو طيت آزاديخواهی وجهش های ترقی پسندانه ،به رغم موجوديت فرهنگ مرد سالارانه وذهنيت های عقب گرايانه توانسته است با فرود ها و فراز های نسبی وارد مراحل تکامل خود گردد.

در این روند زنان با شهامت درهاوحصارهای آهنین تحجرو بنیادگرایی را شکستانده و صدای خود را بلند نموده اند،تاریخ گواه است که ملالی ها،زرغونه ها،بی بی عینوها و غازی ادی ها و دهها زن پیشگام دیگر مردان را در پیکارعلیه تجاوز و استبداد بیگانه گان یاری رسانیده وبا بلند نگهداشتن بیرق عدالت خواهی مثل آهوان در سنگلاخ ها چنان میدویدند، که گویی فرشته ها از آسمان به زمین آمده ومجاهدین راه آزادی را دمبدم یاری ونیرو می بخشیدند، آب رسانی به جنگ آوران و مبارزین ملی رزم و پیکار آنان را چند برابر تقویه مینمود و آزادی خواهان از این مساعدت خواهران، مادران ودلداده گان شان چنان به شور وشعف آمدند که در هرسنگر وهر صخره وسنگلاخ دشمن متجاوز را به ضربات سهمگین مواجه ساختند.

هنگام جنگهای استقلال خواهی، انگلیسها ازتحرک وتشجیع زنان افغان در شدت جنگ ومدافعه به هراس افتاده و کوشیدند با تطمیع و اهدای پول به متنفذین قومی و روحانیون مذهبی و عناصر جاه طلب،کاری کنند که زنان را از صحنه جنگ دورنگهداشته و حصار خانه ها نمایند.یکی از نیرنگ ها در آن زمان ترویج چادری بود که زنان را از اجتماع دور مي ساخت، اما زنان شجاع و آزاده افغانستان به ادامه مبارزات شان آرام نه نشسته و در قبال مادر وطن در شهرها،روستا ها و اطراف واکناف کشور صدای دادخواهانه را بلند نموده،و دوشادوش مردان از داعیه صلح، آزادی دموکراسی و عدالت اجتماعی جانبازانه و دلیرانه دفاع نموده اند.

وضعیت ناگوارزنان، زندانی شدن زنان در زیر چادری،محصور ماندن آنها درچاردیوارخانه، بیسوادی و محکومیت و محرومیت آنها ،انگیزه ها و زمینه هایی بود که بعد ها زنان روشنفکر و تحصیلکرده را متوجه آن نمود که در فضای باز سیاسی آنزمان انجمنها و هسته های زنان را ایجاد و برای روشنگری زنان و تساوی حقوق زنان و مردان به مبارزات آگاهانه تر گام نهند.

دوستان عزیز! اکنون چند سطر مؤجز در مورد رسالهء ( ساجده بخرکی مبارز راه آزادی زنان) که توسط فرزند شاد روان ساجده، محقق محترم ننگیالی بخرکی به رشته تحریر درآمده است.این رساله در

حقیقت زیستنامه شادروان ساجده میباشدکه درکنار شناسنامه خانوا ده گی وی از فعالیت های سیاسی، اجتماعی ورو شنگری اش یادآورشده است. ساجده بخرکی یکتن از زنان آگاه ومبارز پیشگام نهضت زنان در ولایت کندهار از دهه چهل تا دهه شصت خورشیدی بود که درراه منورسازی ودفاع ازحقوق زنان،تربیت سالم فرزندان وآزادی زنان از قید چادری ورسم ورواجهای ناپسندشجاعانه رزمیده وتوانسته زنان بیشماری رادر نهضت زنان بسیج وتشویق نماید.وی درشرایطی گامهایی درراه دفاع اززنان گذاشت که هنوزنهضت زنان درولایت کندهارنسج نیافته ود ر سطح ابتدایی قرارداشت.رسالهءحاضرکه درآن حاشیه های دلچسب به وسیله آقای بخرکی غرض معرفی خانواده ، اقارب ونزدیکان شاد روان ساجده بخرکی گنجانیده ونگارش یافته است، ممکن برای خواننده ای که میخواهد در رابطه به ابعاد نهضت زنان در ولایت کندهار بیشتر بداند، سوال بر انگیز باشد، اما برای ابعاد زنده گی وزیستگاه مادر گرامی ما از زمره نیاز های مبرم بوده وبه سبک وسیاق چنین نبشته ها که در آن خاطرات همراه با حاشیه ها درج میباشد توافق دارد.

در این رساله محترم بخرکی هم دین فرزندی را بجا کرده است وهم منحیث پژوهشگر واقعبین شماری از حقایق در رابطه به نهضت زنان در ولایت کندهارراببان داشته است.خوانش این رسالهء سودمندرابه وطنداران کاوشگربه ویژه زنانی که میخواهندازچه گونه گی نسجیابی هسته های روشنگری زنان دراکناف کشور آگاهی داشته باشند. سفارش مینمایم.موفقیت مزیدمحترم ننگیالی بخرکی رادرعرصه اجتماعی و فامیلی خواهانم.

باحرمت فراوان «ناهید صد یق علومي»

## د پیل خبري

دنوموړي کتاب لیکنه اوټولنی ته وړاندي کول په همدغه وخت او زمان کی یودهغه ضرورتونود جملې څخه بولم ،چی افغان ټولنه تربل هر وخت ودغسي ریالیستیکو،مترقي بنځینه غورځنګ ته ضرورت لري.نو په همدغه خاطرلیکوال ځان مکلف ګڼي چی په همدغه وخت کی د دغسي یوه جنبش یاغورځنګ ناره اوږغ دافغانستان دخلکوترغوږونو پوری وورسوي.په

همدغه شرايطوکی چي دغه څلورلسيزي دافغانستان پرښځوباندي په تاريکوکی تيري سوې اويوبشپړه نسل مود ښووني اوروزنی څخه محرومه پا ته سو،ښځي موپه څلورديواليو کي دمذهب په نوم،درواج په نوم دخپلو حقوقوڅخه بې برخی پاته سوې. دافغانستان ټولي سيمي په ډيره بيا دپښتنوسيمي داسلامی افراطيت او القاعده په ناوړه نومونوسره ونومول سوه.اودهرډول پرمختګ څخه محرومه پاته سوه. خوپه نوموړی کتاب کی دغه ټکی ته ترټولوډيره پا ملرنه سوې ده. چی افغانان په تيره بيا پښتانه افراطيان نه دی، دتاريخ په اوږدوکې دافراطيت څخه کرکه درلودله اوددول،ډول شاته تګ او ارتجاعي مفکوروپه مقابل کې مبارزه کړيده.دا ډول بيلګي موږډيري لرو، چي هروخت چي د خارجي استعماري دولتونو سره موږ دآزادۍ په نوم بيرغ را پورته کړی دی، غربی استعماري دولتونو موږ دمذهب په نوم ټکولی اوسره بيل کړي يو.

نن ورځ بيا هم موږ دغرب دجوړسوی افراطي ډوله عقايدوښکارسوي يو. يو نسل مود سواده څخه محرومه پا ته سوی دی.او په ښځوکی خو بيخي د ګوتوپه شمارتعليم يافته (زده کړي) ښځي لرو.د لته موږ دپرمختګ په هغه حالاتوکي چی د۱۹۶۵م کال يا ۱۳۴۲هـ ش کال داساسی قانون درا منځته کيد لووروسته دښځوغورځنګ ګورو، چي په يوه ځانګړي چټګۍ سره پرمختګ کوي، موږ يې په خپل دغه کتاب کی بيلګه ايښې ده چي افغانان هغه ترقي غوښتونکي ولسونه دي،چی هيڅ وخت هم ترخپلو ګاونډوهيوادونوشاته پاته نه وه،خونن دغه مسؤليت چي موږولي وروسته پاته سوی يو؟؟.ځواب واضيح اوروښانه دی.چي په لنډه توګه موږد ځواب په باب د خارجي يرغلګرومداخلې اودبد و ګاونډ يانو بد نيت بولو،البته ددې شاته به نورعلتونه هم موجودوي، خوموږئې دډيربحث څخه ځکه ډه،ډه کوو،چی په دغه کوچنۍ يادونه کی ددې ځای نه سته،خو! د کتاب په متن کی البته دغوټکوته هم په ترځ کې ايشاره سوې ده.موږ په دغه کتاب کي دسا جدې بځرکي هغه فعاليتونه ښوولي دي، چی په خپل وخت کي په رښتيا سره دغه ګرانه خبره وه چي دښځودنهضت په نوم دي بيرغ پيروزۍ ته ورسوې. موږنړيوالواودافغانستان خلکوته په دې کتاب کي داورپه ګوته کړې ده چي دافغانستان ښځي دخپلوحقوقو څخه دفاع کولای سی.اودتاريخ په اوږدوکې خپله د فاع کړيده.زه ددې کتاب په خپرولوسره اميدواره يم چي بيابه هم دساجدې په څيرغيرتنمدی ښځي بيرغ رااخلي اود ښوونی ،روزنی په پروسه

کې، دښځودغورځنګونو ملاتړ کوي .په دغه ملي او مترقي حرکت کي برخه اخلي او دغه تشه چي نن ورځ په افغانستان کي احساس ده دابه خپله افغانان په خپلومبارزواولاسته راوړنوسره بیرته ډ که وي.زه په دې باندی پوره باورلرم چي تاریخ پرشاه نه ځي، خود فنرد حلقوپه ښیرخپل پړاونه ترسره کوي.اوددغه نن ورځي بحران دسبا دخلکو دپاره یوه بشپړه تجربیه اوزده کړه سوه، چي په اینده کی به ددغه تجریبي په درشل کی ترنوروګاوندډ وهیوادونوپه فرهنګي لحاظ افغانستان پرمختللی هیواد وي.لکه چي وایی : اوسپنه چي هرڅومره ټکول کیږي ، هغومره سختیږي او په فولادواوړي.

**ننګیالی بښرکی**



د سا جدې بښرکي ژوند او مبارزه

هغه قهرماناني چي په خپلوسربښند ونوئې په کندهارکې دښووني اوروزني دروازې پرانیستې



**په پورته عکس کي مخامخ چپه طرف ته صفیه اعمه جان،ساجده بخرکي شاه جهانه ایازی اوحاکمه جانه ښوونکې ده**

دمور مینه آرزانه او حسینه ده

هرچاه ته روښانه ترلمرسپینه ده

نوري میني هم ځانته ارزښت لري

خودا مینه هم ګرانه هم شیرینه ده

«ننګیالی بخرکی»

## په کندهارکې دښځودغورځنګ مخکښه استاذاني

دافغانستان په سیاسي اوټولنیزتاریخ کي داسي ښځي هم سته چي دهیواد په سیا سي اوټولنیزتاریخ کې د خپل وخت ترټولوغټي قرباني ورکړي دي.اوپه هیواد کې دروښنګری بیرغ اوڅراغ د خلکواوهیوادوالودپاره روښانه اورپانده ساتلی دی .

په دې کي هیڅ شک نه سته چی د نووپد ید ومنل پرزړوفکرونوباندي ستنز مند کاردی،قرباني غواړي اود قربانۍ په څنګ کی نه ستړې کید و نکې مبارزه اوحوصله په کارده.

موږدلته دهغه قهرماني مورپه باب خبري کوو،کوم چي زموږ هيوادته يې دښځوآزادي ،ښوونه اوروزنه په خپلونه ستړي کيدونکوهلوځلوسره راوړې ده.نن موږپه دغه آزادي اوتمد ن چي دآزادۍ دلاري مبارزانو راته په ميراث پرايښی دی، فخرکوو.دغسي په افغانستان کي په ګوټ،ګوټ کي دآزادۍ اوډ موکراسۍ دلاري مباريزان سته چی دهغوی په وجه نن موږډيرښوونيزلوړشخصيتونه لرو.يوله هغودرنواستاذانو دجملې څخه ميرمن سلطان بي،بي ده.نوموړي استاذي د ګرشک په ولسوالی کې د ښځودغورځنګ بيرغ وپيروزۍ ته ورساوه.اودښووني اوروزي دروازې يې دزده کونکوپرمخ خلاصي کړې.



**د کندهاردښځودغورځنګ يوه فعاله استاده ميرمن سلطان بي،بي مشهوره په (سرمعلمه صاحبه) وينی.**

چي دخپل ژوند ډيره برخه يې دښووني اوروزني په لاره کي دهيواد والودښوونيزبهير په برخه کي تيرکړی ده.

نومورې هم دافغانستان د۱۹۶۵م کال د ښځودغورځنګ يوه فعاله خد متکاره منوره استاذه وه،چی په خپل زياراوزحمت سره يې ډيرزده کونکی تربيه کړي دي.اوپه همدغه ښوونيز خد مت کې يولړستونزي هم گاللي دي،هغه دگرشک په ولسوالۍ کې دښوونکي اوسرښوونکي په توگه دښووني اوروزني دوزارت په چوکاټ کی ښوونه اوروزنه،زده کونکوته ورکول، هغه دښځو دغورځنګ يوه فعاله ميرمن وه.

ميرمن سلطان بي، بي په ځوانۍ کي کونډه سوه اود رې لوڼی يې دواده ثمره ورته پاته سوې.خو!هغې په هغه ميړانی سره دخپلواولادونوروزنه اوپالنه سرته ورسول،لکه څنگه چي ديوې افغاني ميرمني سره وړوي، دهغې اولادونه هره يوه لورئې دلوړوزده کړولرونکی وه.اوټولني ته ئې ديوه ښه اولادپه توگه تقد يم کړې.اوهری لورئې دې هيواد ته په زرهاوزده کونکي وروزل،خپل درې واړه لوڼې ئې په افغاني کلتور اوفرهنگ باندي روزلي اوټولني ته دخدمت مصدر گرځيد لي دي.

محترمه ! سلطان بي،بي خپله هم دکندهار ديوې منوري کورنۍ څخه وه پلارئې سراج الدين خان اونيکه ئې شمس الدين خان نوميده ، چي په کندهارکې دمخابراتودرياست خښته کښيښوده.اودمخابراتوپه برخه کې په خپل وخت کي دپام وړخدمتونه ترسره کړي دي. داهغه وخت دی  چی په افغانستان کي دپوست دلاري سهولتونه ډيرلږوه،خووروسته ترهغه ئې دښاغلي شمس الدين خان اوسراج الدين خان په مرسته ډير شهرت وموند.اودخلکو دسوکالۍ وړوگرځيدی،دښاغلي سراج الدين خان مينه هم دښووني اوروزنی سره خورا ډيره وه اوپه همدغه دليل ئې خپل ټول اولادونه دلوړوتحصيلاتوخاوندان کړه اوترنن ورځي پوری هريو ددې ټولني دخد متکارانوپه ډله کی يادېږي.داچي دسلطان بي،بي کورنۍ لومړنۍ کورنۍ وه چی د مخابراتوپه څانگه کې نوښتونه راوستل اوددې لاري يې ټولني ته خد مت را پيل کی،داهغه وخت دی چي دمخابراتو دنوم سره خلک نا بلده وه او مخابراتو ته ئې ډاگ ويلی، نو په همدغه دليل هم دد وی کورنۍ په کندهارکي دډا گيانو په نوم سره شهرت لري، يعنی دا هغه نامتو منوره کورنۍ وه چی په کندهارکې دډاگ خاني مډرن سيسټم رامنځته کی اودليک ليږلو،تليفوني اسانتياولاره ئې زموږپه کندهارکي د

خلکودپاره خلاصه کړه.نوسلطان بي،بي هم دهمدغه منوري کورنۍ څخه وه چي دخپلو پلرونواونیکه ګانوپرقدم ئې قدم واخیستی اودهیواددبیا آبادولودپاره ئې دښوونی اوروزني لاره خوښه کړه،دهمدغه لاري ئي لومړنی خدمت دګرشک په ولسوالي کي دښوونځۍ پرانیستل وه.چی دهیوادوالودپاره ئې دپوهنی دروازې پرا نیستلې.ومحترمي سلطان بي،بي ته په کور کي بي،بي شیرینه اعمه هم ویل کیده.دبي،بي شیریني اعمه ډیرخوښیدل چي د منوروانسانانو سره تماس او خبري اترې ولري او پر ملي مسئیلو ئې بحثونه هم خوښیدل.

«روح دې ښادوي»



**په کندهارکي دښځودغورځنګ یوفعاله ګروپ په ۱۳۳۵هـ ش کال کي چي دوخت ده ډموکراسۍ او ښوونیزسیستم دپاره یې نه ستړې کیدونکې مبارزه کړیده.**

## ساجده بڅرکې دښځو دآزادۍ دلاري مبارزه

دازادۍ دلاري مبارزه،دښځودحقوقودترلاسه کولودلاري مبارزه،پرعلم اوپوهي مینه ناکه ښوونکې وه،په کورني ژوندکي دخاونداواولادونوسره بریالۍ او کامیابه،ښوونکې اوشاعره ساجده بڅرکې دیوې مباریزي ښځي،ښې مور،ښې ښوونکي په توګه خپل ژوند دهیواد د ډ موکراسۍ اود ښځود حقونود پاره ستړی کړی دی د مورحق یې نه یوازي زما سره بلکي؛دهیواد د سولي اوآزادۍ دلاري هیوادوالوسره سته.ساجده بڅرکې تاسوته درپیژنم.ځینی خلک به یې د نوم سره اشنائي ولري. خو!ځینوخلکوته به آشنا نه وي اونه به یې پیژني.داځکه چی ددې دوران دډموکراسۍ هغه دوران وچي په افغانستان کي په ځانګړې توګه او نړۍ

کي په عامه توګه دښځوغورځنګ یوه نوې پد یده وه.په نړۍ کی دښځوګډون په تولنیزوکاروکي په اروپااوامریکاکي که څه مخکنۍ تاریخ ولری خوډیر اوږدتاریخ نه سوورته ویلای،داځکه که دافغانستان د۱۹۱۹م کال داستقلاله څخه وروسته پرافغنستان باندی یوځل بیا داستعماراوتوري ارتجاع یوه تورصفحه را غله ،خو په ډیره چټکۍ سره بیرته داستعماري برتانیا دشړلوسره وشړل سوه او دافغانستان دخاوری څخه دغه تورڅپه ووتل،بیرته په ۱۹۵۵م یا ۱۳۳۴هـ ش کال کي دسردارمحمد داودخان ده صدارت په دوران کې ډمو کراسي او ورسره دښځوآزادي را منځته سوه. چي دغه وخت دسا جدې بښرکي هم هغه دزده کړی اوپه ډیرجرئت د لڅ مخی دوران وو،نوځکه امکان سته چی اوسنی نسل خدای بخښلې ساجده بښرکې ونه پیژني.خوپه هرصورت په اروپا اوامریکا متحده ایالاتوکي هم ښځودرائي حق په ۱۹۲۰م کال داګستټ پر۲۶نیټه ترلاسه کړل سؤ.چي همدغسي ئې د پرمختګ پړاونه تیرکړه اواوس دنارینوپه څیرپه ټولنیزوکارونوکې حقوق دنارینوپه څیرټاکل سوی دي.اودنارینوپه څیردژوند په ټولوبرخوکي فعالیت لري.خوپه افغانستان کی هم ۱۹۲۱م کال دجنوری پر ۲۱نیټه د مستورات په نامه یوه دښځوښوونځی پرانیستل سوه.همدغسي ۱۹۲۱م کال یا ۱۳۰۰هـ ش کال کي دښځولومړۍ جریده د محترمي اسما په مدیریت نوموړې جریده خپره سوه.چي د محمودطرزي میرمن وه او د تحریرچاري ئې روح افزا پرغاړه درلود لې چي د محمد زمان خان لوروه.داخوهغه دوران ؤ، چي دامیرامانالله خان غازی په وخت کي ترسره سوي کړني دي.دغه وخت ویل کیږي چي دافغانستان،امریکا،انګلیستان،جاپان سویه ډیرتفاوت نه سره درلودی.



**په پورته عکس کي دساجدې مشره خور، دساجدې میره (مور) خوریی ئې (ګل آغا) لیدل کیږي.**

وروسته له همدغه دوران څخه بیا دښځوغورځنګ په کندهارکي هغه دوره راپیادوی کوم چي دساجدې بخرکی اودهغه دیوڅوتنونورو مخکښانودخواڅخه د ښځوغورځنګ پرپېښوودریدی.نوکه دافغانستان تاریخ ته وګوروهردوره ځانته دښځودغورځنګ مخکښانی لري لکه: انقلابي میرمن ملاله،چی سوربیرغ ئې وچت کړاوداستعمارپرضد ئې دملی مبارزینوملاتړاعلان کی اودغسي ترملالي مخکي اوترهغه را وروسته موږد ډیروښځونومونه یادولای سو،خودلته دغه دوران چي د ساجدې بخرکي دوخت او زمان دوران دی.زموږد بحث موضوعوده.

ساجده بخرکې په عامه توګه په افغانستان کي اوپه ځا ن ګړې توګه په کندهارکي دښځودنهضت یاغورځنګ ځښته اینونکي وه،نوموړې په کال ۱۹۲۷م کي د کندهارپه یوه علمي اومذهبي کورنۍ کي زیږیدلې ده.اودې نړۍ کې سترګي روښي کړي دي.ساجده دمحترم علیجانخان لوروه،چي په خپله سیمه یعني ښارصفاکي په بابک شهرت درلود.بابک دخپل وخت دښارصفا دولسوالۍ دتنګک اوخاتنک دکلیواو کاریزونو نامتوخان وو،خوپه کندهارکې هم مهم اونامتودولتي یاحکومتي چارواکۍ وو.چي په لومړي سرکي د محمد سرورخان ښاروال په وخت کی دښاروالۍ مرستیال وو،بیا میراب باشي،بیاپه ۱۳۳۰هـ ش

کالونوکي دسردارمحمد داود خان دولایت په وخت کي د کندهار دزراعت مدیر او مشروو.چي په پاکي اوصداقت کې ځانګړی نوم درلود.خو!دخپل صداقت په وجه دسردارمحمد داودخان دولایت په وخت کې یاوریا میرزاباشي (قلم مخصوص) سؤ.سردارمحمد داودخان د محمد علیجان خان سره ډیره مینه هم درلودله، چی ټول وخت به ئې دعلیجانخان دمجلس څخه خوند اخیستی.اووخت ناوخت به ئې د ځینومهمومو ضوعاتواوملی مسئلوپه وخت کي مشوره هم ورسره کوله.داځکه چي خدای بخښلی علیجان خان خودیوه پلوه په هغه اندازه پاک اوصادقه وو،چی بیلګه به ئې ډیرلږ پیداکیږي،دبله پلوه هغه دکندهارپه ښاراوشاه وخواکي دیوه ملي شخصیت په څیرډیرمحبوبیت درلود،ځکه د خلکو کارونه به ئې بیله کوم غرضه یاریشوته ورخلاصول.خوبله مهمه خبره لاداهم وه چي خدای بخښلی علیجانخان په یوه درنه کورنۍ پوري اړه درلودله.دخپل وخت خان اوزموږ په دغه فیوډالي ټولنه کي خان معتبره اودعزت خاوند ګڼل کیږي؛په فیوډالي ټولنه کي خانان اودخانانو اولادونه دښه سوادخاوندان هم وي اوپه همدغه سبب ددولت یا حکومت لوړپوړي چارواکي هم دغه خانان اویا هم د خانانوزامن یااوالادونه وي.نوبرسیره پردې چي علیجانخان په قوم،خلکواودلت کې بشپړه محبوبیت اومینه درلودله،خوسردارمحمدداودخان ته ئې د ښه مشاور ارزښت هم درلود.اوټول عمربه ئې ښې مشورې په دولتي اوملی مسئلوکی ورکولې.دلته موږدعلیجانخان د لوی شخصیت په با ب دخلکو دغه تاریخی غزل دبیلګې په توګه راوړ.د کندهارخلکودغه غزله دمیرزاعلیجانخان دژوند پربیلابیلوبرخوویلې ده:چی شاعرئې اوس هم معلوم نه دی خودوخت سپین ږیري نوموړې غزله په یاد لري.خود شاعردیوان هم ممکن یووخت موجود وو.چي موږته نه دی را معلوم.

## ولسي غزل

دنائب صاحب میرزا دی

نوم ئې دی علیجان خان

دی په خوی کي لوی ولي ؤ

مهربانه ؤ پرخورداوپرکلان

دنائب صاحب میرزا دی
پر کاغذ باندي قائم
که ئې نورنصیب دښه ؤ
شهنشاه به ورکي د م

کل علم ئې دعا ګوی دی
هم ئې قوم دی همد م
دنائب صاحب میرزا دی
نوم ئې دی علیجان خان

دنائب صاحب میرزادی
خدای دي ورکړي ډیر ثواب
چي ئې ځان دی ستړی کړی
په خد مت کي د خپل قا م

دنا ئب صاحب میرزا دی
نوم ئې دی علیجان خان
پرآسانه ئې کړې خدایه !
دقیامت سوال او ځواب

دی په عقل کي ډیرپوه دی
له چاه نه اخلی غیـرا ن
غټ منصب دی خدای ورکړی
نه داچاه اخلي حرام

دنائب صاحب میرزا دی

دی په اصل پو پلزی

خدمتګاره دخپل ملک دی

دښمن نه لري سړی

دنائب صاحب میرزادی

دی دخلکوخد متګار دی

کل علم ئې دعا ګوی دی

خدای دي ورکړي ډیر ثواب

لکه څنګه چي وویل سوه،دساجدې بخرکي دپلارنوم علیجانخان ؤ. خو! دنیکه نوم غلام محی الدین خان اوداکا نوم ئې عطاوﷲ خان نومیده.چی دبابک یاعلیجان خان ناسکه یامیریزی وروړؤ.چي هغوی هم د خپل وخت نا متواوپیژند ل سوي شخصیتونه ګڼل کیده.غلام محی الدین خان برسیره پردې چی خان وو،خوپه مهربانی کې نوم درلود.اوپربیوزلو باندي لاس نیوی دهغه دښوځانګړنوڅخه ؤ،چی تراوسه هم دښارصفأپه شاه وخواکې د مهربانۍ اوزړه سوي په ځانګړي صفت باندې شهرت اولوی نوم لري.( مړونه مري او نومونه یې پاتیږي) . محترمه ساجده بخرکې د مورله لوري دخروټو په توکم پوري اړه لري(موریې دکلات دخروټوڅخه وه) دمورنوم یې محترمه دلبره وه.چی هغه هم په مهرباني ښځي اومیلمه پالني سره شهرت درلود.اودیني عالمه وه.دحاجي غلام محمد خان خروټی لوروه، پلاریې دکلات دخانانوڅخه ؤ.که څه هم دمحترمي ساجدې دزیږید وځای کندهاردی،خو! دهغوی ځای اوجایدادیا شتمني په ښارصفأ ولسوالۍ کي دتنګک په کاریزکي وه.چي وسپینی ګاري ته څرمه پروت دی.دلته دوکاریزه وه اودوه کلی یې خړوبول،لکه تنګک اوخاتونک کلي.خوداهم یادولووړبولم چی خدای بخښلي علیجان خان په سپینه ګاره کي هم یوکاریزنوی پراوبوراوست،دبده مرغه ژوند وفاه ورسره ونه کړه اود کاریز کارهم په اخیرکي پاته سو..

پسله هغه چي محترم حاجي علیجانخان رسمي اودولتي دنده پریښود ل ، نوپرخپلو مځکواوجایدادیې واړوله.

چي دکندهاردهرات بازارڅخه يې خپله کډه وښاری صفاً ته خپلي پلارنۍ ميني ته يووړل،پرخپلومځکوئې کارشروع کی،چي دسپين ګاري دکاريزکارئې وروستۍ لاسته را وړني وې.

محترمه ساجده بښرکې چي په کوراودباندي ترکوريې په چيني ګلي باندي شهرت درلود، خپله کورنۍ يې ددغو کسانو څخه جوړه وه .

محترمي ساجدې دوه ورونه اودوې خوندي درلودلې.ديووروروړنوم ئې محمد حليم خان ډګروال ؤ.بل محمد سليم نوميده.اودوې خوندې ئې لرلې چي باضغه اوشافعه نوميدې.اوددې سره درې خوندي کيدې.چي دادرې سره خوندي يې په خپل وخت کي په مروجه علوموباندي ډيري ښې پوهيدې.قرآن شريف يې په معنا زده وو، دقران حافظاني هم وې.دوی ددينې علومودرسونه اودقران شريف ژباړه دخپلي کورنۍ څخه زده کړې وه.دوی درې خوندي هره يوه خورباضغه،(بي ، بي ) شافعه (بي ،بي خاله) اوخپله ساجده(چيني ګله) په پورته نومونو سره نوميدلې.دوی دروسروبيل،بيل ځانګړني درلودلې.اودوه ورڼه يې چی تردوی کوچنيان وه محمد حليم خان يې داردوصاحب منصب اوترډ ګروالی پوري يې خپله دنده دافغانستان په اردوکی ترسره کړه،خوبل وروريې محمد سليم نوميدی،چی ډيرځيرک اوپوه هلک وو،په ١٨ کلنۍ کي دهغه ناروغۍ له مخي چي ورته پيښه سوې وه ځوانيمرګ مړسو.( روح دې ښادوي) داچي محمد سليم يومهربانه اودنيکواخلاقوخاوند وو،نو!ځکه ئې خلک تراوسه پوري زيارت ته ورځي اودوعاورته کوی اودځينونارغيولکه : کالدانه ، ژړی ،دلوتبي ناروغي اونوروناروغۍ کي مراداومرسته ځيني غواړي.دمحمد سليم زيارت دښارصفاء ديوې لوی غونډۍ پرسرجوړ سوی دی. چی په خپله د ده ( محمد سليم ) په نوم يادیږي.

ځيني خلک د محمد سليم زيارت د لوی تبي دزيارت په نامه هم پيژني اودډيره ليري ځايوڅخه خلک اوولسونه ورته رامات دي.

داچي محمد سليم ته په مړينه ولس عقيده لري ،ددې خبري پوره معنا داده چي دساجدې کورنۍ يونامتومذهبي اودخپل وخت يوه عالمه کورنۍ وه چی دخلکو په زړونوکې تراوسه هم ځای لري.ددوی پلاراونيکه دخپل وخت علمان

اوپوهان تیرسوي دي،دخپل وخت په کلتوري، تربیوي اوټولنیزوبرخوکې دقدروړخدمتونه کړي دي اونامتوکورنۍ وه. ددې کورنۍ هرغړی دخپل وخت عالم اوپوهه شخصیت وو،اومشرانو به ئې په کشرانوباندي ټنګارکاوه چي دخپل وخت علوم ولولي اوټوله ددې کورنۍ که ښځه وه اوکه نرزده کړه، لیک لوست یې کولای سو. نوځکه یې په دولت کي هم کارونه کول اودولتي، ولسي نوم اونښان یې درلود ه.په همدغه سبب څه وخت چي حاجي محمد انورخان اڅکزي دکندهارښاردسقویانودزورزیاتي څخه وژغوره.اودګلستان دکلي څخه یې ژوندپه کندهارکي سو،نودښاغلي میرزامحبوب خان پرلاس یې دهمدغه کورنۍ سره پیژندلګلوي وسوه،نوموړی شناخت اوپیژند لګلوي په دوستۍ بد له سوه.اودهمدغه کورنۍ څخه یې دښاغلي علیجان خان دوې لوڼی راواده کړې.چی یوه مشره لوریې باضغه نومیده خپل ځانته را واده کړه اوبله کشرلوریې چي ساجده نومیده خپل زوی محمدعلم بښرکی ته وروادە کړه یاوغوښتل،چي ورسته تردې ددغه دوکورنیو ترمنځ اړیکی ټینګي سوې،یواوبل ته یې فرهنګي،علمي اغیزي ور ولیږد ولې .

دساجدې موراوپلارپه یوه اوږده اودتداوی څخه وتلې ناروغۍ په وسیله ( سرطان ) باندي په پرله پسې توګه اخته سوه،په پای کي په ۱۳۴۷هـ ش کال کی مړه سوه(روح دې ښادوي) اود کابل په غټه هدیره شهدای صالحن کی خاوروته وسپارل سوه.

همدغسي دساجدې مشره خورچي با ضغه نومیده دحاجي محمدانورخان اڅکزي میرمن وه یوزوی اود رې لوڼی لري.چي دنیکه مرغه په پسله ډیرعمر په تقریبي ډول ۱۱۴کاله ئې ښه وعمروکړ.اوپه کال ۲۰۱۴م یا ۱۵په شاه وخواکی وفات سوه(روح دې ښادوي).اودکانا ډاپه هیواد کي خاوروته وسپارل سوه. چي هغه برسیره پردې چي دیني علوم یې تر پایه رسولي وه،هغه دوخت مد ني علوم،فارسي بوستان اوګلیستان ، رحمان باباواداسي نورعلوم هم زده وه،د زوی نوم یې محمد کریم اڅکزی دی چي دژبو اوادبیاتود پوهنځی څخه په بریا لیتوب راوتلی دی اودهمدغه پښتوژبي دپاره یې دژوند یوه لویه برخه دپښتوژبي په استاذۍ کې خدمت اوکارکړی دی.مشره لوریې بي،بي شیرینه نومیږي چی هغه هم دښوونکي په د نده کي د خپل ژوند ډیره لویه برخه تیره کړیده ، میرمن

ملاله يې بله لورده چې د ملالۍ ښوونځۍ امره اويوه پوهه ښوونکې وه،همدغسې ستاره اڅکزۍ يې ورستۍ اوکشرۍ لوروه چې د موراوپلاردخوا څخه يې دهيوادپالني درس زده کړی ؤ،په ۱۳۵۳هـ ش کال کې د کندهارد ښځود چاروريسه،دعينو ليسې مديره،ښوونکې اوپه پای کې دکندهاردښاردښاري کميټې منتخبه استازې سوه چې دبده مرغه دادډ موکراسۍ دلاري مبارزه پر12 – 4 – 2009م کال دهيواد ددښمنانوله خو شهيده کړل سوه. روح دې ښاد وی .





**ستاره اڅکزۍ دميرمنو ټولني ريسه اودکندهار د ولايتی شورا غړې**

دسا جدې بښرکي دوهمه خورمحترمه شافعه (بي،بي خاله) وه،چې حاجانې (بي،بي خاله) ئې هم بلل.په مهربانۍ اوښوټولنيزوځانګړنوکې خوراښه اوځانګړې نوم ئې درلود.

بي،بي خاله چې په فلکلوريکودودونوډيره ښه پوهيده،په خپل وخت کې هم د مترقي خپرونو ويونکې اوهم د مذهبي اوفولکلوريکود ود ونومينه واله وه.هغه د محمد ګل نوري ملی هنداره په يا دزده وه.اوهميشه به يې لمسيانو،خوريانو،دوستانواودنقل مينه والوته د شپې ترناوخته نقلونه کول،هغه د خپل وخت يوه ډيره مهربانه اوټولنيزه موراوخاله وه،دهغې ځانګړني د کورنۍ نه بهردخلکواودوستانودپام اوستايني وړوې.بي،بي خاله (شافعه) د محترم محموداخند زاده ميرمن وه.محموداخوند زاده چې په يونانی طب کې پوره لوړلاس درلود،دخپل وخت ډيرلوی عالم اويوه مذهبي شخصيت وو.چې دوه زامن اويوه لوريې درلودله.خپله ارواح ښاده په ۱۳۶۶هـ ش کال وفات سوه(روح دې ښادوي).مرحومه حاجانۍ (بي،بي خاله) دهغه ميني له مخي چې

دښووني اوروزنی دبهیرسره یې لرله،په خپل کورکې دنجونواوهلکانودپاره مدرسه جوړه کړې وه. اوهره ورځ به په لسهاونجوني،هلکان ددوی کورته ورتلل اومذهبي ،ادبي لیکني اودرسونه به یې زده کول.دد وی کوردکندهارپه برو دروازه کي وو،چی وروسته بیا مالجات ته راغله اودخپل مشرزوی ګل اخوند زاده سره یې ژوندکاوه،هلته هم دډیره لیري ځایوڅخه نجوني اوهلکان ددرس دپاره ورته را تلل.اوله همدغه مد رسې دلاري یې لیک لوست اومذهبي درسونه زده کول.چي دشاه وخواسیمي خلک ډیرځیني خوښ وه.خپله حاجانۍ پردیني علوموبرسیره نوې اومروجه پوه هم درلوده،مرحومه حاجانۍ بي،بي دثوردناکامه انقلاب په وجه،چي دمالجات په سیمه کی حالات تربل هرځای ډیرخراب وه اودژوند امکان نورپه دغه سیمه اوکندهارکی نا ممکن سوي وه،نودخپل مشرزوی سره دکندهار څخه دپا کستان دکویټي ښارته مهاجره سوه او هلته یې ژوند ته ادامه ورکړه. په پای کي په داسي حال کي چی یوزوی اویوه لوریې په کابل کی وه اوداپه کویټه کې دګل آغا په کورکي اوسیده،دزړه دناروغۍ په سبب دمهاجرۍ په دنیا کي وفات سوه. روح دې ښاد وي .

چي دکوټی دشیخانو دکلي په یوه هد یره کي یوه د یوال ته څرمه ځای کي ابدي ګورکی خاوروته وسپارل سوه.چي تردې وروسته یې کشره خورمرحومه ساجده بڅرکې هم د لته په همدغه هد یره کي خاوروته وسپارل سوه.دمرحومې شافعي مړینه یوه غمګینه پیښه وه دهغه د د و ستانواودهغې دپلویانودپاره،دمرحومې فاتحه په کابل،کندهار،کویټه کی دهغې ددوستانوله خواواخیستل سوه.

شا عر وایی :

خړي وریځی ژاړي له پاسهٔ

کویله ړ.غ کا بیلتون له لاسهٔ

په هغه لوني ګو هر په خوله ستا

دا مــــرحبا کا زمو ږ. مـــواسهٔ

دمرحومي شافعي ژونديوبشپړه رساله اوکتاب غواړي ، خودلته مو ځکه يادونه وکړه چې د مرحومی ساجدې بښرکی ډيره مينه دخپلوخوند وسره وه،په ډيربيا د مرحومی شافعي يا بی،بي سره.اوټول عمر به يې دهغې دټولنيزوځانګړنواو پوهی په باب يادونه کوله.

**دخدای بخښلی محمد علم بښرکی دیاداښتونو څخه زما واده :**

دکوم وخت څخه چي زماپلار بازيغه واده کړه،زموږ د کورنۍ اړيکي دمرزاعليجانخان پوپلزي په کورنۍ کي پيداسوې،په دې کورکي دښاغلي موصوف بله لورچی ساجده نوميده زموږکورته کله،کله راتلل.د مشرانو دغيري مستقيم تماس په اثرزموږددواړونومونه سره ياد يد له.(ساجده به محمدعلم ته ورکوو) نوهمدغه تحريک په لوی والي کی هم زموږ دزړوداړيکوسبب سو.

وروسته تراوو۷ يااتو کالوکوم وخت چي زه په ګليستان کي وم. دځينو خپلوانو له خواوه ځينونجونوته تحريکيد لم،خو! څرنګه چي زما د زړه اړيکي دساجدې سره پخوالاټينګی سوی وې،نودپاره د دې چي دګليستان خپلوان راڅخه خوابدي نه سي،پرموضوع مې تلواروکی.اوآغا (محمد علم بښرکي خپل پلاره ته آغا ويلی) ته مي يوليک کندهارته وروا ستوی،چي په ليک کي مي خپله موافقه دساجدې سره ښودلې وه.اغاهم سمدلاسه موضوع ترعمل لاندی راوستله.اود ناوي(ساجدې) دکورنۍ موافقه ئې هم ترلاسه کړه،دحوت په مياشت کې ۱۳۲۵هـ ش کي دآغا هغه ليک هم په ګليستان کي ماته راورسيدی.اوزمادخوشحالۍ سبب سؤ.پر۲۶د حمل ۱۳۲۶هـ ش کال کي زه دآغاجان (محمد اکرم خان دمحمد علم بښرکي مشرورور) سره کندهارته راورسيد م. په دې سبا بيا بي،بي ګلي (شافيعه چي دساجدې مشرخوروه) يوه خونچه ګوشفيل وغيره راوليږل.اوپه دې بل سبا مي خواښي ببو(چي موږ ببوانا بلل) کتلوته راغله زه چي تردغه وخته تنها د نارينوسره لوی سوی ومه، دښځوخپلوي راته عجبه وه،ددوی مناسبات ،ددوی پرډول خبری مې هيڅ نه وې زده.ټوله کورزما ودې وحشت ته خوراحيران وه.پر۳دثور ۱۳۲۶هـ ش کال زما داړيکولومړۍ شپه وه چي د محجوبيت اووحشت په سبب خوراد رنه راباندي تيره سوه.پر۲۱دجوزا ۱۳۲۶هـ ش کال مې واده وسو.دواده دمعموله سره سم،په ولسي شکل داځکزوواده وو.چي په تقريبي ډول ۱۵۰

اڅکزوځواناوګډون په کښي کړی وو.خورازورور اتنونه،ټکان اوغیړي وایستل سوې.والي محمد یونس خان هم دغه واده ته راغلی وو.چي داشرافیت اوفیوډالي ټولني دځانګړنونماینده ګي ئې کوله.برسیره پرنوموړواڅکزوپه زرهاوښاریانوپه واده کي شتون درلودی. که څه هم په د ومره لګښت یا مصرف،شان وشوکت واده کول مااوآغانه غوښتل ،اغا نظردرلود چي لس زره افغانۍ به دساجدې په نوم په بانک کي جمعه کړم.اوخسرمي هم یوځل خوښه کړه،خو وروسته پښیمانه سو.اوواده ئې په طمطراق ډول راباندي وکی.چي دواده مصرف اته زره افغانۍ سوې.چي واده په وسو.

اونورشیان چي اغارا کړي دي:درې غالۍ،چي مجموعه قیمت ئې دوه زره افغانۍ وو،یورخت خواب ،چی قیمت ئې درې سوه افغانۍ وو، یوه مسی دست شوی،یوبکس،دوې کمبلي،درې سوه افغانۍ،یوه جوړبنارسۍ کالي،یومیزاومیزپوښ،چي دخپل وخت قیمتی توکي وه.خسرمي ولورنه دی اخیستی ،خوزرافغانۍ ئې د لومړۍ شپې (دنکرزوشپې) دمصرف دپاره داغا څخه واخیستې.اوهمدغسي شپږزره افغانۍ ئې دساجدې په نوم په شرکت وطن کي ورداخلی کړې.چي څلورزره نورئې ډول،ډول مصارف سوه.پورته مصارف زما دکورد جوړولودپاره بیخی لږوه.دغه وخت زمااقتصادي وضعه خوراضعیفه وه.دګلیستان څخه مي ۴۰۰ کالداری راوړي وې چي ۱۶۰۰ افغانۍ سوې.اوهم آغا یوځومیاشتي ۵۰ افغانۍ دمیاشتي راکولې.چی دغه مبلغ زماد کورکمبودنه سوپوره کولای اوسخت پریشانه وم.نوپه ۱۱ـ ۳ ـ ۱۳۲۷هـ ش کي مي سمدلاسه په ډیپوکي د میاشتي په ۴۰۰ افغانیومعاش،۳۰ماکولات مجموعه ۴۳۰ باندی کارراپیل کی.دغه وخت دکورشرایط هم وړاومناسب نه وه،سم داوسید وځای هم نه ؤ.دغه وخت مي مشکیلات ډیروه،وژوند ته په یوازي سرورایله سوم.دلته مي د موردکمبوداحساس وکی.یوتیلتک مودرلودی چی پوښ ئې دخیمې دټوکروو.یوتیلتک چي مومؤقت اخیستی وو،هغه هم بیرته (دمحمدکریم مور) بي،بي راڅخه واخیستی،اویودګذاری تیلتک مودننه اودباندي استعمالوی.ځوببو(زما خواښي ) یوه نالیچکه دخپل کورڅخه راولیږله.نوموړد کمبلی څخه پر نا لیچه سو.اغا هم څه خاصه توجونه راته درلودله،داسی معلومیده لکه مورچي مومیره سوې وی.اوپلارراته پلند رسوی وي. په دغه


شپوکي چي ترټولوراته مهربانه وه،هغه زماخوښنینه بی،بی شافیعه (بی،بی ګله)وه.چی د دې همدردي اوښه وضعه به مي هیره نه سي.

دلومړۍ تحفې په ډول چي ماميرمني (چني ګلي یا ساجدې ) ته دواده مخکي ورکړې ده،هغه یوه سیښه عطر،یودستمال اویوهم دغاښوکریم ،نغدی سل افغانی،یولیپ سټیک می ورکړی ؤ.

دواده په لومړیووختوکې څرنګه چي اقتصادی توان مي نه درلوداو همیشه به مي اعصاب په شکنجه کی وه،نوځکه پرډیرمعمولي،معمولی خبروخوابدی کید م.یوه ورځ ددوبتي پرسرچی نه جوړیده دومره نفس تنګی سوم،چی نژدې وو، چی کورپرېږد م، خوبیرته می ځان کنترول کی.دا خبره باید دلته هیره نه کړو.چي زما دموراودشیریني خاله (چي وروسته اغاوغوښتل ،هغه هم د محمد علم بڅرکی خاله کیده.) هرڅه زیوراونورقیمتي اجناس چي موجود وه هغه هم زماترلاسه راونه رسیدل.ماته چی د موردلاس نخښي راورسیدې هغه یوه هنداره د کتلو اویوصند وق دکالووو.اوبس



**ساجده بڅرکې دخپلودواولادون په منځ کي زمری محقق،بریښنا بڅرکي**



**زمريالی بښرکی په ۱۳۵۸هـ ش کال کې**



**دساجدې بښرکي ميره نانی انا،خوريی فضل الله وروړئې محمد حليم**



## په کند هار کي دښځو دغورځنګ مخکښاني

## سا جدې په با ب ځوځبري

د ساجدې په باب؛چې ترنورروخوند وکشره وه دخپلې کورنی دروحې سره سم په د يني علوموکې د پوره ليا قت خاونده وه.دقران شريف حافظه اوتفسيرکونکې وه.نوپه همدغه وجه په فارسي ژبه اوليک لوست هم په بشپړه توګه پوهيدل. قد ري شريفه يي زده وه اوياسين يې پياد کړی وو.دامخکي له دې چې ښوونځی ولولي يا په ساينسي مضمونونو کي زده کړه وکړي،دا مخکي لاپه ليک، لوست باندي ډيره ښه پوهيده. چې کورنيوزده کړوپوره ګټه وررسولې وه.ساجده مخکي له دې چې واده وکي،په ديني علومو، فولکلوريکوزده کړوکې نوم اونښان درلودی، پرمسجدي علوموباندي حاکمه وه.ساجده پرخپلو مشرانو،قوم ،شاه وخوا خلکو،سيميزومشرانوباندي ډيره ګرانه وه.اوديوې عالمي ياپوهي په سترګه ورته کتل کيده،هغې دمورسره د کورپه چاروکي هم مرسته کول، نوپه همدغه دليل مورهم دهغه څخه خوښ اوخوشحاله وه، هميشه به يې دوعاوی ورته کولې.اودهغوی دوعاوي ورسره مل وې.دلته مور دساجدې دمورخبره ياد وچی وایی:(ساجده دخپلونيکواخلاقوپه لرلو پرماګرانه ده،هيڅ وخت يې زه نه يم آزارکړې، ددې تولړه مينه د کتاب اوزده کړي سره وه.) داهغه خبره وه چې ما د خپلې انا څخه اوريدلې ده.ساجده دخپل وخت منوره اوروښانفکره،استاذه پيغله وه،دې مخکي له هغه چې واده وکي هم يې شاګردان اوزده کونکي درلود له.

که سا جدې دپلارپه کورکی دعلم اوپوهي کارپيل کړی وو، خودژوند په دابل پړاوکې يعني پسله واده ئې دهغه څخه ګټه واخيستل.او په همدغه ډول يې دژوند

په بيلا بيلو پړاونوکې دلومړيومذهبي زده کړوځخه ګټه واخيسته اونورېې هم ددغه دزده کړي لړۍ جارى وساتل.لکه څنګه چې مي مخکي هم وويل؛سا جدې په ۱۳۲۶هـ ش کال کی ديوې بلي منوري کورنۍ سره دژوند تړون لاس ليک کړ.چې دحاجي محمدانورخان اڅکزی دزوی محمد علم بځرکی سره يې واده وکی.

سا جده په دغه پړاوکی هم په بشپړه توګه وځليد ل، ښه ميرمن سوه ،ښه مورسوه اودوخت دنوو،پديد وسره مخامخ اوپه نوي فکرونوسره يې دښځودآزادۍ، دموکراسۍ دپاره مبارزه راپيل کړه.اوپه خپله هم دنوښت غوښتونکې اونوي انقلابي تغيرات په کښي راڅرګند سوه.که ديوه پلوه دساجدې په ژوند کي نوي فکرونه راڅرګند سوه؛ خودبله پلوه يې ستونزي اوکړاونه هم ډيرسوه.په دې کي شک نه سته چي دنوښت ګرو اوسياسي خلکو،انسانانوژوندهميشه دکړاونوسره لاس اوګريوان وي. ځکه زړې پديدې هميشه دمقاومت او مزاحمت په حالت کی وي.خودې هغه وخت دا مبارزه را پيل کړه ؛ کوم چي دا په دې وپوهيدل،چې ټولنه بيله دښځواونارينودیوګډ ټولنيزژونداوپه ټولنيزکارکی دګډون نه پرته پر مختګ نه سي کولای.

نووروسته له هغه چي دکند هارد لرګيوپه ګنج کي د بي، بي هواپه کوڅه کي په يوه غټ کورکي په ډيروغټواوشانداره دودونويا مراسيمو سره راواده سوه.نودژوند کړاونه يې پسله واده څخه را پيل سوه.کشکي هروخت انسان آرام وای،کشکي آرزو ګاني دژوند دکاروان سره يوځای منزل ته رسيدلای سوای،کشکي دانسانانوترمنځ وفاه اودوروروليۍ انساني ځانګړني وای.اوکشکي ارمان زده زړونه په مرادرسيدای، خودا ټوله ارمانونه دي.آرمانونه په زړوکي دي،خوسياسي خلک بيا دآرمانونودبشپړه کولودپاره مبارزه اوهڅي کوي، څودا‌ارمانونه ترسره کړي.هغه وخت چي پيغلي ساجدې اوځوان محمد علم بځرکي واده سره وکی.داوخت ستونزمندوخت اودوران وو،داهغه وخت دی چي په نړۍ واله کچه نوي د د موکراسۍ پلوشې خپرې اوقانون دټولنيزژوند تګ لاره ګڼل کيده، خلک وقانون ته ليواله وه.اونوي ځوانان په دې وخت کی دقانون غوښتونکي دي اودهمدغه مبارزې پربنسټ دمشروطه خواهانواوويښ زلميانوخبري کيږي.په نړيواله کچه هم نورداستعمار پرضدداستقلال اوخپلواکۍ

جنبشونه ورځ ترورځي زوراخلي،دډموکرا سی پرلوري ملي ازادي بخښونکي جنبشونه ګامونه اخلي اومبارزه دامپرياليزم د زور زياتې سره ويوه لوړپړاوته رسيدلې ده.نوافغانستان هم يودهغوهيوادودجملې څخه وو، چي دډموکراسۍ دپاره سيا سي حلقې ورځ تربلي ورځي دټنګيد وپه حالات کي وه،نوی ګوندونه دجوړيدوپه تکل کی وه،منظمي روښنفکری حلقې جوړي سوي وې،چي دهغو دجملې څخه دويښ زلميانو ګوند،دوطن ګوند،دبيلګې په توګه يادولای سو.په دې ګوندکي دهيواددېره برخه منورين راټول سوي وه،چی دملي مبارزې،قانون اودموکراسۍ بيرغ يې پورته کړ.په دې ګوندکي دساجدې د خسرخيلودکورمشران لکه:حاجی محمد انورخان اڅکزی چی دهمدغه ګونددښته ايښونکودجملې څخه وو،يونامتوخان اوپيژندل سوی، منور سياسي شخصيت وو.چی پخوايي لادانګريزانوداستعماراودسقاوي د دورې دستم په مقابل کي سرښند نه کړې وه.ددې ګوند دمنورينوملګری سواودهغه زوی محمدعلم بڅرکی چی دخپل پلارد ملي مبارزو پلوی و، دساجدې بڅرکي سره يوځای دويښ زلميانو دګوند ملګري سوه.دوی د مبارزينوپه ليکه کي خپل ځانونه وملي او ډموکراټيکي مبارزې ته چمتو کړه،ډيرلږ وخت وروسته ترواده دويښ زلميانومبارزې پردولتي حاکم قدرت باندي دوحم اوبيري لړزونکې تبه راوستل، شاهي دولت په هيواد کي دمنورينو په نيولو پيل وکی.

دښاغلي مديرصاحب جيلاني خان چي دويښ زلميانودمخکښانو دجملې څخه وو،په قول:( حاجي محمد انور خان اڅکزی او محمد علم بڅرکی په ۱۳۳۲هـ ش کال په څلورنيم کاله بند محکوم او بنديخانې ته وليږدول سوه) يعني دساجدې خاوند اوخسرچي په عيني حال کي دساجدې اخښی هم کيده معنا داچي هم ئې خسروو.اوهم ئې خوربی،بي باضيغه دحاجي محمد انورخان اڅکزي ميرمن وه.دواړه بنديان سوه.په داسي شرايطو کی دکوردوه مهم کسان بنديخانې ته وليږدول سول،خامخادژوند ستنزي را پيداکيږي،خوساجدې بڅرکي اودهغه خورباضيغې دغه ستنزوته اوږه ورکړه،پرځانونوئې خوارئ تيري کړې،خودمبارزې همت ئې دلاسه ورنه کړ،په دغه هيوادپالنه کي ددوی دواړو مبارزه دخپلومړونوسره دستايني وړوه.



**په پورته عکس کي بريښنا بڅرکې اودهغې بايسکل،ساجده بڅرکې،زمری محقق،زمريالی بڅرکی،ننګيالی بڅرکی .**

**په لاندي عکس کي دمرحومي سا جدې خورباضيغه اوورورئې مرحوم محمد حليم خان دي.**



## دواده څخه ورسته دساجدې دژوند ستونزې

لکه څنګه چي مومخکي هم اشاره ورته وکړه چي دواده نوي کلونه هم دساجدې دپاره ځکه ستونزمندوه،چی دهغه خاونداوخسردواړه ګډ دسیاست پرمیدان ولاړوه،هغوی پرسیاسي ډ ګر پيژندل سوي لوړ شخصیتونه وه.نوځکه دسیاست په کړاونوکي هم دخطرپه لومړۍ لیکه کي راغلل.دلته نه یوازي دساجدې خاوند محمدعلم بڅرکی بلکي؛دهغې خسرحاجي محمد انورخان اڅکزی چي په همدغه وخت کي دسا جدې اخښی یعني د خورخاوندهم کیده اودهمدغه کورنۍ مشروو،دویښ زلمیانوپه نوم ونیول سوه، یوه نامعلومه ځای ته واستول سوه،چي ترډیره وخته یې درک هم نه ومعلوم،کورنۍ پسي سرګردانه وه اوداهغه وخت دی، چي دساجدې دوه اولاده لکه: زمری محقق اوبریښنا بڅرکي پیداسوي وه اوننګیالی بڅرکی دپلاردبندي کید ونه یوڅه وخت وروسته دې نړۍ ته په داسي حال کي سترګي روڼي کړې چي یوازې موردخپلواولادونوروزنه کوله. نو په دې کي شک نه شته چي دسا جدې اودهغه دکورنۍ ستونزي ډیري سوې.دا دکندهارپه هغو شرایطوکي چي ښځي ترمذهبي اوکلتوري فشارلاندي وې،دیوې ځواني ښځي دپاره ډیره سخته وه چي دد رواولادونوسرپرستي دي په غاړه واخلي؛لیکن سا جدې داسرپرستي په ډیره میړانه وکړه.دسا جدې خپله وینا ده چي ویل یې: ( دډیرواقتصادي ستونزو سره سره چي په دې وخت کې لاس او ګریوان وم،دغلووحم اوبیره هم هرشیبه په ځانګړې توګه دشپې له پلوه راسره وه.په دې وخت کي دپیسونشته والی،دسوداراوړلو(غذایی موادورانیولوستونزه، یوازی والی اونور...) . لیکن بیا هم سا جدې شپه اوورځ پرځان یوه کړې وه؛خپله به یې په کورکي خولی،دخامک ډول،ډول څیزونه،دګلابتونوڅخه دښځودکالیوګنډل،دګلابتونوکلکی خولۍ جوړولې اوداسي نورلاسي کارونه به یې هم ورسره کوله.اودخپلواو لادونوپه روزنه کې پوره پاملرنه کوله،خودژوند شرایط دومره غریبانه وه چي وخت ناوخت به یې خپل اولادونه په تش دیګ سره هم خطا ایستله،چي هیڅ هم نه وه.داخوپه هرصورت دایوسیا سي ژوند وو، پرهرسیاسي انسان راغلی دی نو به خامخا پردې هم دغه ژوند تیرسوي وي. حتا داسي وخت لا هم را غلی دی چي اولادنو به یې ژړل اوویل به یې:« موږ ښورواغواړو»دهمسایه په کورکي به ښوروایاپه اصطلاح کتوباندي

وه.خوهغه به يې په تهد يد سره ارامولهٔ،زه فکرکوم چې دايوازي دساجدې نه ؛ بلکي دټولو ښتني ميرمنو ځانګړتيا ده چي دخپل ځان اوخپلي کورنۍ پت اوعزت ساتي.که څه هم په افغانستان کي د ظا هرشاه په دوران کي دالومړني سيا سي بنديان دي چی نيول کيږي.دلته دخلکودپاره دا سوال يا پوښتنه طرحه وه چي ويل به يې:(موږنه پوهيږوچی ولي دغسي تعليم يافته يا ښونيزخلک اوخانان ولي بنديانيږي ؟، بنديان خوهميشه دکښته طبقې خلک،هغه خلک چی غلاوی کوي بنديانيږي،خوداخلک!پوه اوهوښيارخلک دي، دغه پوښتنه دخلکوپه مغزووکي ګرځيده اوراګرځيده.)نودلته آوازه داسي وه چي دوی دحکومت ګرم اوتوردي. نودوی به بيا هيڅکله هم نه راخوشي کيږي. چاه به ويل:(دوی دحکومت يا غيان اوباغيان دي،نودوی به ترابده بنديان وي.)اوداسي نورتعبيرونه موجودوه.حتاد مرحوم محمد علم بځرکي دخولې وينا ده چي ويل يې :( ډيرونژدودوستانوهم دبيري په خا طراړيکی راسره وشکولې.)خوځينوباغيرته ملګرواوانډيوالانوبه بيا دومره سرښندنه لرله چی نه يوازي دا چي دبنديانوملګروپوښتنه اوخدمت به يې کاوه؛بلکي:دهغوی کوروته به يې هم د ضرورت وړځيزونه ياشيان اوسامانونه،دبازاره سوداونورلازم کومکونه به يې کوله.داټول هغه ستونزي اوتکليفونه وه، چي په پرله پسې توګه پرسا جدې اوددې پرکورنۍ باندي تيريدل.پسله هغه چی محمدعلم بځرکی دبنديخانې څخه خلاص سو، دايوه طبعي خبره ده چي پسله څلورنيم کاله بند څخه په صحت او تندروستي کې هم څه نه پا تيږي.ناروغه سوی ؤ. په پرله پسې توګه يې ناروغۍ تيري کړې وې .

پسله هغه چی مرحوم محمد علم بځرکی دبنديخانې خلاص سونويې دسا جدې سره خپله صلاح اومشوره شريکه کړه،دوی دواړه پردې وګروهيدل چی پسله دې بايد خپله سا جده ددې توان اوقدرت پيدا کي ، چی په هيواد کي دنارينو په څيرپه ټولنه کي خد مت اوکاروکړي.په داسي شرايطوکي چي ديوه پلوه به يې ماشومان ياکوچنيان روزل خودبله پلوبه يې دښوونځيودرسونه لوستل اوتعقيبول،چي په ډيرو کړاونوسره په دې وتوانيده چي نوي درسونه لکه : کيميا ، بيا لوژي ، حساب اوالجبر،هندسه،فزيک،تاريخ جغرافيه،انګليسي اونورپه ښوونه اوروزه پوري اړوند درسونه يې زده اوتعقيب کړه.

په دې وخت کي مرحومي ساجدې پرڅان باندي شپه اوورځ يوه کړې وه.اودرسونه به يې لوستل،ترڅوپه يوه اندازه نووعلمي درسونواو ميتودونو با ندي هم وپوهيدل، نو بيا يې سمدلاسه دښووني اوروزني ( ښوونځی ) ته مخه کړه ترڅو ډيپلوم يې ترلاسه کړ. دا هغه وخت دی چي نوي معلمانوته ضرورت موجودؤ.په ځانګړې توګه ښځينه ښوونکو ته ،داهغه وخت دی چي په کندهارکي دښځونهضت په صفرکي ولاړدی اوموږپه کندهارکي نه ښځينه ښوونکي لرواونه هم دښځودپاره بشپړه ښوونځی،خوبياهم داهغه حالات د ي چی لومړنی ښځي په کندهارکي په لڅ مخ راوزي اوپه ټولنه کي ځانته کارپيدا کوي. ښوونی اوروزني ته مخه کوي. په دې وخت کي چاه نه سوای کولای چی خپلي ميرمني يا لوڼي ښوونځی ته وليږي،که څه هم ددولت لخوادښځودآزادئ ږغ پورته سوی وو،دښځونهضت راپيل سوی وو،خوپه کابل کی دغه نهضت ترولاياتو پياوړی غوندی وو.خوپه کندهارکي دښځولومړی نهضت همدغه ګروپ ښځي وې چی لومړی يې جرئت وکی اوډيرلږکورنئ په لومړي سرکي دهمدغه غورځنګ سره ملګري سوې ،خوپه دي کي شک نه شته چي په وروسته کي دښځوغورځنګ هم په کندهارکي دومره پياوړی سوچي که ترکابل ډيرنه وو،خوترهغه په ځينوبرخوکی لږ هم نه وو، دبيلګې په توګه دښځودبايسکل چلولورواج په هغه پيمانه سره دودسوچي دافغانستان په سطحه ئې مثال يا بيلګه نه ليدل کيده.

ساجده اوددې لومړی ګروپ دښځودآزادئ په لومړي قطارکی وې، چي دنوروښځواونجونودپاره يې دازمينه برابره کړه،چي راووزي ځانونه دعلم په وسله سمبال کړي.خوپه دې وخت کي دښوونکودومره کمبود موجودووچي خپله ساجده هم زده کونکې وه اوهم ښوونکې وه؛داځکه! چی لکه مخکي چي مي وويل هغه دپلارپه کورکی هم په فارسي اوپښتوژبوپوهيده.ولسي زده کړي يې کړې وې.خوپه ديني علوموکې دښوونکي په توګه دنده ترسره کوله.همدغسي په ټولوټولګيوکي په لوړه درجه بريالئ کيده.اودد وکلنو په شاه وخوا کې د متوسطې يا نهم ټولګئ شهادت نامه يا علمي سندهم ترلاسه کړ.اوپه رسمي توګه دښوونکي په توګه خدمت کولوته وګمارل سوه.اوس نوچی پردنده دښوونکي په توګه وګمارل سوه نو! په دې کي شک نه شته چي نوريې هم مسؤليت ډيرسو.دا ځکه چي په دې وخت کي مرحومه سا جده درې زامن او يوه لورلري.زامن يې

اوسنی زمری محقق – ننګیالی بښرکی اومرحوم زمریالی بښرکی وو.خولوریې یوازي بریښنا بښرکې وه.زمریا لی په دې وخت کي ډیروړوکی دی.اوښوونځی ته لانه دی داخل سوی،خودغه نوراولادونه یې دښوونځی په کښته ټولګیوکي درس وایی،نوپه دې وخت کي مرحومه ساجده هم خپل درسونه اوهم دزده کونکودرسونه اوهم دخپلواولادونودرسونه تعقیبوي،خودکورکارهم ورسره کوي.په دې وخت کي ساجدې که به د یوه پلواوړه میشه کول،خودبله پلوه به دانګلیسي کتاب هم وښنګ ته پروت ؤ،انګلیسي لغاتونه به یې زده کول او یا به یې تاریخ اوجغرافیه په یادوله .

سا جده په کندهارکي دهغولومړیوښځودجملې څخه وه چي دښځودآزادۍ بیرغ یې اوچت کی اوددې په اصطلاح(دغلامۍ کڅوړه یې وغورځول) لځ مخ راووتل، نوداخبره هرچاته ترلمرروښانه ده چي دغسي خدمت او کارکول د کندهارپه هغه شرایطو کي ګران کاروو.اوس هم سخت کاردی.خوداچي پرمرحومي ساجدې به څومره ستونزي تیري سوي وي،دازموږ په دغه لنډه کتاب اومضمون کي نه ځایږي.خودومره زما په یاد دي چي ترښوونځی اوکوره پوري به د بګۍ ( دآس ګاډۍ ) په وسیله په داسي حال کي تلل اورا تلل چي یابه زموږ ناظرعبدالله جان کاکوورسره ملګری ؤ،یابه هم مرحوم محمد علم بښرکي ترښوونځی پوري ورسره تلی اورا تلی، خوپه وروسته کي دسرویس په وسیله چي هغه هم ستونرمند کار وو،بیا یې بایسکل زده کی او تګ ، را تګ یې دبایسکل په وسیله ترښوونځی پوري کاوه.

پردغه ټولو خبروبرسیره ترښوونځی پوري تګ اورا تګ ګران او ستونزمند کاروو.داځکه چی د کندهار یو لږناپوهو خلکوهمیشه د نوؤ پدیدوسره مقاومت ښرګنداوه، خو نوموړی مقاومت اوټینګارترهغه وخته پوری ؤ، چی ترڅوددوی سترګي دښځودنوي غورځنګ سره بلد یده، په کندهارکي دملایانواوحکومت ترمنځ یوځل ډیره سخته نښته هم وسوه ، چی په ۱۳۳۹هـ ش کال کي په کندهار کې یوه لویه بلواملایانو وکړه،دښځوپرښوونځی یې حمله وکړه،پرسینما یې حمله وکړه،خودنیکه مرغه دغه ارتجاعي عمل اوبلوا ډیرژرردماتي سره مخامخ سؤ.اوبلوا چیان یا مړه سوه او یا هم دزندانونو وکوټوته ورټیل وهل سوه،خو بیا یې هم په یوه اندازه اغیزي پاته وې.په کوڅوکي چي به څه وخت سا جده

تیریدله،نوبه دکوچنیانوپه وسیله دبري پسي غورځول کیدې، ښکنځل به ورته کیده ،سا جدې بځرکي دغه ټوله ستونزي وګاللي،خو! په پای کې په دې باندي بريالۍ سوه چی دښځودآزادی،ښووني اوروزني غورځنګ پیاوړی کي .وروسته هغه کسانو چی پردې به ئې مخکي انتقادونه نیوله دهغوی کورني هم دښووني اوروزني وبهیراوغورځنګ ته مخه کړه،چي دنیکه مرغه نراوښځې تعلیم یافته اوښوونیزي سوې.سا جدې به همیشه ویل :( هره نوې پوهه چي واقیعت وي عملي کول يې په ټولنه کې بیله سربښندني نه سي کیدای،زه پوهیږم چي دښځو غورځنګ چي دااوس نوی را پورته سوی دي ،ځوان دی .په همدغه وخت کي دښځواو پیغلانو څخه سربښندنه او قرباني غواړي).

په رښتیاهم په کندهارکي برسیره پردې چي ددې اوددې دملګرومقاومت مات نه سو،بلکي په ډیرلږوخت کي دکندهارکوڅواوبازاروته نوموړی غورځنګ ورداخل کړل سو.اوپه لسهاو،بیاپه سلهاوښځي نوري هم دښوونځی پرلوری روانی سوې.چي په وروسته کې تعدادتردغه لاهم ډیرسو.اواندازه ئې وزرهاوته ورسیده.داپه دې چي ساجدې به همیشه هغه قد مونه چي دټولنیزژوند په ګټه وه دبریالیتوب ترسرحده به يې مبارزه ورسره کوله.سا جدې دهیوادپالني په لاره کي،دهیڅ ډول انتقاد ،مخالفت اوستونزوپروا نه کوله،نوځکه بریالۍ هم وه.لکه مخکي چي وویل سوه دسا جدې لومړۍ دنده دکندهاردزرغونې اناپه لیسه کي وه، هغه دکوره څخه لیري وه.نوداودې ته مجبوره سوه چي بایسکل زده کړي اودبا یسکل په وسیله ترښوونځی پوري ځان ورسوي.خودا خبر هم دیادولووړګنم ، چی باید وویل سي : په کندهار کي دیوې ښځي دپاره هغه هم لومړۍ ښځه چي بایسکل زده کوي داکارستونزمندکاربولم،هغه به عید ګاه دروازې اودعید ګاه میداني ته تلل او هلته به يې بایسکل زده کاوه،چي په دې با ب دهغه خاوند مرحوم محمدعلم بځرکي ډیره مرسته ورسره کوله او نه ستړې کیدونکې مبارزه يې په دې لاره کې وکړه.خو څه وخت چې بایسکل هم زده سواو د ښوونځی خواته به روانه وه،نوبه یاغوځارسوې وه اویا به يې نورخلک یعني لاره ویان په بایسکله وهلي وه،کله به د با یسکل څخه لوید لې وه ، زخمي سوې به وه همدغسي ډیري ستونزي يې په تګ اورا تګ کي ګاللي دي.خواراده ئې ترپایه ضعیفه نه سوه.داچي مرحومي ساجدې هرڅومره ستونزي تیري کړي دي،خوهغه دهغه وخت شرایط وه.ولي! داوخت ساجدې ته ښه معلومه وه

چي څومره ستونزمند کارته يې مخه کړې ده.اوبرياليتوب يې بيا په دې کي دی،چي وروسته تردغه ستونزوپه کندهارکي دنوروکورنيودپاره هم دغه لاره هواره کړه سوه،چي خپل اولادونه اودکورنجوني،ښځي دبا يسکل په وسيله ښوونځی ته ورواستوي.نودغه لاره خلاصه سوه.داپه دې چی کندهارښارپه هغه وخت کي منظم ترانسپورټ دښاری سرويسانوهم نه درلود.اوهغه کسان چي کورونه يې دښوونځی څخه ليري وه دهغودپاره بايسکل يوه ښه وسيله سوه . په دې وخت کی حتا داسي سوه چي دکندهارډيري نجوني پربايسکل ښوونځی ته تللې،چی دبايسکل دودترټوله افغانستان په کندهارکي هم لومړی را پيل سواوهم ترنوروولايتونوپه کندهارکي ښځي دبايسکل چلوونکي ډيري وې،چي په وروسته کی نومونړی دودنوروولايتونوهم راپيل کی په ځانګړې توګه کندهارته نژدې ولايتونه.خوپه لومړي قطارکي ساجده بڅرکې ددې غورځنګ لومړۍ ښځه وه. دې په دې لاره کي ترحد ډيرکړاونه ليدلي دي،چی که په تفصيل بحث پروسي نوموضوع دکتاب ترحده اوږديږي، چي ممکن په اينده کی زه ددې پرژونديا هم نورليکولان ددې پرژوند کتاب هم وليکي.

محترمي سا جدې بڅرکي نه يوازي په کندهاربلکي؛ دافغانستان په ګوت ، ګوټ کې دندی تر سره کړي دی . چي مور به يې په لنډه توګه يادونه وکړو.

**لومړی:** په زرغونه انا ليسه کي : څرنګه چي نومونړې ښوونځی يوه اندازه ليري وه نو يې ځان د ملالۍ ښونځي ته را تبد يل کړ.بيا دعينوپه متوسطه کې دښوونکي په توګه ئې د نده ترسره کوله،چي وروسته بيا عينومتوسطه کي ښوونکې سوه،چی دنيکه مرغه بيا په وروسته کي هغه هم ليسه سوه .دښوونکي په توګه پردندي ګمارل سوې ده.

خوکله چي مرحوم محمدعلم بڅرکی دکندهارڅخه کابل ته تبديل او داطلاعات اوکلتورپه وزارت کې،دپښتودپرمختيامديروټاکل سو،نودهغه څخه وروسته ساجده اودهغې کورنۍ هم کابل ته ورتبديل سوه.ژوند ئې په کابل کي را پيل سو.اوپه يوه نوي چاپيريال کي سا جده اوکورنۍ يې سره راټول سوه،داوخت مرحوم محمدعلم بڅرکي دخيرخانې په پنجشيرواټ په سيمه کي يودکرائې کورونيوه،هلته دځای پرځای کيدونه وروسته مرحومه سا جده بيا د کابل دښارڅخه په يوه وتلې سيمه کي چي قلعه مرادبيګ نوميده هلته دهمدغه سيمي

په ليسه مرادبيګ کي دښوونکي په حيث وټاکل سوه.ترډيره وخته په قلعه مرادبيګ په ليسه کې ددیني علوموپه څانګه اودپښتوداستازي په توګه دنده ترسره کړه، خودلاري دليري والي په سبب دهمدغه ځايه څخه يې ځان دکابل ښارته راتبديل کی، چي نوموړی مکتب دکارته پروان په سيمه کي ددورخانۍ دښوونځی په نامه يادیدله اوددورخانی ښوونځی په دغه وخت کي يوه متوسطه ښوونځی وه.

مرحومي ساجدې چي هرځای دنده ترسره کړيده هلته يې نيکي خاطرې هم پريښي دي.اودهغه سيموخلکوودې عالمي استاذي ته په درنه سترګه کتل،حتاتردغه حده...څه وخت چي د مرحومي ساجدې مرور(ناهید بښرکې) پسله لس کاله وروسته د قلعه مرادبيګ په ليسه کي دپښتو داستاذي په توګه دنده ترسره کول ،نوخلکو د مرحومي سا جدې دښواو نيکواخلاقواوعدتونوستاينه کوله اویونيک نوم يې پرايښی وو،چي مرورېې هم فخرپه کاوه،سا جدې په ښوونه اوروزنه کې ديوه اوږد مهال ياوخت دپاره کاروکړ،هغه په ښوونه اوروزنه کي ديوه ډیرتجربيه لرونکي استاذپه توګه دنده ترسره کړيده او په زرهاو زده کونکي يې روزلي او پاللي دي.

د مرحومی ساجدې بښرکی د خد مت د پيل نيټه « د ۱۳۳۸ هـ ش څخه پيل اوبيا تر ۱۳۶۰هـ ش پوري وه».ساجده پرخپلوزده کونکوباندي ګرانه وه اوښې خاطرې ځيني لري،دمرحومی شاګردان چی کله،ناکله زموږسره مخامخ کيږي نوزموږدمورښې خاطرې را ته بيا نو ي دهغې مقولې وای اوخپله ښوونکې په درناوي سره يادوي.

سا جدې په خپل ژوندکي خوراډيري ملګري اوانډيوالاني درلودلې چی نوموړي انډيوالانې نه يوازي په خپله کورنۍ کي وه.بلکي؛دکورنی څخه بهرهم هغې خپل دوستان،محبوب کسان،دزړه درازملګری ئې درلوده.دساجدې ډیرنژدې ملګري په کورنۍ کې يوه دهغه دخاوند دورورميرمن (يور) چي اصل نوم يې ګلثمه وو ، خوپه کورکې بيا نوم دل جانه بلل .اوبل هم دهغه(ند رور) نورجهانه وه ،چی په قندي ګلي يې شهرت درلودی،په کورکې هغه کسان وه چي د مرحومي سا جدې دزړه رازورسره مل وو.هغه هم اوس زموږسره نه سته ( روح دې ښادوي).

خودکورڅخه دباندې هم دوستاني درلودلې ، چې يولړيې دښوونځيوپه شاه وخواکي هغه مسلکي ښوونکي وې،چې دکورنه بهرد مرحومي ساجدې اړيکي ورسره وې.لکه :شهيده صفيه اعمه جانه ، چې دژوند تروروستي وخته يې په کندهارکي دښځودغورځنګ سره مرسته کوله او د۲۰۰۱م کال څخه وروسته چې دطالبانوحکومت نسکوره سوه ، نو مرحومه صفيه اعمه جانه په کندهارکي دولايتي شوراغړې وه او دطالبانودخواشهيده کړل سوه.(روح دې ښادوي)،استاذ شاه جهانه دمرحوم ايازي صاحب خانمه وه.داهغه ميرمن وه چې دساجدې سره يوځای دښځودغورځنګ ملاتړې سوې وه.همدغسي ځيني هغه ميرمني چې دمرحوم محمدعلم بښرکي سره په يوه سنګرکي ولاړوه خودهغوکورنيوهم د مرحوم محمدعلم بښرکی دکورنۍ سره دتګ اورا تګ اړيکي درلودلې اوميرمني يې يودبله سره دوستاني وې.لکه دمرحوم محمد هاشم ميوندوال ميرمن ،داعلامه عبدالشکوررشاد ميرمن ، دخواخوږي صاحب ميرمن ،دانګارصا حب ميرمن،اعلامه عبد الحي حبيبي صاحب ميرمن اوداسي نورکسان چې دسنګرانډيوالان هم وه.اوپه خپلوکې دورنيوپه څيرانډيوالي اومينه سره درلوده،همدغسي يې يودبله کورني مناسبات اواړيکي هم سا تلې.

سا جده نه يوازی يوه استاذه وه بلکي؛ هغه شاعره،سيا ست پوه اودقلم په څوکه دمبارزې قهرمانه ميرمن وه.

دساجدې يولړمضمونونه په طلوع افغان کي خپاره سوي دي. همدغه رازيې په يولړسيمنارو،کنفرانسونواوفرهنګي غونډوکی ويناوي اورولي دي.هغې سياسي فکرهم دهيواد پالني پالی،د خپل وخت په سياسي پيښو خبره اودسياست په ډګرکی فعاله وه.،خپل دژوند د ملکري محمدعلم بښرکي سره يې په سياسي اوټولنيزوبرخوکي ملګرتوب کاوه په هغه وخت کی چې مرحوم محمد علم بښرکی دمساوات دګوند منشي اودمرحوم محمد هاشم ميوندوال صاحب مرستيال وو،نوپه همدغه وخت کي ساجده بښرکې هم دګوند يوه فعاله غړې وه اودښځوپه برخه کې دپام وړفعاليتونه کړي دي.چې دمساوات دګوند دښځودچارومسؤله خدای بخښلې ګلثمه وه .چی مخکي مودساجدې ديوې ښې ملګري په توګه بحث پروکړ، نوری ښځي دمساوات دښځودمشرتابه هيئت په

رأس كط دميوندوال صاحب خانمه،سا جده بښرکې اوداسي نوري فعاله ښځې دښځوپه مشرتابه هيئت کی غړيتوب درلود.

دمرحومي سا جدې بښرکي ټولنيز،سياسي فعاليتونه په داسي حال کي ترسره کيده،چي په کورنيوچارواودکورپه کارونوکي هم هيڅ ډول کمبود نه احساسيده.په داسي حال کي چي ددوی کوربه هميشه دميلمنو ځخه ډ ک وو.لکه چي ځرګنده ده چي مرحوم محمدعلم بښرکی، يوټولنيز،سياسي ځوک وو، نويې تل د مجلس خلک دافغانستان منورين پرځان را چاپيره کړي وه اوهميشه به دد وی په کورکي دمسؤليته ډک مجلسونه اوسياسي خبري مطرحه کيدې.خوپه دې کي هم شک نه سته چي مرحومي سا جدې بښرکي هم دخپل ژوند ملګری وسياست اوهيوادپالنی ته هڅاوه.سا جدې به هميشه دخپل سيا ست لاره داسي ښوول: «موږ غواړوچی په افغانستان کي پرمختګ اودهرنوع ستم څخه يوخلاص افغانستان جوړکړو،خودا ميتوديوازې دخلکودارادې سره سم جوړيدای سي نه دزوراوتاوتريخوالي په وسيله، موږپه افغانستان کی تدريجي تکامل اوپرمختګ په داسي ډول غواړوچي ديوه پړاوبرياليتوب سره بل قدم اوپړاودبرياليتوهم دپامه نه غورځو، دبيلګې په توګه ؛که مونن ډ موکراسي اودښځوآزادي په نصيب سوې ده اودا هم دويښ زلميان دپراخومبارزوپه سبب موږ دغه پړاود بريا ليتوب ته رسيدلي يو،خوسبا به بل پړاود برياليتوب هم زموږ په نصيب وي ) .

زه فکرکوم چی دمرحومي ساجدې مرادبه د تدريجي پيشرفت يا پړاوپرپړاوپرمختګ څخه دخلکو دذهنونواماده کول يا ذهني شرايط په نظرکي نيول وه.خوپه هرصورت دهغې دهيوادپالني ملي احساس دومره لوړوو، چي خپل دژوند ملګری يې هميشه ودې ته هڅوی،چی موږ بايد دملت ږغ اوچت کړواود پرمختګ په لاره کي سربښند نه وکړو.دغه هيوادپالنه ترهغه وخت په يوه منظم ډول اوحرکت سره سا جدې بښرکي ترسره کاوه کوم چي په افغانستان کي ددې شرايط موجودوه اودګوندو نواوسياسي فعاليت دپاره د۱۳۴۳هـ ش کال دقانون پربنسټ خلکوته داوخت ورکړل سوی وو،کوم چي دهغه پربنسټ ګوندونه منځته راغلل.خووروسته له هغه چي ګوندونه غيري قانوني اعلان سوه،په ټولنه کي يوګوندي سيستم را منځته سو،اودسردامحمدداودخان په قلابي

يا تش په نامه جمهوريت کي سياسي فعاليتونه غيري قانوني اعلان سوه ، مرحوم ميوندوال په زندان کي ووژل سو.اوترهغه وروسته بيا دثورناکامه انقلاب دخلکوړ.غونه تربل هروخت ورخاموشه اوچپ کړه، بې شماره سياسي اوټولنيزخلک اومشران يې ووژل،دلته هرنوع غور ځنګونه خاموشه سوه.خوترهغه وخته چي دسياسي ،ټولنيزفعاليت زمينه برابره وه،نودساجدې رول هم دهيوادپه کچه روښانه اوجوت وو، خوورروسته چي بيا دنورمحمد ترکي په مشرتابه خلقيانو د قدرت واګي ترلاسه کړې؛ نوبيا دغه ددې خپله خبره ده چي ويل يې: «که خلقيان يا انقلابيون دولسوونودغوښتني سره سم ګام واخلي نوخلک اموړ.به يې هم ملاتړوکړو.خو!که د ولس زړه ونه ساتی نودابياکوړ.باردی اوکوړ.بارترمنزله نه رسيږ.ي»؛ دا هغه خبره وه چي په کټ مټ ډول ما دلته دهغې دخبروڅخه را نقل کړې ده.اواوس موږ.دهغې خبري عملي بڼه هم په خپلو سترګووينو.

په دې وخت کي حالت ورځ تربلي ورځي د بد بختئ لوري ته روان وه، يوازي هغه کسانوچي سلا حوي يې درلودلې هغوی يوه اندازه مسؤن وه يا مسؤون ژوندئې د رلودی؛خو!نوردټولوخلکوژونددیوه خطر اوتهديد سره ملګری وو.بيا! په وروسته کي ددې اورلمبې نوري هم لوړي اواوچتي سوې.اوساحه دسوځلوېې پراخه سوه،دجنګ اوردومره تيزسوچي وچ اولانده يې دواړه سوځل.دافغانستان په ګوټ،ګوټ کي پرښوونيزوبنسټونوحملې وسوې.اوجنګ دتضادويوې بلي مرحلې يا پړاوته وليږ.دول سو.دا وخت دوه نظره اودوه مرکزه وه .

**لومړی:**يونظراومرکزدافغانستان د مجاهدينوۀ،هغه مرکزپه پاکستان کي ۀ.اوټوله غربي نړئ يې دامريکا په مشرتابه شاته ولاړه وه،پا کستان چي دافغانستان سره سرحدي اوسياسي ستونزه دېخوا څخه لادرلودله ؛ داوخت ورته غنيمت سو.اود خپلو۴۶زرومد رسو طالبان يې دنړيوال پنډميتاليزم ياعربي افراطيت سره ملګري کړل اودعربوشيخانوپه وتيز ملا تړيې د قاضي حسين احمد اومولانا فضل رحمان ترلارښوني لاندې دافغانانو څخه ډول،ډول ګوندونه جوړکړه .چي مرکزيې دپاکستان اسلام آباد وټاکه.چي البته دچاروکنترول دوخت دای .اس .ای ترلارښوني لاندي کيده.نود لته پاکستان چی د جوړيد

ودوخته څخه دافغانستان سره سياسي اودجيوپولتيکوسرحداتوپرسراختلافات درلودله دغه وخت ئې غنيمت وګاڼه اودافغانستان پرضد ئې ډيردښمنانه کارونه دافغانستان دايخوانيانوپه وسيله ترسره کړه،په دې د ښمنانه عملونوکی يوهم دښوونکووژل کيده وه.اود مکتبونوسوځل اوتړل کيده وه، په ټوليزډول ئې فرهنګی بنسټونه دمذهب اوجهادترنامه لاندی دمنځه يوول،خو په بله مرحله ياپړاوکې اقتصادي بنسټونه لکه دلويولاروتړل اودمنځه وړل، پلونه د بمونوپه وسيله سره د منځه وړل اوتجارتي مالونه لوټول هغه کارونه وه،چی افغانستان ئې د پرمختګ څخه وغورځاوه.اوخپله ئې دهمدغه لاری څخه په بيلنونوډالره دتنظيمونوپرسردامريکا،ناټواوغربي ، عربي هيوادونو څخه ترلاسه کړه.

**دوهم:** نظريامرکزچي په افغانستان کي وو،دروسانويادوخت داتحادی جماهيري شوروي په مستقيمه حمايه اوملاتړسره جوړسوی وو،اوټوله نظامي پکټ(وارسا)يې هم وشاه ته ولاړه وه،دغه دوه غټ نظامی قدرتونه سره جنګيده حتاترهغه حده چي روسانوپرافغانستان باندي يرغل وکی.اودافغانستان دخلک ډموکراټيک ګوند مشرحفيظ الله امين يې وواژه،خوببرک کارمل يې هيواد ته دټانک اونظامي توان په زوررا ننه ايستی.که څه هم دغه دروسانو سخته اشتباه وه، ځکه دوی ددې پرځای چی نظامي مداخله وکي ،دوی کولاسو ، چي دافغانستان ملی او ډموکرا ټيک قوتونه ئې سره متحد کړي وای اوديوې متحدی جبهې په جوړولو سره ئې دولس ملاتړهم ترلاسه کړی وای.د بده مرغه دوی دخلک ډموکراټيک ګوند دمرامنامې په خلاف نه يوازي داچی ملی او ډموکراټيکه جبهه ئې جوړه نه کړه اويوګوندی ديکتاتوري ئې پرافغان سترملت وترپله،حتاديوه متحد ګوند دجوړيدوتلاښ ئې هم ونه کړ.ګوندی اختلافات د خلک اوپرچم ترمنځ يودبله دتروراواختناق سبب هم سوه.او برسيره پردې په خلکيانوکې هم فرکسينونه جوړکړه.اوپه پرچميانوکې هم دننه ګروپونه اوفرکسينونه جوړکړه.چی داکاردګوندوسالمی را هبری ته سخت تاوان ورساوه.اودهيوادملی اوډموکراټيک قوتونه هم مايوه سه سوه اوخپل تاريخی دښمن پاکستان ته ئې دمجبوريت پراساس پناه ورووړل اوهغه بيا ددغه افغاني قوت څخه دځان په ګټه ډيري ګټي ترلاسه کړې،چي ترننه پوري افغانان ځوروي اوغيری بشري کړنی تر سره کوي.

خو!بیاهم دیادولووړده چي نورنودافغانستان ستونزي دومره ډیري سوې چي داخلي قوتونوونه کولای سو،چي په خپلومټوافغانستان ته نجات ورکي اونه چاه کولای سوچي بیله خارجي ملاتړڅخه دي په خپله خاوره کي سیاسي اوټولنزکټورفعالیت ترسره کي.

په دې وخت کي ساجدې دواړوقد رتونوته دانتقاد ګوته نیولې وه،داهغه وخت دی چي دهیوادپه دننه کي دخلقیانودډموکراتیک ګوندڅخه خلک بیخي ډیرپه تنګ سوي وه.اودهیوادنه بهریې دځانونود پاره ځای لټوه. خلک سخت په ویره کي وه اودهیواد نه بهر پاکستان ،ایران اونورو هیوادونوته یې مخه کړې وه.که څه هم سا جدې ترډیره وخته داسي فکرکاوه چي ممکن یوافغاني داخلي قوت په افغانستان کې پیداسي اودې حالت ته دپای ټکی کښیږدي.تریوه وخته دساجدې په نظرکی هم دا سي وه (داجنګ دهیوادیوداخلي جنګ دی ممکن دخبرواوپوهوي دلاري افغانان په خپلوکي داستونزه حل کي.) ترهغه وخته چي روسان پرافغانستان باندی حمله کوي،ساجدې هم دافکرکوی چی دلته یوه داخلي ستونزه ده اوپه دې وخت کي دتفاهم یاخبرولاره دافغانانوپه منځ کی غوره ګڼي.اودامید په فکرکي ورته ناسته وه،لیکن څه وخت چي دخلک ډموکرا ټیک ګوندله و یناله مخی یوه نوې مرحله راغله اودقدرت واګی دببرک کارمل په مشرۍ دپرچم وګروپ ته وروړسیدې، حفیظ الله امین دخلقیانووروستۍ جمهورریس په قتل ورسیدی،ببرک کارمل د تاشکند څخه خپل ږغ پورته کړ،شوروي قواوي هیوادته راداخلي سوې؛نو د لته سا جدې هم خپل فکراوتصمیم یوپلوته واړاوه.اوځانته یې دافغانستان څخه وپاکستان ته دفرارلاره خوښه کړه.

دلته لکه څنګه چي مومخکي هم خبري پروکړې،نه یوازي داخلي قوتونه چي یوه طرف یې اسلام خپله کړنلاره ګڼل اوداسلام په شعارونوئې خلک خطأ ایستل،خودابله برخه چی مرکزیې په کابل کي وو، هغوی بیادسوسیالیزم اودکارګري ډموکراسۍ اوکارګري ایډیالوژۍ په نوم خلک پرځان راټولول اوخطأایستل ئې.ددوی دواړوشاه ته نړیوال ملاتړموجودوو.نوځکه په دغه وخت کي دغه جنګ نه یوازي داخلي بڼه درلودله بلکي یونړیوال کشمکش اوخطرناکه جنګ وو،چی په نتیجه کې افغانستان بد بخته سو.دهیواد څخه خلک ووتل،دهیوادسرمایه دافغانستان څخه وګاونډیو هیوادوته نقل سوه، تجارت

ودريدی،سرحدات پرتجارتي مالونواوراکړی ورکړي باندی بند کړل سوه،هر څه په ټپه ودريدل.دهيوادڅخه هوښياراومنورخلک هم فرارته مجبوره سوه، دښوونی اوروزنی بهيرپه هيوادکي په سل کي ۳۰ فيصده سو.يعنی اوياسلنه دمنځه ولاړی،يوازپه غټوښارونوکي ډيرلږخلک په بيره اووهم سره ښوونځۍ ته تلل.جنګ اود پاکستان دخواڅخه راليږل سوي مجاهد ين دومره قوی کړل سوه چي ټوله غټ ښارونه ئې دنژدوڅخه په را کيټونوويشتلای سوای.پرغټوښارونودراکيټوبارانونوډيربيګناه اوناتوانه ولس وواژه .دلته هرڅه دخلک ډموکرا ټيک ګوند خپله د لاسه ورکړه، ځکه :هغوی پرداخلی قوتونوتکيه نه کول اوټوله تکيه ئې پراتحاد جماهيری شوروی باندی درلودله،داخلی قوتونواوخلکوته ئې هيڅ ارزښت هم نه ورکاوه يوازی ئې په تشوخبرواوتبلغاتويادخادپه ظالمانه کړنوسره خطايستل او بيروله.نوځکه خلکوته يوازنۍ لاره د فراروه.

د لته دساجدې بځرکي ستونزي هم دنوروافغانانوپه څيرخوراډيري اود يوه سرګردانه حالت سره لاس په ګريوان سوه ځکه،ديوه پلوه خويې کورونه،باغونه،مځکی اوجايداددلاسه ورکړه،خودبله پلوه ئې په پاکستان کې هم کوراوټاټوبی نه درلود.اولکه څنګه چې دخلک ډموکراټيک ګوند سره اودهغوی دافراط سره ئې فکري تضاددرلودهم دغسي يې دجهادي ګروپونودافراطي اسلام سره هم فکري تضاد درلود.ځکه،مرحومی ساجدې هرنوع افراط ته د نفرت په سترګه کتل،خودمجبوريت په سبب پا کستان ته ولاړه اوهلته يې د قوم،دوستانوپه منځ کی دګليستان په يوه سمسوره سيمه کي دغربت شپې اوورځي سبا کولې،که څه هم دغه وټيزي يااقتصادي ستونزو،بدحالت ددې ژوند نه ؤورناآرامه کړی،هغه څه چې دخدای بخښلي ساجدې د ژوند دناآرامۍ سبب سو؛هغه دهغې دکورني پاشل کيده وه،دهيوادورانيده وه.اوپه دې باب فکرکول وه.خوپه دې وخت کي دسا جدې درې زامن اويوه لورپه افغانستان کي پاته سوه چي زامنويې کابل ته پناه يووړه،خولوريې برښنا بځرکي بيادخپل خاوند سره په کندهارکي پاته سوه.نوداوخت دخدای بخښلي ستونزي نوري هم داولادونوپه ليري والي سره ډيري سوې،خوبياهم هغه وخت چي دهغه مرحوم خاوند محمد علم بځرکی پا کستان ته ولاړاوسا جده يې هم دځانه سره بوتله،نودزامنوسره يې دليک په وسيله اړيکي ټنګی کړې، خوداوخت څه نوروخت هم تيرسواوپه

افغانستان کي دپرچمیانوپه دوران کي هم کوم دپام وړتغیررانه غلی، نوساجدې بیا تصمیم ونیوه، چي کابل ته راسي اودغه ستونزه چی کورنۍ سره راټوله کي.ځکه یودبله ضرورت سره لري اوخپل زامن په دې باندي قانع کړي چی هغه هم پا کستان ته پناه یوسي،نوکابل ته بیرته په ډیروکړاونوسره راغلل . او هلته داوخت دهغه زامن دکابل په خیرخانه مینه کي اوسیدل اووټیز حالت یې هم سم نه وو، یوازي روزوګذ ران یې کاوه (ځکه دهغه زامن هم په خلک یاپرچم په ګروپونوکي شامل نه وه)، نوسا جدې بښرکي ډیرکوښښ وکړ،چی هغوی په دې قانع کړي چي دپا کستان پرلوردځان دساتني تکل وکي دهغې خپلي خبري په لنډه توګه دلته موږ راوړوهغې ویل:« خلک اوپرچم دواړه دیوې سیکې مخ اوشاه دي.نوربل کوم دپام وړتفاوت نه لري،دوی پرداخلي قوتونوحساب اوتکیه نه کوي،د لته ستاسورول هیڅ هم نه دی».خوپرډیروخبروبرسیره هم زامنویي دپاکستان لاره خوښه نه کړه،دلته په رښتیاهم داستړې اوسرګردانه سوه.خو!داپه دغه سرګرداني کي وه،چی په همدغه وخت کي کشرزوی زمریالی بښرکی دکابل په ښارکي لاد رکه سو،هغه ترماښامه لادرکه و.ماښام دهغه په لټه پسي ټوله کورنۍ،خپلوان،دوستان ګرځیده،خوټوله شپه تیره سوه اوهلک پیدا نه سو.داوخت مرحوم زمریالی د۱۷یا ۱۸ کالوپه شاه وخواکي وو.اودغه عمردعسکرۍ ؤ.نوځکه دیولړدوستانو نظرداسي ؤ.چي! ممکن هغه یې دعسکرۍ دندي ته دتلاښۍ قطعې بیولی وي، نوپه همدغه سبب ټول عسکري دتلاشۍ اړوندځایونه هم ولټول سوه؛خو!هغه پیدا نه سو.ناڅاپه زمریالی ورک سو؟.خو!مر حومی ساجدې دښځینه اصولو خلاف ډیرلږدپیښوپه وخت کي ژړله اواوښکې تویولې،خوداځل یې!ایاپه دغوورځوکې اوښکي ډیري توئیدې، ژړایې ډیره کوله اوښکې بې اختیاره بهیدې دوستانوبه تسلیت ورکاوه، چي زمریالی پیداکیږي،خودې تسلیت نه قبلاوه،هرچاه به ویل ممکن زمریالی به دعسکري قطعې سره وي؟یابه تلاشي پوستې نیولی وي؟خودې هغه نه منل ؛لکه چي دې ته معلومیده،چی زمریالی بیا موږنه سولیدای.دا دهغې خبري دي چي ویل به یې: «زمریالی په عذاب دی، هغه په یوه تورتیاره کي دی،تاسي هغه بل ځای مه لټوی، زمریالی دمرګ په حالت کي دی، خوتاسې اوس هغه پیداکی،زمریالی اوس موږته سخت ضرورت لري.»په رښتیا هم پسله هغه چي دکابل ټول مسؤل ارګانونه دزمریالي دپیدا کید

وپه لټه کی وه،زمريالی پسله ۲۴ساعتونوڅخه دکابل دخيرخانې په يوه څاه کي چې دپنجشيرواڼ يې باله لوئيد لی اوپه حق رسيدلی وو.

روح دې ښادوي.اودخدای بخښلي زمريالي مړی دخيرخانې دغره په لمن کی خاوروته وسپارل سو.هغه وخت دلته دروسانوعسکري ګزمې اوقرارګاوي هم وې،خود لټه يوه عمومي هد يره هم وه.د مرحوم زمريالي دم ړيني څخه وروسته سا جده بيرته کندهارته مايوسه ولاړه، خوپه همدغه زخمی زړه دارمانونوڅخه ډ ک زړه د کندهارڅخه دپاکستان اوکوټې پرلورروانه سوه.



**زمريالی بڅرکی په پنځمه ټولګی کي**

دمهاجرت په دې ستړي دوران کي برسيره پردې چې دهيوادڅخه ليري سوه اوپه پردي هيوادکي دمصيبت حالتونه پرراغله، خو داولادوليري والی هم ورسره مل سو،نوپه دې کي شک نسته چې ډيربه ستونزمنداوګران کاروو،خوهغې دغه بدحالتونه پرځان اوزړه تيرولـه، داولادو اودهيوادڅخه دليري والي انديښنې دواړه سره مل سوې ،هميشه به يې په خپله کورنۍ کي فکرونه وهله ، خوهغه دغم پرکمبله دزوی په سبب کښيناسته،هرلحظه يې زمريالی يادوی اوپريشانيوډيره ځوروله .داچې زمريالی دساجدې وروستی اونازولی زوی دهغې ومخ ته مړسواوعلت يې هم ترنن ورځې پوري معلوم هم نه سو،خوداغم يوازی پرساجدې نه بلکي؛پرټوله کهول اودوستانوباندی سايه اچولې وه،په ډيره بياپرخدای بخښلي محمدعلم بڅرکي باندي.ده زمريالي د مړيني څخه لاڅووختـه ياڅومياشتي نه وې تيري سوی،چی بيادغم پرکمبله ټوله

دوستان په پا شلي ډول څوک په کابل اوڅوک هم په کندهاراوپاکستان کي وه،کښيناسته اوخبرخپورسوچي د برښناخاوند ضيا والدين چي دمرحومي ساجدې اومرحوم محمدعلم بڅرکي زوم کيده،هغه هم دمجاهد ينوسره په مخامخ جګړه کي شهيد سو. «روح دې ښادوي»



**خدای بخښلي ساجده بڅرکي د خپل ګران زوم شهيد ضياوالدين په څنګ کي**

شهيد ضياوالد ين «پيوستون» د۳۲کالوپه عمرشهيد کړل سو،هغه دخپل واده ثمره دوه اولادونه چي اميداوهيله نوميده په ميراث پريښوده.اوپه دې وخت کې هيله د۳۰يا ۴۰شپووه خو!اميد په دغه وخت کي ممکن ددوکالوپه عمرو،چي دهغه دوه اولاده دځواني خانمي سره پرميدان پا ته سوه، شهيد ضياوالدين نه يوازی پرخپلي کورنی ډيرګران وو،بلکي؛ پرټولنه اوخپلوهمکارانوډيرګران وو،هغه درادارودقطعې سياسي امروو، خوترټولوبيا پرخپلي خواښي اوخسرباندي داولاد په څيرګران وو،چي دهغه ځوانمرګ مړينه هم يوه نه جبرا کيدونکې غميزه وه،دهغه مړينه پرمرحومي ساجدې بڅرکي باندي دومره سخت ګزاروکی چي هغه نه زغميدونکی غم وو.اوساجده يې دزړه په ناروغي سمدلاسه اخته کړه،دغمونواندازه اوفشارونه نورهم پرډيرسوه،چي سمدلاسه دزړه ناروغي په کښي څرګنده سوه.اوسمدلاسه دد کتوراوروغتون ترمسلسل اعلاج لاندي راغله.دلته ستونزي دخطرويوه حد ته ورسيدې چی دژوند هغه ترخې ورځي اوشپې ورته ويلای سو.يوپلوخوناروغي نوره هم ډيره

سوه،دهیوادځخه لیري والی،داولادونونشته والی،اقتصادي ناتوانمندي،دټولنیزوآرمانونوڅخه د ژوندپه چاروکي محرومه کیدل، کړاونه نورهم ډیرکړه، خووروسته مرحوم محمد علم بځرکی مجبورسو چي دخپل جایدادیوه برخه دانګوروباغ په لږڅه قیمت وپلوري،څودلته یواندازه دژوندکولوامکانات ترلاسه کړي.پسله هغه چی دکندهار دتیموریانوپه سیمه کي خپل باغ اومځکه وپلورل،نوبې دپاکستان په دغه لیري اوناآرامه سیمه ګلیستان کي یوه مځکه دخپلوتربرونواودخدای بخښلي دخاله د زوی محمدنادرخان اڅکزی څخه ترلاسه کړه.اوپرهغه یې په خپلومټواولاسونوکارراپیل کړ،هغه یې اباد کړه.اویوکوریې پرجوړکړ.خودبده مرغه بیاهم دسا جدې ژوند آرام پاته نه سو.اوپه نوموړي ناآرامه سیمه کي داڅکزودتوکم یا قوم ترمنځ د( آی اس آی ) په دستوراودسیسه سره داڅکزودقوم ترمنځ چي غبیزي اڅکزي او حمیدزي اڅکزي وه یوغیري عدلانه اودقوم دتباهی جنګ سره ونښت ، جنګ دراکیټ او درنووسایلوپه ذریعه را پیل سو،ډیرخطرناکه جنګ وو،یودبله دغه یوه قوم دومرکسان سره ووژل،چاه به فکرکاوه چی دوه دولته اودوه مخالف طرفونه سره جنګیږي.که څه هم مرحوم محمدعلم بځرکی ته دواړوخواوډیراحترام کاوه اودواړوخواودهغه په ساتنه کي پاملرنه کول اودیوه ملي شخصیت اومشرپه توګه یې ورته کتل؛خو ړانده راکیټونه اودجنګ په سیمه کی ژوندکول هم ګران کاروو، مرحوم محمدعلم بځرکي ډیرکوښښ وکړچي نوموړی جنګ چي بیله وروروژني څخه بل څه نه وه ارام کی اوسوله یې په منځ کی وکي، خودبده مرغه دجنګ ریښې ډیري ژوري اودپاکستان دحکومت په دستوردغه جنګ پیل سوی وو،دهیڅ یوه مشرزورپه دې نه رسیدی چی ددغه جنګ داورلمبې دي خاموشه کي.په دې جنګ کی برسیره پرانساني تلفاتونورډیرتاوانونه هم ورسیدل.کلی وران سو،کلاوي ونړیدې،یودبل کورونه چوراوچپاول سوه،نوموړی جنګ هم دافغانستان ترجنګ په کمه نه وو،دډیرنژدې څخه یوپربل دراکیټ پیرونه کیده.نوپه دغه حالت کی دسا جدې پرناروغی برسیره دغه بله ستونزه هم ورډیره سوه، هغه زحمتونه چی دوی په دغه کورکي کښلي وه،یوځل بیا دخاوروسره برابرسوه،نوچاره نه وه،دکوټي پرلوري یې دتګ نیت وکی،کویټي ته راغلل، هلته دمرحوم محمد علم بځرکي دترېروپه کورکي،چي

دشیخانوپه کلي کې موقیعت درلودځای پرځای سوه.دلته دمرحومی سا جدې دپاره دغه دوه پرابلمه یا ناخوالی وې چي دایې ډیره نارامه کړې وه.

**لومړی :** په هغه کورکی چی داوسید له هغه دختواوخاشوڅخه داسي جوړسوی وو،چی انساني ژوند هلته ډیرګران کاروو،نوکه به دې په خونه کي دننه دخوني چت ته وکتل دآسمان روښنایي دي لیدلای سوای.اوکه به چیري باران وسونوخونه به خامخادابوڅخه لندیده،دادهغه چاه دپاره چي په افغانستان کې ښه ژوند،جایداداوکورونه درلودله، نور کسان یې په خپلوکورونوکي په کرایه اچولي وه اوګاونډیان یې درلودله ، دکوردکاردپاره یې همیشه خد متکاران درلودله،نودا ډیره ګرانه خبره وه، چی اوس دنورو ګاونډې سوه.

**دوهم :**زموږ ټولنه د سیال اوسیالداری ټولنه ده،موږ هریوپه دې لټه کي یو چي ژوند مود بل چاه داوږوپیټی اوبارنه سي.خوداچی دهغه کسانو چی هغوی ډیرنژدې خپلوان وه اومخکي تردغوپیښودژوندسطحه برابره وه خواوس د تربرواحتیاج اومحتاج سوه دایوه بله غمیزه وه د مرحومي سا جدې په ژوند کې.



**په عکس کي مخور مشران دسولي په مجلس کي ناست محمد علم بځرکی ، محمد خان غبیزی ، عبدالاحد خان کرزی لیدل کیږي**

خوادغه پرله پسې ستونزي پرساجدې اومرحوم محمد علم بڅرکی باندي راغلې،نو! دساجدې زړه ډيرنازک وو،هغه داستونزي تحمل نه کړای سوای، نويې پرزړه دومره فشارراغلی،چي نوريې دحرکت کولوتوانمندی دلاسه ورکړه اوسختي د زړه حملې په پرله پسې توګه پرراغلې،څوچي دپرديسې په دې سختوڅپوکې توفانونووالوزول،او دکوټې دښارپه يوه نامتوروغتون کي د لږوخت د پاره بسترسوه خوادعلاج داروئې د طبيبانوسره هم نه وه،نوپه نوموړي روغتون کي د جولای دمياشتی پر۱۸ نيټه په کال ۱۹۹۱م کی دسيول روغتون دزړه په برخه کی دسهارپراتو بجو اوديرشو دقيقودجمعې په نيکه شپه دخپلي خورځې په غيږ کي وفات سوه.اووددې دوصيت سره سم دګوټی د شيخانوپه هد يره کي دخپلي خورمرحومي شافعې دقبرسره نژدې ښخه سوه.چي دقبرشناخته يې مرحوم محمد علم بڅرکي ورته جوړه کړه اووددې مرحومي لنډه پيژندنه يې اوس هم پرشناخته سته «روح دې ښادوي ».وروسته ترهغه چي مرحومه ساجده وفات سوه،ډيرخلک په خواشني سوه.اوپه ډيرورسانيوکې خبرخپورسو،چي دهغه دجملې څخه يوهم دجنګ نامتوپاکستانی اخبارياورځپانه وه چي داسي ئې ليکلي وه: ( دپښتوژبي ممتازه پوه، شاعره دمحمد علم بڅرکي ښځه ميرمن ساجده چی هم دپښتوژبي يوه وتلې اديبه وه وفات سوه په دې غمجنه فاتحه کی دپښتونخوادصوبايي پارلمان ليډ رعبدالحميد خان اڅکزی ـ ايم پي آی ـ ډاکټرانو،محصيلينو،انجنيرانو،اد يبانواونوروډول ، ډول خلکو،د کورنيو دوستانو،هيوادوالوبرخه اخيستې وه.دمرحومي فاتحه په احمد خان زويو کي د محمدبراهيم خان اڅکزي په کورکي واخيستل سوه).ماخذ:« جنګ اخبار-۲۰دجولای ـ ۱۹۹۱م کال ».خوبرسيره پرپا کستان دمرحومی فاتحه په کندهاراوکابل کي هم واخيسته سوه اودهغه د زوی ننګيالي بڅرکی په کورکې د خيرات اوکمبلي دتوليد ومراسم پا يته ورسيدل.اوفا تحه يې دعمرپه مسجدجامع کی چی په در يمه کارته کې موقيعت درلود واخيستل سوه.

دسا جدې بڅرکی علمی اوادبي فعاليتونه په خپل وخت کی خوراډيروه، هغې هم هرڅه نويشته کوله اوليکلي يادابښتونه يې لرله، خودهغې دقلمي يادابښتونوڅخه موږته دوخت دخرابوشرايطوپربنسټ ډيرکم څه په لاس راغلي دي،داځکه چی دهغې مرحومی کورپه وارو،واروچوراوچپاول سوی دی اودناوړوحالات په سبب ديوه اوبل ځايه څخه کډه په شاه دهغې سرګردانه ژوند ددې سبب سوچی

موړته اوس ډیرلږاسناد لرو او راپاته سوي دي.چي موږدهغې له مخمي دمرحومی پرلیکل سو،شؤنو باندی کره نظروکړو.

خوموږد مرحومي سا جدې دادبی اوعلمی فعالیتنوڅخه دهغې یوشعر دنمونې په توګه را وړو.اوپه اینده کي که موږد ګلیستان په سحرااویا هم د کوټي په شاه وخواکي څه موندل نوخامخابه یې دهمدغي رسالي سره یوځای کړو.اویوبشپړه کتاب به ځینی جوړکړو،ترڅودافغانستان دښځودغورځنګ په سیاسي اوټولنیزحرکت کي یو ښه بیلګه سي.

خودغه لاندي یوشعریې د یوه ادبي اوذهني تفکراستازیتوب کولای سي، نوموړی شعرچي په ۱۹۸۲م کال کې خپله دې لیکلی دی اوقلمي نخښه یې هم زما (ننګیالي بڅرکی ) په ځانګړي آرشف کی خوندی ده تاسوته دهغې دلیک داصلي بڼي سره وړاندي کوم.

## «دروسانو تیر وتنه»

دسپوږمۍ په زمانه کي

انسانان استعماليږي

دشلم قرن اخیر دی

سوشلیزم بد نامیږي

دخونخواره روس دلاسه

ملکونه خرابیږي

دا تباه هي دانسانانو

ورځ په ورځ پسي زیا تیږي

ایي روسیانو وشرمیږئ

په فا شیزم مه نازیږی

دفاشیزم لمن ټولیږي

جهان ټول په دې پوهيږي
دانسان مقام ډير لوړدی
که روسيان په وپوهيږي
که رښتيا دوی انسانان سي
دانسان قد رورمعلوميږي
ای روسيانو په ځان پوه سی
بشرټول په تا پوهيږي
د سا ئنس په زمانه کي
شرموښان درڅه جوړيږي
سوشليزم کی عيب نه سته
ځوانان ټول په هوسيږي
دبشر غور هيڅ نه سته
ديو نو(U.N) دي ملا ماتيږي
دبشر حقوق تر پښوسوه
د ويټو حق لازيا تيږي
زړه مې ډ ک دی له آرمانه
له يو نو(U.N) مې خوا بد يږي
که جهان لاس سره ورکی
دشورا به څه پا ی کيږي؟
انسانان که وپوهيږي
دخودخوا دي مخ ور کيږي

خود خواهي کي بل شی نه سته

مګر بد نوم يې پا تيږي

پر د نيا چی پاته کيږي

خدمتونه ستا يل کيږي

دبشر دپاره کار کړه

چي باقي نودي يادېږي

بشردوسته انسانان

کله ، کله پيدا کيږي

سا جده که وي شا عره

همیشه به دا ږغيږي

يا دونه : خپله مرحومه پښتنه شاعره سا جده بښرکې داسي يادونه کوي : « دلته دشورا ځخه می مقصد دامنيت شورا ده » .

او (يونو) نړيوال سازمان يا ملل متحد چي دغه وخت کوفی عنان يې مشردی.نېټه : 7 – 2 – ۱۹۸۲م کال پاکستان کوېټه .

**د مرحومي ساجدې پرشعر يوه کره کتنه :**

ترهرڅه نه مخکي نوموړی شعريوکافيه لرونکی،عروضي اود مرحو مي دځانګړي سبک ،دځانګړي احساس ديوه خوږ اهنګ لرونکی ادبي شعردی.په شعرکي نازک خيالي دسيلابونوجوړښتونه په نظر کي نيول سوي دي.ژبه يې سوچه اودکندهارد لهجې نماينده ګي کوي. دشعرڅخه يې داسي معلوميږي؛چي ممکن هغه نورشعرونه هم ولري. اودائې لومړی اواخيرنی شعرهم نه وي،احساس يې په شعرکی ډيرکلک اورنج په کښي څرګنددی،شکايت په کښي روښانه معلوميږي ، خو په شعري فورم کی په پټ او نازک خياله ډول ، استعارې اوکنايې استعمال سوي دي.په څرګنده توګه شکايت يې د۲۱قرن دپوهانوڅخه کړی دی، ستونزي دانسانانواوپرانسانانودقد رت مند وکسانوڅخه


لري،شکایت اوستونزي دهغه چاه څخه لری قوم چی! تخنیک،ساینسي اوپوهه دانسانانوپرضد کاروي. ګیله مند دلوړو قدرتونو څخه ده،چي انسانان یې د مځکی پرسرپرمذهبو،رنګونو،نژادونو سره ویشلي دي.او په نړۍ کي دجنګ دپاره هم پیسې خرڅوي،غریب هیوادونه وپرمختګ ته نه پریږدي.په شعرکی دغه ټولی ناخوالی څرګندي دي،او په همدغه لنډ مطلب کی مرحومي سا جدې بیخي ډیرڅه ځای کړي دي .چی د مرحومی د خیال اوتفکر استازیتوب کولای سي.په پورته شعرکي دوخت اوزمان ډیرمډرن،نوي سیاسي اصطلاحا ت ، لغاتونه لیدل کیږي ،لکه :سوشلیزم ، یونو،فاشیزم ،امنیت شورا،امپریالیزم اوداسي نورنوی هغه لغاتونه اواصطلاحات چی یوازي منوره طبقه خلک،دمطالعې او معلوماتوخلک یې استعمالوي.نوددې څخه موږدانتیجه اخیستلای سوچی مرحومه سا جده بښرکې په خپل وخت کی د مډ رن نوي زده کړی او علوموسره بلده وه.موږهم په دغه وخت کي دنوي مطالعې سره بلداودمورعلمي نظریات ډیرراته په زړه پوري وه.اوزموږموربیا زموږسره په فکري لحاظ ډیره نژدې وه اوپه همدغه دلیل مواړیکي هم دوستانه وې.خدای بخښلي ساجدې بښرکی فلسفي کتابونه هم لو ستل،دیونان لرغونې فلسفه او نوې فلسفه ئې هم مطالعه کول.ما ددې په لاس کي د فلسفې مشهوره کتاب اصول مقدماتی فلسفه لیدلی دی،چي دژرژپلت سراثروو.اوپه فرانسه کې تدریس کیدی.هغه دقائیناتوپه باب غوښتل چی معلومات سره راټول کړي.اوخپل نظردعلمی اصولوله مخي په علمی کتابونوباندي ثوقه کړي.

دخدای بخښلي ساجدې بښرکي دمعلوماتوساحه ډیره پراخه وه،نوځکه به ئې کله ناکله په ډیروغټومجلسونو،سیمینارونواوحتاپرملی مسئایلو د نارینوپه څیرپه تظاهراتوکی هم ګډون کاوه.هغه د مساوات د ګوند فعاله غړې اومدافعه وه،دخدای بخښلی محمد هاشم میوندوال صاحب چی د خدای بخښلي محمد علم بښرکی ډیرنژدې دوست اودګوندمشروو، زموږ به کوراویا هم دمیوند وال صاحب په کورکي چی به مجلسونه جوړیدل خدای بخښلي ساجدې بښرکی به بحثونه ورسره کوله اودښځو د غورځنګ اودافغانستان پرمسائیلوبه ئې عملي نظریات ورسره شریکوله ،زموږ موردافغانستان په ټولو سیاسی موضوعاتودوخت په پرابلمونو او ستونزوډیره ښه پوهیده،هغې دسیاست په ډګرکې د نوعلوموله مخي،په ټولنه کی عمده تضادونه،دوخت دمنورینودندي،د

ښځو دغورځنګ پلوی په علمی دلایلو سره مطرح کولای سوای.اودخدای بخښلی میوندوال صاحب سره به ئې خپل نظریات شریکوله،په علمی اوادبي برخوکې هم په کنفرانسونوکي برخه اخیسته.حتا د کوټې په ښارکي هم.




**په پورته عکس کي دساجدې بڅرکي دوې نورى خوندى ليدل کيږي.لکه :مرحومه شافعه اوباضغه.په دابل عکس کې ساجده بڅرکي دخپلو نورو ښوونکوسره.**


د بشر د پاره کار کړه چې باقي نوم دې پاتې کېږي تر قبره
بشر دوست انسانان کله کله پیدا کېږي
ساجد که دی شاعر همیشه به دا زغمېږي
د الله د شورا څخه مې مقصد د امنیت شورا ده

خو! موردهرچاه ګرانه اوپرتولواولادونو مهربانه وی، خوزما مور! بیا زما دعقیدواوزماد کړنلاری ټینګه ملګرې او پلوي وه.نوپه همدغه دلیل به پرماموردېره ګرانه وه.چي دهغې ټوله کړنی علمي او منطقی وې.

که څه هم مادخپل مورسره دهغه په ژوند کي هيڅ مرسته هم نه ده کړې ځکه ماداسي موقع اووخت نه دي موندلی،چی زه دخپلي مورخد مت وکړم.اوپه همدغه دليل زما خپله موردېره آرمان ده اوزماڅخه په هغه اوږ ده مسافرۍ ولاړه چي زما د نه موجوديت په وخت کي وفات سوه.هغې هم د مړينی ترحده زما دليد واميد اوتمنا درلودله.اوزماهم تمنا داوه چي موربه وينم اونورپاته ژوندبه دهغې په خد مت کي تيروم. خودادنيا په اصل کی دآرمان دنيا ده،هرڅه دانسان په زړه نه ترسره کيږي آرزوګاني يوډول وي.خو،دژوندلازم،ټاکونکی اوعيني شرايط بيا دآرمانونوپه خلاف وي.اوټوله آرمانونه څوک نه سي ترسره کولای. نوبياهم زه دټولي نړۍ داولادوڅخه هيله کوم چي؛دخپلي مورعزت وکي ترڅوزما په شان دغه آرمان ددوی سره هم دژوند ترپا يه پاته نه سي.

دغه شعر ماد خپلي مورد کليزي په ياد ليکلی دی.

مور ته !

موري داته به را و يبنيد لې

سرته مي ناسته نيمه بيده وي

***

زما به ناري وې ما به ژړله

تا به شيدې ژر را کولې

***

زانګو په لاس کي تا ځنګوله

للو ، للو دي را ته ويله

***

په کړاونوولاړپرپښوسوم

ما چی به غوښتل تاراکوله

***

ما به ژړل تا نازولم

په څه خواريو تا لويولم

***

نه دي آرام ؤ نه دی کرارؤ

په هرګړي به را پا څيد لې

***

ته به بيده وې ما به ژړله

آرام دی نه ؤ، نه بيديد لې

***

اوس چي زه غټ سوم تا يادومه

زه په خپل شوق مکتب ته ځمه

***

پخې ډوډۍ تا را کولې

هم دي جامې راته پريوللې

***

تا غټ سړی کړم په دې خواريو

ګوندي زه سپرسم د بد بختيو

***

په اولادودي د نيا ښا يسته کړه

موري داته وې چي دي را زده کړه

***

دننګیال اوښکي ترسترګوراغلې

ئې موري څنګه راڅخه ولاړې

**« یو څو یاد ونې دسا جدې بښرکي په با ب »**

دمرحومې سا جدې بښرکی دژوندځانګړنې دنوروښځواوښځینه ځانګړ نوڅخه بیلې وې، دغه علت هم وو، چی مرحومې ساجدې به ډیروخت دښځوسره په ناحقه مجلسونونه تیراوه.اوهمیشه به یې دکتاب اوزده کړې سره سروکارؤ،دهغه مینه دښځینه زینت اوسنګارسره چندان نه وه، خوهغه دعلم په ښکلاځان ښکلی کړی وو.دغه لاندې ځانګړنی د مرحومی ساجدې دژوند یوه لویه برخه جوړوې.

**لومړی:دغیبت او په چا پسې تر شا خبرې کول:**هغې مینه نه درلود له چې وخت دخلکوپه غیبت اوپالتویا بې کاره خبروتیرکړې،یادچاه بدووایی،یاهغه ته دهغه په غیا ب کی دهغه ترشاه خبرې وکی،حتا که به بل کوم چاه ددې سره د بل چاه بدویل کول ،خودې به دهغه ممانعت کاوه.

**دوهم : ددرواغو څخه بدوړل :**هغه هیڅ کله درواغ نه ویل اونه یې غټ بازۍ خوښې وې ،هغه څه چی داوه هغسې ځان دخلکوپه منځ کی په خبرواوکړنوکې ښکاره کاوه،دهغې خپله ویناده چی همیشه به یې خپلودوستانواولادونوته نصیحت کاوه ویل به یې:( هغه څه مه وایه چې سبا بیا په هغه خبره خپله شرمیږې،یا پرخپله خبره بیا پښیمانه یې ) .

**دریم :دزینتي شیانوسره مینه:** د ساجدې بښرکي د زینتي شیانوسره دنوروښځوپه څیرمینه اوعلاقه نه وه،دبیلګې په توګه زماچی خپله مورزما په ټوله ژوندکې په یادده مادانه ده لیدلې چې یووخت دې زمامورد سروزرواميل ،انګوشتری، وښی، ټیک، پیزوان اوداسې نورشیان په ځان اغوستي او یا استعمال کړي وي .اودا دهغې خبره ده چې هغه چاه چې به بیدرکه ډیرزیوراوطلاوی په ځان ځړولې وه، هغه ته به یې توسیعه داوه چی په دغه پیسودکورژوند سم که اودکورنۍ سلیقه دې سمه کړه،هغه ښځوچی به په

ځینوخوښیوکي یوازي خپل شخصیت په زیوراتوثابتوی هغه ته یې ښه نه ویل اود ګاډئ دآس سره یې پرتله کوله.داددې معنا نه ده چې مرحومي ساجدې بڅرکي زراوزیورنه سوای رانیولای یاپه زیوروئې زورنه رسیده،خو!دامینه ددې سره نه وه او هغې ځان په علمي زیور سره ښکلی کړی وو.اودوستانوئې هم دهغې د خبرو سره مینه درلودله.

**څلورم** :د مرحومي ساجدې په نظرانسانان ټوله دارزښت وړوه،هغه ته خواراوغریب،خان اوملک،تورپوستکی اوسپین پوستکی،قومي توپیرونه ، ژبني توپیرونه ،سیمیز توپیرونه اوداسي نورتوپیرونه ئې دیوه علمي څېړني پربنسټ،هغې داسي څېړل چې،دهرتوپیروشاه ته یې دهغه عیني موجودعلتونه تربحث لاندی نیول.څېړنه اوتحلیل یې پرکاوه.هغې ته دفلسفې دغه مقولې ارزښت درلوداوهمیشه به ئې پردغه مقولو بحث هم کاوه ( تز – انتي تز – سنتز ) چې معنا ئې ده ( دیوه شي موجودیت ، دهغه په مقابل کي دبل شي داسي موجودیت چي لومړی شی دمنځه وړي یانفي کوي.اوسنتیزیا نتیجه چي نوی منځ ته راځي ) اودهمدغه فورمول پربنسټ زوړدمنځه ځي اونوی یې په مقابل کي ځای نیسي.هغه دفلسفې سره مینه درلودله اودپیښوعلتونه یې علمي څېړل .

**پنځم : د ښه شی آرزانه را نیول :** زموږ مورمرحومه سا جده دنورو انسانانو په څیرداسي نه وه چې ارزانه شی به یې رانیوه اوخلکوته به یې دغټ ویلوپربنسټ دګران ښوولودپاره ویاړترلاسه کاوه،خو!دې عقیده درلودله چي دیوه خریدښه پایله داده چي قیمت یې ارزانه خوجنس یې ښه وي.چي دادخریداریارا نیونکي ښه صفت یا ښیګڼه وو.دلته موږ غواړو یادونه وکړوچی دځینو ښځواوانسانانوڅخه یې ځانګړنه بیله وه.

**شپږم مرحومه ساجده دکورني ژوند په اړوند:** په خپل کورني ژوند کي بریالئ وه.اولادونه یې ټوله دلوړوتحصیلاتوڅښتنان کړه،پرخپل وخت یې ودونه وروکړه، او دخپل څښتن سره د ژوند تروروستئ شیبې پوري ډیره خوشحاله وه.اود کورنئ ټوله غړي دهغه دڅښتن په شمول ټوله ددې څخه خوشحاله او دکورنئ دپاره ئې هم دیوې لاربښودي اوښوونکي په توګه ارزښت درلود.

**اووم : دغريبانواوناتوانوکسانوسره مرسته .**

دهغه کسانوسره چی مرستي ته اړتيا ولري مرستند ويه وه خو! بايدهر يوسالم انسان دهغه چاه سره چي مرستي ته ضرورت ولري بايد مرسته وکي.نوساجدې بګرکي په اګهانه اوهوښيارانه توګه د مظلوموانسانانو سره مينه او مرسته کول، هغه پرخپلو هغه مزدورانوچي ددې سره به يې د کورپه چاروکي مرسته کوله پوره پيروزينه درلوده.اوهميشه به يې داسي مرستی ورسره کولې چی هغوی ددغه بېوزلی دحالاتوڅخه را ووزي اود مهتاجی څخه خلاص سي اواينده خپله هم دژوند چاری په خپله پرمخ بوزي،د کورخاوندسي،د کارخاوند سي اوپرهغه لارئې لارښوونه اومرسته ورسره کول، چي دکورنی ټوله غړي ئې ، پرارامه سي،دبيلګې په توګه دنيازمحمد کورنی هغه اړه اومهتاجه کورنی وه چی پراقتصادي پرا بلمونوبرسيره،په ډيرومصيبتونواخته وه،خورئې په دعوه کي وه،خسرئې بندي وو،پلار ئې سخت ناروغه ؤ،دهغه خپلوان ناروغه،بې واکه اوبې کاره وه.

خو! دساجدې په تشويق اود مرحوم محمدعلم بګرکی په زحمت کښی سره دنيازمحمدخور(مريدو) ددعوې اوپه زوردواده کولوڅخه راوګر ځيده اودنيازمحمد خسردبند يخانې څخه راخوشي کړل سو،نيازمحمد ته دطلوع افغان په ورځپانه کی دتوزيع په څانګه کي کاروركړل سو،واده يې وسواو په لنډ وخت کي نوموړې کورنی دمزدوری دژوند څخه نجات وموند اوخپله هم دخپل کورپه را نيولوبريالي سوه.اويوه نيکمرغه کورنی ئې جوړه کړه.ترنن پوري په وياړ ژوند کوي. همدغسي دعبدالله جان کاکوکورنی اوداسي نوري کورنی موږ بيلګه را وړلای سو .

اتم : د ښځودغورځنګ سره هميشنی مر سته .

مرحومه ساجده بګرکي لکه مخکی چي هم وويل سوه دښځو د غورځنګ پلوی او ښځو ته يې دژوند په ټولوچاروکي د نارينو په څير دژوند پوره حقوق اومساوي دژوندزمينه برابرول غوښتل،چي په همدغه دليل يې يوتعدادښځي ودې ته هڅولې چي ښځي بايدسواديا ليک لوست زده کړي،په ټولنيزوکارونوکي برخه واخلي،اونارينه بايددښځي بشپړه احترام اودرناوی وکړي.په همدغه سبب

ئې خپل خاوند مرحوم محمد علم بښرکی ودې ته هڅاوه چي دښځوپه باب بايد يولوړ، په زړه پوري کتاب وليکي،هغې (ساجدې) به هميشه ددې يادونه ورته کوله او ويل به ئې: (چي تاکه هرڅه ليکلي دي خودښځوحق دي نه دی پرځای کړی).نو!څنګه چي مرحوم محمد علم بښرکی دښځووغورځنګ ته درناوی درلوداوخپله ميرمن يې ديوه ملګری په څيردځان مشاوره ګڼل نويې د مرحومي ساجدې په احترام يوډيرلوړاوپه نړيواله کچه دښځودنړيوال غورځنګونوپه زړه پوري يوغټ اثروليکه،چی زه فکرکوم چي په سيمه کي به داهغه لوړاولومړی کتاب وي کوم چي دښځوپه باب په ډيروضاحت،لرغونتوب،دعقيدوله نظره،په روانه پښتوژبه اوپه هره برخه کی دښځوپرژوند څيړنه سوې ده.د مرحوم محمد علم بښرکي د کتاب په سريزه کې ښا غلي زمري محقق داسي يادونه کړې ده:( د کتاب پيل اصلي انګيزه دليکوال دميرمني خدای بخښلي ساجدې بښرکي هڅي وې.چي په هيواد کي د ښځودآزادئ او نهضت په لاره کي د مبارزې د سرپه ليکوکې ولاړه وه،ددې د زيات ټينګاراوهڅونی دسبب څخه يوه لاسته راوړنه وه،څو؛مرحوم بښرکی صاحب ئې ودې ته اړايستی چي دهغې دغوښتني سره سم دښځو په هکله څه وليکي.).




## ليکوال او ژور ناليست زمری «محقق» دساجدې بښرکي مشرزوی

نو همدغسي دښځو وتاريخ ته يوه کتنه کتاب مر حوم محمد علم بښرکي په خپل ژوند کی ومرحومي سا جدې بښرکي ته په دغوادبيا توډالی کړی دی ( زه خپل دغه اثروهغو آرزوګانوته د ميرمن سا جدې بښرکي ډالئ کوم چی دوی په خپل ژوند کي لازه ودې کارته ګومارلی وم.ددې ئې په مخه ښه ) . دلته موږ په دې

نتيجه رسيږو چي دافغانستان په هغه شرايطوکي چی ديوه پلوه افغانستان ډيري قهرماني اوپوهي ښځي درلودلې،خو!دبله پلوه پرښځو باندی دتاوتريخوالي پروسه هم دافغانستان په ټولوسيموکي موجوده وه.نود مرحومی ساجدې بڅرکي نه سترې کيدونکي هلي ځلي يوازي د ښځودويښ تيا اود ملت په کچه دهغوی دراويښولو،ښونيزکولواودنړۍ په پرتله د ښځودحقوقوپه خاطروه.نتيجه يې هم دلاسته راوړنوڅخه ډ كه اوپه پای کي دغه اثردانګيزې په توګه يوهغه خدمت ترسره کی؛چی نن ورځ دښځوپه باب نوموړی کتاب يوه سيکلوپيډيا ګڼلای سو.په دې باب دسريزي ليکونکی زمری محقق په خپله سريزه کي داسي وايی : « دې اثرته ځکه يووړکی دائرة المعارف ويلای سوچي ښځه اوپه ټولنه کې دهغې دريځ ئې د تاريخ نه مخکي دوران څخه بياتراوس زمانې( ۲۰۰۱سپټمبر ۱۱) پوري په نسبي مفصل ډول اوپه عام ډول ترڅيړني لاندي نيولی دی ».

نوموړی کتاب چی مرحوم محمد علم بڅرکي په خپل ژوند کي ليکلی وو،ما( ننګيالی بڅرکی) هغه دخپل موراوپلاردآرمانونودسرته رسولوپه خاطرپه خپل ځانګړي لګښت په ۲۰۰۵م کال کي په پاکستان کي دکوټي په ښارکي درازمحمد رازپه کتابت کي خپورکی.د کتاب يومخ داسي ډول سوی دی .




## نهم : په عقيده وي لحاظ .

دعقيدې په لحاظ ميرمن سا جده بښرکې يوه سپڅلې ،پاکه پوه مسلمانه ميرمن وه.هغې اسلام په پټوسترګونه ؤمنلی بلکي؛هغې اسلام او مسلمانی په اګهانه (پوهه) سره منلی ؤ، دميرمن ساجدې پوهه داسلامي مذهب پر بنسټ د يوه پوهه مؤلوي سره برا بره وه.خوهغه دخپلي دې پوهي پربنسټ يوه ډ موکراټه،نوښت ګره اود نوي علومو پلوۍ ، زده کوونکې اوهم ښوونکې وه.لکه مخکي چی مي وويل سا جده بښرکې په فلسفه اود طبعت په قوانيوډيره ښه پوهيده ،دهرچاه سره چی به يې خبري کولې نوخبري به يې پرعلمي ميتودونوولاړي وې.نه پرعقيد وي اونه پرافسانوي ميتودونو،نوځکه يې هرچاه دخبرو څخه پند اخيستلای سو. اوخبرو ته يې هر چاه په بشپړه غورسره پاملرنه کول.

ميرمن ساجدې بښرکي وافسانوي کيسواوبې علته پد يد وته عقيده نه درلودله،هغه ته ددييانوافسانې،شاپيريانوکيسي،دبيري افسانوی نقلونه، او هغه پديدې چی دانسانانود ګمراه کولويا غولولو د پاره جوړی سوي وې ،هغه افسانې چی نه ثابتيږي، نه تجربيه کيږی ، نه تکراريږي اونه هم په ټولنه کی دهغه ځای اوعلمی منطق موجود وي هغه يې افسانې بللې اودخپلوعلمی کړنلارو څخه يې ايسته غورځولی وه. هغه په خپل ژوند کی يوه بريالۍ ، زړه وره ميرمن وه.هغه تعويذ،دپيريانيانومسخره کول ، پيری کښيناستل پرانسانو،ځای د رند دی،ځای سپک دی اوداسي نور ذهني تيروتني د مير من سا جدې په نظرغيري علمي اوغيري عملي کړني وې، ساجدې په دې باب هڅه کول چی هغه افغاني ښځي چی په دغونارغيو اخته وې هغه ته يو سمه اومعقوله دتداوۍ اوروغتيا لاري ورپه ګوته کړي او خپله يې هم عقيده دغه خرافاتوته نه درلودله.

## لسم : د وخت قد ر :

ميرمن سا جدې دوخت قد ردرلود،هميشه يې دخپلوورځني کارونو دپاره تقسيم اوقات درلود،هميشه دخپل تقسيم اوقات پربنسټ پرمخ تله، هميشه تقسيم اوقات د کور په هغه خونه کی چی دهغې دژوند چاري اود مرحوم محمدعلم بښرکی کتابتون وو، هلته به ددې تقسيم اوقات هم ځوړنده ؤ.مرحومي ساجدې بښرکي،په پخلنځۍ کې هم دورځني خوړو دپاره يوتقسيم اوقات جوړکړی وو،

داوو(۷)ورځوپه تقسیم اوقات کي دهري ورځي خواړه لیکل سوی وه،دهمدغه تقسیم اوقات سره برابر خواړه پخیده، که به دچاه کوم خواړه نه وه خوښ نو داخبره زموږ په کورکي دتائید اوملاتړوړنه ګڼل کیده،هرډول خواړه به ټولو دهغه تقسیم اوقات له مخي خوړل.کوم چی د کورنۍ غړوپه ګډه جوړکړی وو، نو بیا به هرڅوک مجبور وو، چی د منل سوي تقسیم اوقات سره برا بر پاخه سوي اویاتیارسوی خواړه وخوري.دغه عادت ټوله کورنۍ منلی وو، دخوښ او ناخوښ خبره د تقسیم اوقات په موجودیت کي وجود نه درلودله.

برسیره پردې دنظم اودوخت پرپا بندي،زموږمورساجدې بڅرکي ته وخت دسروزرووارزښت درلود.اوټول عمربه ئي وخپلواولادونوته دوخت دآرزښت په باب داسي ویل:( وخت لکه سرز) موږیعني د مرحومي ساجدې اولادونه که به په لوبوبوخت وو،نوزموږموربه زموږسره دغه خبره یادوله اوویل به ئې:« وخت خوشي مه تیروی ،وخت ارزښت لري ، دغه وخت بیا نه را ګرځي ،دوخت په تیریدو بیا ارمان کوی.» چي تراوسه یې زما هغه خبري په کټ مټ ډول په ذهن کي پا ته دي.اوزما دافکارودیوه جزء په توګه زما سره ثبت دي.که څه هم هغه وخت ما ددې خبري ارزښت نه پیژندی اونه مي په دغه خبره کي چورت اوفکرواهه، خوتر ډیره وخته دغفلت په همدغه خوب کي ویده وم،خو!بیاڅه وخت چي دموردټولو خبروپه قوت با ندي وپوهیدم ،نومی وخت غنیمت وګاڼه اودهري اصطلاح اوهري خبري ارزښت یې راته معلومه سوه، لکه څنګه چي مي مخکي هم یا دونه کړې وه ، زموږ مورمرحومه سا جده بڅرکې دلوړوتحصیلاتو علاقه منده وه، په ډیره بیا ماته یې ترنورواولادونوډیره یادونه کوله چي ته بایدلوړ تحطیلات وکې.اوځان دعلم په زیورسنګارکې؛دا هغه وخت دی چي زه ددولسم ټولګۍ څخه خلاص سوی یم اوپه یوه امریکایی تصدي شرکت کي ترنوروماموارینوډیرمعاش اخلم،ځکه د کودکیمیاوي شرکت چي دافغان اوامریکاګډ تصدي شرکت وو،هلته ترنورودولتي ماموریتونو معاش یاتنخاه ډیره ورکول کیده.نوماخپله همدغه ځای خوښ کړی وو.اوپه دې وخت کي دښه اقتصاد خاوند هم وم، ترخپلوهمزولومي اقتصادي وضیعت ډیرښه ؤ. او سات مي هم په همدغه ځای کي تیرؤ.

خوزمامورمرحومي سا جدې زماسره دا ډیره تنخاه اودغه لوړامتیازات نه منل.اوهمیشه به یې پردغه ټکي فشارپرمااچاوه،چی دغه ټوله مؤقتي دي اودایمي ستا دپاره ستالوړتحصیلات،زده کړي اویوښه مسلک دی. ته باید په ټولنه کي دخد مت یو ښه مسلک زده کړې.ترڅودخپل مسلک دلاري وټولني ته دخدمت مصد روګرځې. په مقابل کي به ماهمیشه مورته داسي ویل:( ګراني موري! علم په کتاب کي دی.نه؛په ډیپلوم اوکاغذ کي.اوزه کتاب لولم دوخت علوم تعقیبوم؛خو! پیسې بیا په شرکت کود کیمیا وي کي دي .اوزه اوس په شرکت کود کیمیاوي کي کارکوم، دغه دواړه لرم ).دانظرزما سره د ثورترناکامه انقلابه پوري په ژوندۍ ښه راسره ؤ.خودخلقیانوپه رژیم کي زه دشرکت کودکیمیاوي څخه لیری کړل سوم؛په دې چي زه ګوندي نه وم.اوزماپرځای یې یوبل ګوندي کس مقرره کی.زه بیکاره سوم اوپه ټولنه کي بیاماته یوساده ماموریت هم نه پیدا کیده، ځکه ماشهادت نامه یا مسلکي زده کړي نه درلودلې. نوماته د مورخبره دیوه فولاد په څیرجوته سوه.اوزه ودې ته متوجه سوم، چی باید یومسلک زده کړم،که څه هم دغه وخت یوڅه ناوخته هم ؤ.خو!دغه یا دونه بیاهم دموردیادونوځخه راپه زړه سوه( ماهی چي هروخت داوبوڅخه راوبا سې تازه دی) دمورخبره مي په زړه کي ځای درلود او په تحصیل اومسلکي علم می پیل وکی،دژبواوادبیاتوپوهنځی مې ولوستل،خویوازي مي بیا پرپوهنځی هم ا کتفاه ونه کړه،نورمي هم ومسلکي زده کړوته مخه وکړه اود کار،اولادداریَ سره،سره مي دژبواوادبیاتوپه پوهنځی کي دماسټریَ کاررا پیل کی اوپه خپلوزحمت کښیواود مرحومي مورپه ښولاربښوونوسره مي د ماسټری دیپلوم هم تر لاسه کی.خوتردغه وروسته مي دعلوماکاډمي په علمي مؤسیسه کي کارکاوه او دهمدغه ریا ست دخوا څخه د ډاکټریَ یوبورس را ته پیداسو او په دې نورهم خوښ سوم ،خو!دبده مرغه داهغه وخت دی،چي دپاکستان څخه دملایانواو(۷)ګونده اودایران څخه اته ګونده دسلاحوسره دافغانستان خاوري ته په بې مسؤلیته ډول راداخل سوه او په هیواد کي نوردښووني اوروزني بهیرپه ټپه ودراوه.نوقومي،سیمه ایزاومذهبي جنګونه کورپه کور، کوڅه په کوڅه ، کلي په کلي اوښارپه ښاررا پیل سوه .اوزه هم ددې پرځای چي هندوستان ته دډا کټریَ دپاره ولاړ سم ، پا کستان ته دغریب مهاجرپه توګه ولاړم.خوهلته می بیاهم د موردوعا دبرکته همدغه د مسلک او

مسلکي زده کړو پروسه په ښه را غله اویوه علمي ادبي ټولنه مي د«دستر احمدشاه بابا» په نوم جوړه کړه،چي هم په اقتصادي لحاظ راته غنیمت سوه او هم مي دټولني بیوزله ماشومان ده سواددزده کړي په خاطرسره راغونډکړه چي دټولني دخلکودپاره هم ګټورتمام سوم. تراوسه هم دهمدغه ټولني دلاري دخلکوخدمت کوم. یولړکتابونه،خپروني،د مهاجروافغانانوښونیزخد متونه دهمدغه ټولني له برکته ترسره کوم. داټوله دموردبرکته اودهغې دښولاربښونوپه رڼا کي ترسره سوي دي،چي ددې ټولوڅوابونوپایله مورته غواړم.اوهغې خدای بخښلي ساجدې بڅرکي دغه تیوري چي دوخت دارزښت په باب یې درلودله زه اوس په دې پوهیږم اوپوه سوم.... خدای دي خدای بخښلي سا جدې بڅرکي ته جنتونه ورپه نصیب کي ( روح دې ښاد وي).

یولسم : د زده کړي کچه :

میرمن سا جده چی دځوانۍ ترعمره یې په دیني علومو کی زده کړه کول.اوپه همدغه وخت کې دخپل وخت دیني علوم دمولوي کیدوترکچي پوري رسولي وه،په همدغه وخت کي ددیني علوموپه برکت،عربي ژبه اودعربي ژبي بنسټونه دځینوعربی کتابونواو قران کریم په مرسته زده کړي وه، خوفارسي ژبه یې هم دګلیستان اوبوستان په مرسته زده کړې وه.خوپه فارسي ژبه ئې دویلوسم تلفظ نه سوای کولای.اوهرچاه چي به دمرحومي سا جدې فارسي واوریده نوپه ښکاره به پوهیدل چي اصلي ژبه ئې پښتو ده.

خو! برسیره پردې ئې هم فارسي ژبه دفارسي ژبوسره ویله چي،په وروسته کي ښوونیزه سوه اودښوونځۍ درسونه یې ولوستل بیانوپه نوي علوموهم وپوهیدل.اوانګلیسي ژبه یې هم زده کړه ، خو! برسیره پردغو مسجدي زده کړواودښوونځی زده کړوچي ښوونیزي زده کړي ئې د معلمۍ په مسلکی توګه زده کړې وې.د مسلکي ښوونکي سند یې ترلاسه کړ،نوبیا وشخصي مطالعې اوزده کړي ته یې هم لستوني را ونغښته اوهغه د نوي علوموپه زده کړه کي لکه:اقتصاد،فلسفه، روانشناسي،دډاروین نظریات،دهیګل اوکارل مارکس فلسفه یې هم ولوستل اوپه هر څه کي لږ اوډیرمعلومات ترلاسه کړ،خوخپله یې دسید جمالدین افغان نظریات،فلسفه خوښ وه.اودهغه ملي روحیه،پوه اوهوښیاري یې ستایله .

میرمن ساجده په پښتواوفارسي ژبه خبري اولیک لوست کولای سو.خوپه انګلیسي، اردو،عربي باندي يوه اندازه پوهيد له.

## دولسم :پر خپلوخبروبا ندي حاکمیت.

پرخپلوخبروباندي حاکمیت درلودل د يوه پوهه انسان ځانګړنه ده. خودغه ځانګړنه په سا جدې بښرکي کي وه.هغې همیشه خپلی خبری په ساده اوواضیح توګه بیا نولې،هرډول خلکواوانسانانوته به دفهم وړګڼل کیده،ساجدې خپلی خبري په آرامه توګه ثابتولې،هغې په لوړآواز، احساساتی توګه خبری نه کولې.اوداوریدونکي دروحې سره برابرئې پرمسائلورڼاه اچول. مرحومی ساجدې خپلي خبري په قسمونونه ثابتولې بلکي؛هغه په منطقواودلایلوخپلی خبري ثابتولې.دهغې د قسم اخیستلو څخه هم ښه نه راتلل.اوهمیشه به يې خپله هم دبې ځايه قسمونوڅخه ډه ، ډه کوله.همیشه به يې دخپلو خبرودثابتولودپاره عیني اوربښتني دلایل وړاندي کول.اوهغه څه به يې ويل کوم چي به خپله دې پرهغه باندي باوردرلود،دهغه دپاره به يې دثبوت دوړاندی کولوامکانات درلودله. اوهغه څه چي به دې خپله پرهغه علم نه درلود، نود ويلو څخه به يې هم ډ ډه کول.ساجدې خپل نظرپرنورورباندي نه تحمیلوی،خود خپل نظر دوړاندی کولودپاره يې دمصلحت،خبرو،پراخي حوصلې څخه کار اخیستی.

موږ په ټولنه کي داسي خلک ډيرلروچي خپلي خبري په احساساتی توګه پرنورومني ،په خبروکي افراط کوي،خپلي خبري ثابتولای نه سي.اوپه هره جمله کی دوه يادرې قسمه اخلي.اويا هم داسي کسان سته چی که تادهغه سره دهغه داحساساتوپربنأدهغه خبره ونه منل نوستا څخه خوابد وي حتااړیکی به لاهم درسره قطع کي.چي دغسي کسان د ساجدې دپاره په زړه پوري نه وه.اوهمیشه به يې په مخامخه توګه انتقاد هم ورباندي کاوه.ددرواغوویلوڅخه يې هم خپله ډډه کوله اوهم يې ددرواغجن څخه ښه نه راتلل،داخپله ددې خبره ده چي ويل به ئې : (درواغ ويل دفساد منبعه او بنسټ دی ، درواغ ويل يوه روحي ناروغي ده،بدعادت اوبده ځانګړنه ده.)نوپه همدغه دلیل ساجدې دخپلوځانګړنو له مخی د خپلوخبروبنسټ پررښتیا ، صداقت،علمي دلا يلو باندي تکیه کړی وو. پرخپلو اولادونوبه ئې همیشه دغه ټینګارکاوه؛ چي ځان دې ته مه مجبوره کوئ چي دخپلوغلطیوپه مقابل کي د رواغ ووایاست. اونورخلک

خطاباسي.لکه چی متل دی ( ددرواغو منزل لنډ دی ) نو په واقیعت کی هم درواغ بد کاردی اومنزل یې هم لنډ دی.په دې باب ساجده مشهوره وه،چي داهمیشه هغه خبره کوي ، چی هغه رښتیا وي.

دیرلسم :د ځان ځانی یا خود خواهي په با ب :

دا هغه ناروغي ده چی زموږ دټولني اکثریت خلک په دې ناروغۍ اخته دی خوبیا تفاوت یا توپیریې په دې کي دی، چی په ځینو خلکو کی دغه ناروغي ډیره وي خوپه ځینو خلکوکی دغه ناروغي لږ وی،خولروئې موږ ټوله.هغه څوک چی دخودخواهی یاځان ځانی په ناروغۍ اخته وی ، نوهرڅه دځان دپاره غواړي،ترهرچاه ځان دروند اوښاغلی ګڼي ، نورڅوک په نظرلږ یا کم ورځي،ډیرژرعصبي کیږي،درناوی دنورونه لري یا یې لږ لري،امتیازات یا برتري دځان حق ګڼي.اوداسي نورمنفي اوبدځانګړني په خودخواه انسانانوکی څرګندي وي.چی نوموړې ناروغي هم یوه رواني اوسیکلوژیکي ناروغي ګڼل سوې ده.که څه هم دا په ټول انسانانوکي سته.خو! په ځینوکي چي دناروغۍ ترحده وي ، هغه نوبیا په ځان نه پوهیږي،خوخلک یې درک کولای سي. نونتیجه یې داسي وي،چي په ټولنه کي په غیري مسقیمه توګه تجریداودشناخت اودملګریتوب څوک هم نه لري.دښوخلکوهمیشه دبدوخلکوڅخه دهمدغه توپیرونوله مخي توپیراوتفاوت شته،ځینی وخت دوستان یودبله سره اصلاح کوی.اوپه مخامخ توګه خپل دوست ته دا ورپه ګوته کوی چي؛ دبل پرحق تیری مه کوه،دهرچاه دنظراحترام کوه،همدغسي هرڅه دځان دپاره مه خوښوه نورهم په هغه څه کی چي حق لري درسره شریک که.نودساجدې بڅرکي دخودخواهۍ دبدعادت څخه خوراډیربدوړل اوهمیشه به یې برابروالی اوتواضوعوخوښول.رښتینوخلکوته ئې احترم درلود.خپل اولادوته ئې هم دغه نصیحت کاوه.

دمرحومی سا جدې دغه روحیه، فکردهغې په ادبیا توکي هم جوت دی. لکه: چی هغه دخپل شعر په یوه برخه کي داسي وایي:

ا نسا نا ن که و پو هیږ ي

دخودخوادي مخ ورکیږي

***

خود خواهی کي بل شی نه سته

مګر بد نوم ئې پا تيږي

***

پر د نيا چي پاته کيږي

خد متونه ستا يل کيږي

پورتنی شعرچی خپله دمرحومی سا جدې په قلم ليکل سوی دی ، يودهغه ښويادونوڅخه ګڼم ؛کوم چي دې په طبعي توګه دبدوسره مبارزه کوله اود ښوستاينه ئې کوله .

دمرحومی افکاردهرډول افراط اوهرډول روحي ناروغيوپه مقابل کی جوت وه.دهغې افکارپه عامه توګه سوسيال يا ټولنيزوه،دغه علت ددې سبب سوی دی ، چی مرحومي سا جدې په خپل ټوله ژوند کی د ځان مخالف اودچاه سره عقده ياکينه،يايوڅوک بد ګڼل د مرحومی په افکارو کی نه وه .لکه څنګه چي هغه په خپل دغه بيت کی په ډېر ګنده توګه يا دونه کوي.

دبشر د پا ره کار کړه

چي با قي نوم دي يا د يږي

بشر دوسته انسانان

کله ، کله پيدا کيږي

ساجده که وی شاعر

دخودخواه دي رنګ ورکيږي

پورته مطلب اوبيتونه دهغه دفکراوارمانونو نماينده ګي کوي.په هر خبره کې الهام اونصيحت پروت دی اودهرافغان دپاره داينده را تلونکې ښه لارښودي خبري کيدای سي.

## د یرلسم : د ژوند مفهوم د ساجدې له نظره

که څه هم ژوند په بیا لوژیکی لحاظ دحجرود فعه اوجذ ب دی. چي په ژوند یو موجوداتو کي دغه بیالوژیکی سیستم جریان لري.

خو انسانی ژوند بیادتاریخ په اوږدوکې د طبعیت په غیږ کي د تولیدی وسایلود پرمخ تګ سره سم سوی دی. د تد ریجی تکامل او پرمختګ په وسیله انسانی ژوند را منځته سوی دی. همدغسي دانسان بنسټ جوړونه یوځاني یامفردامرنه سی کیدای.دانسان جوړښت دهغه دټولوټولنیزو اړیکویا مناسباتو په وسیله جوړسوی دی.کوم چی انساني په هغه ټولنه یا اجتماع کي ژوند کاوه.نود دې څخه دارامعلومیږی چی انسان یوجلا طبعي،بیالوژیکی ژوندی موجود نه دی.بلکي انسان د طبعت سره په اړیکوکي دخپلی اجتماع یاټولني څخه ئې(شعور،ژبه،احساسات، عواطف حتاحرکتونه دناستي اوپرلاره تلل دخپلي ټولني یاټولنیز واړیکوپه وسیله وپیژندلي دي).نوموړي انسانی حرکتونه د تجریبوله مخي دپخوانیواسلافو څخه نسل پرنسل دانسان دبشپړه کید و سبب سوي دي.دتجریبې له مخی که موږ یوماشوم په یوه حیواني ټولنه کی رالوی کړودهغه دژوند لویه برخه لکه ږغونه، حرکتونه،دخوړودخوړلو ډولونه او داسی نوري کړني...به ئې دهغه حیواناتو په څیروی کوم چي هغه انسانی ماشوم ورسره سترسوی دی.نودارا معلومیږی چی انسان یو اجتماعی موجوددی.اودانسانی،فرهنګی اوتولیدي اړیکوپه وسیله ئې دخپلی ټولنی سره یوځای په شعوراوفکرکې پرمخ تګ کړی دی.چي دانسان انساني ځانګړني ئې په دغه برخوکي زده کوي دي.لکه:لید ل، اوریدل،خوړل،خوب کول داټوله دټولنیزوشرایطواغیزي دي،چی نوي پد یدې هم دتکامل به اوږدوکې دځانه سره زده کړې.دانسان دپاره ټولنیزشرایط خوراډیرارزښت لري.اودغه ټولنیزشرایط چي بیا دتولیدي وسائیلوسره سم پرمختګ کوی اودپرمختګ نوي مناسبات اواړیکی هم را منځته کوي. داهغه څه دي کوم چي انسان دخپل شعورپه وسیله دټولني په مرسته خپل انساني مقام لوړکړ.اوهمدغسي انسانان په دې لټه کی دي چي تل خپل انساني ټولنه جوړه کړی او دهر ډول فساد څخه ئې وژغوري، دفساد پر ضد مبارزه کول یو انسانی کړنه ده چی دتاریخ په اوږدوکې دمالکیت سره سم را منځته سوې ده.دهمدغه فساد په وسیله دانسانانو په منځ کی طبقات

راپيداسوی دي،دتوليدپروسايلوباندي زما اوستا کلمې،طبقاتي تفاوتونه،دتوليدپرسرغيري عالانه توزيع او په نتيجه کې د لوړي طبقې انسانان اود کښته طبقې انسانان راپيداسوه.داستثمار کلمه دټولنی به کچه اوداستعمارکلمه بيادهيوادونوپه کچه رامنځته سوه.

دلته دپورته ټوله بيان څخه مراددادی چي دساجدي بښرکي دپاره ديوه ښه ژونداوانساني محيط جوړول ترهرڅه باارزښته دی.که چيري محيط سم اوجوړوي نودهغه محيط انسانان به ښه ژوند په سوله اودموکراسۍ کي ولري دبيلګې په توګه : که په يوه هيوادکی غله وي ،لاري وهونکی شتؤن ولري، وتيزحالت کمزورۍ وی،امنيتي قوتونه دخلکودسراومال دساتني تضمين ونه کولای سي.نوبه هغه محيط کی به خان اومسکين دواړه دبد وشرايطوڅخه سرټکوی.نو نتيجه داده چی لکه ساجدې چی هميشه يادونه کوله چي محيط دانسانانو دمغز،پرمختګ اوونيزژوند جوړونکی دی.نوبايد لومړی محيط دژوند ځانته جوړکړواوبياهم هلته ځان اونو خلک اسوده اوارام کړو. شاعر وايی:

هغه چي ژوند غواړی جهان جوړوي

څوک بيا د بل په اوږو ځان جوړوي

هغه د کښت حا صيل به خپله ريبې

چاچي پښې کړلې تناکی ګليستان جوړوي

نوځکه د ساجدې په افکاروکې د ځان جوړونه يوه خود خواهی ګڼل سوې،ده اودهغې په فکرکي ترټولود مخه بايد يوداسی سالم سيميزمحيط جوړسي چي هلته انسانان په سوله کی ژوند وکولای سي اود طبعت، ټولني اود پرمختګ دوسايلوڅخه ټوله د محيط خلک ګټه واخيستلای سي.ساجدې به ويل:هيڅ يوفردښه ژوند په بدمحيط کې نه سي تيرولای. که څه هم هغه فرد په ټولنه کي خان اودشتوخاوند هم وي اوياهم په زور، زوره ورروي.سلاح ولري يا دنورقوت څښتن وي.خوژوند به ئې په بد محيط کی بدوي.هغه کسان چی په يوه ښه ښونيزمحيط کي رالوی سوی وي په هيواد کې وتيزحالت ښه وي قانون پرټولوبنسټونوحاکم اوبرلاسی وي، نودهغه ټولنی خلک به هم هوښياردښه ژوند

خاوندان او په فکري لحاظ ترهغه هيوادونوچی خوارځواکی هيوادونه ورته ويل کيږي ،انسانان به ئې هم برتري اوتوپيرسره ولري.

داټوله هغه خبری وې چی د ساجدې بځرکی د ځانګړی مطالعې او دهغې د فکراستازيتوب ئې کاوه.هغې د ژوند په باب دهرانسان دمحيطه سره سم دهغه مختليف حالتونه ديوې سينمائي پردې سره پرتله کوله،هغې عقيده درلودله چی انسانان په خپل ژوندکی ډول،ډول حالتونه درلودلای سي.اوهرانسان دخپل ژوند ترپايه دلويوداستانونودرلوونکی دی.هغې به ويل( داژوند دسينما دپردې په شان دی،چی دسينما پرپردې باندي تاسوخوشحاله ونکی صحنې،تراژدي ياغمناکی پيښي اوصحنې، انتباهي حالتونه يا صحنې راځي،چی دانسانی ژوند تمثيل کوي.)يعني ژونددسينمايوه پرده ده،چي اول اواخيرلري.لکه ژوند چي راپيل کيږی اوبياپايته رسيږي.فلم هم خلاصيږي،ژوندهم پايته رسيږي.خوخاطرات ئې د خلکوپه ذهنونوکي پاته کيږي،نوداچی يوازي خاطرات پاته کيږي نوانسانان بايدکوښښ کړي چي ښې خاطرې پريږدي اودادخپل ژوند فلم دښوخاطراتوسره وخلکو ته ورپريږدي.داځکه؛چي خلک د ژوند پر چارودهرانسان قضاوت کوي،تاريخونه پرجوړوي،کتابونه پرليکل کيږي . نو انسانان بايد دغه زماني مقطعه چي د ژوند پيل اوبيا ترختميد وپوري رسيږي،دښوخاطراتوسره وخلکوته ورپريږدي.نه داچی وروسته بياخلک بد پرووائي اودبد نومه سره د ژوند خاطرات پريږدي.

## ځورلسم دوخت پا بندي :

لکه مخکي چي وويل سوه د وخت پا بندي د خدای بخښلي ساجدې بځرکی يودهغه ډيروښوځانګړنوڅخه ګڼل کيده چي دهمدغه نيک نظر پربنسټ ئې ځان وه يوه ډيرلوړپړاوته ورساوه.وساجدی ته وخت لکه سره زرداسی وو،په عملي توګه هم هغه ددغه وخت څخه دسروزروپه شان ګټه اخيستل.اودخپل ورځني تقسيم اوقات په حساب ئې خپله کارونه منظم کړي وه.داپه دې خاطرچي خدای بخښلي ساجدې ته په دغه لنډ وخت کي ډيرمسؤليتونه ورپه غاړه وه.لکه دکورکارونه،دکالوپريولو څخه ونيسه بياترجارو،لوښوپريولولواو خلورواولادونوموروه،چي ټوله هم ښوونځی ته تلل،همدغسي زمريالی چی ډيرکوچنی وو،ترټولوغټ مسؤليت هم دهغه وو.دکورپرډيرغټ مسؤليت برسيره

خپله ددې تر نيمي ورځي ډېرپه ښوونځی ياښوونه کی تيريده.داهغه څه دی چي موږ ئې دلته يوازې په لنډډول بيان کوو،خوپه عمل کې دغه ټوله کارونه تر حدوتلي دي اوديوه انسان دتوانه څخه بهراوناممکن غوندی دي،ساجدې دغه نا ممکن ممکن کړی وه.اوديوه مشخص تقسيم اوقات په وسيله ئې په ډيره برياليۍ ډول دغه ستونزی ممکنی کړی وې.نوځکه وخت ورته دسروزرروارزښت درلود.اوموږټولواولادوته به ئې دوخت دپابندئ په خاطروېناوی اونصيحتونه کوله.خدای بخښلي ساجدې بځرکي ډيرلږ وخت دتفريح دپاره درلود.خپله چنداني ددوستانو کوروته نه تلل ،خوکه به دوستان ددې دليدواوياممجلس دپاره راغله نوپوره مجلس به ئې ورسره کاوه اود ميلمه پالنی په روحيه به ئې رخصت کړه، ميلمه به دا نه احساسول،چی دساجدې(چني ګلی)دپاره وخت سره زردي خوساجدې دغه سره زرد ميلمه د کلتورد ساتلو دپاره دلاسه ورکول.زمانه پيادذي چی زماکوچني وروزمرياِلی يوه ورځ مالته غوښتل اومالتې په هغه بله خونه کي پرتې وې،په وارو،واروهغه ورته نارې وهلې چی مالته راکه اوپه کوچني اندازئې ورته زګيروی جوړکړی وو.خدای بخښلي ساجدې په دغه وخت کې دفلسفې تز ـ انته تيزاوسانتيزمقولې زده کولې اوپه زور،زوره ئې دځانه سره ويلې.ځوکوچني زمريالي په همدغه مقولوسره ورته ويل:(تيزيوه ماټه راکه انته تيزه د وې ماټې راکه اوسنتيزدرې مالټې راکه) ځوچی زه راغلم مورته مي وويل:چی يوه پلاخوود ته مالټې ورکړه بياخپل سبق وايه؛موروويل ښه سوچی راغلې ورسه ته ئې ورکړه.چی زه بياورغلم اوزمريالي ته می مالټې را واخيسې.پورته بيان ددې دپاره وسوچي دساجدې دژوندلويه برخه په زده کړه کي تيره سوه.زه خپله ترډيره وخته په دې نه پوهيد م چي زموږمورولي پرما باندي ټينګارکوي چی ويل به ئې:دغه وخت بيا نه پيداکيږي، دغه دهلک توب په وخت کی که ته زده کړه وکړې،نوټوله وخت به بيااستراحت کوې.نواوس وخت مناسب وګڼه اوخپل د رسونه دی ولوله.موربه ويل :ارزښتونه دوه ډوله دی يوډول مادي ارزښتونه دي،چی په هغه باندي ته راکړه ورکړه کولای سې.چي نوموړی مادی ارزښت هم ډيريدای سي اوهم تاوان کولای سي اوستا دلاسه ټوله مادی شتمنی دلاسه وتلای سي.دوهم معنوي ارزښت دی: داهغه ډول ارزښتونه دی چي ته ئې دوخت پربنسټ په همدغه عمرکي ترلاسه کولای سې، معنوی ارزښتونه ستاسره دټول عمردپاره وي،

هيڅ وخت تاوان نه لری اونه هم ستادلاسه وتلای سي.اوهمدغسی تاسوهرڅوک چی وی د معنوی ارزښت په لاسته راوړلوسره کولای سې چی مادی ارزښتونه په پرله پسې ډول ترلاسه کړې.اومعنوی ارزښت به توله عمردرسره وي.اوداهغه سرمايه ده چي ستانوم به پريادیږي،ته د معنوي ارزښت په مرسته ښه تحليل کولای سې،په جامعه کی به مطرح څوک واوسيږې،اودخپل تخصص په برکت به دټولنی ټول سياسي، اجتماعی بنسټونه وتاته ضرورت لري،دغه زموږدمورنظروودوخت دارزښت په باب.ديادولووړبولم چي دوخت پابندی دوخت واعده کول او دوخت په حساب ډيرڅه دارزښت وړګڼل کيږي. چی په دې لړکې واعده کول هم دهغه مهموبنسټونو څخه وو،چي ساجدې به پرخپل وخت دوعدې سره سم ځان معين دواعدي محل ياځای ته رسوی.دانوکه به واعده شخصی وه اوکه به واعده رسمي وه خودې ته واعده وه،دساجدې دمقولوڅخه چي ويل به ئې واعده = واعده يا واعده واعده ده اوبس. په دې کي بل څه نه ځايږي.په دې باب چی هرځای ساجدې دنده درلودله که به ښوونځی وه اوياهم مجلسونه ساجده به مخکي راتلل يعنی پر وخت به حاضريدل،ساجدې په خپله ښوونځی کي ئې پروخت برابره ښوونکې په توګه نوم درلود.اوهيڅ وخت به يا داسي وخت نه وي راغلی چي دادي خپلي دندي ته ناوخته حاضره سوې وي اويا به هم ډيرلږداسی واقعه سوې وي چي،ساجده دي پروخت دندی ته نه وي حاضره سوې ،ځنډ يد لې دی وی.

دوخت په باب زما نظرهم دساجدې سره برابر دی ، زه هم وايم چي وخت لکه سره زر،وخت دهيچاه بروانه کوی هغه خپل منزلونه تيروي،وخت تيريږي اوبيانه راګرځي.تيروخت يوازی په حفظه کی دخاطرو او يادانښتونو په څير پاتيږي، څوک کولای سي چي دتيروخت خاطرات ثبت کړي يا ئې وليکي، بيرته نه تکراريږي. او همدغسی را تلونکی وخت نا معلومه پيښه يا پديده ده چی تاته به بيادهمدغه کړنی وخت پيداسي اوکه نه؟ته به راتلونکی کی صحت ولرې کنه؟ ته به پرهمدغه محل واوسيږې اوکنه؟ دغه ټوله پوښتني دي دراتلونکی وخت دپاره.نوځکه خدای بخښلي ساجدې بڅرکی پرحال يا اوسني محال ډير حساب کاوه.موربه ويل:تيرپرتيرهيرپرهير- راتونکی معلوم نه دی.اوس دتصميم وخت دی.لاني شعردپورته مطلب بيان کوي.

# وخت لکه سره زر

دساعت په ټکهاري وخت تيريږي

زمانه راڅخه درومي نه تميږي

په هر ټک کې ارزښت پروت دی غافله

قافيله ده چي تيريږي نه تميږي

په هيله ،هيله که وخت درڅه تيريږي

نن ګړی به سبا کله پيداکيږي

دحسرت په پراخ جهان کې ټنبل مه سه

په فکرونو جهان کله سمسوريږي

دعـمـل قـلم را واخله لار روښا نـه

معنوي ارزښت کتاب کې پيداکيږي

که وخت دلاسه ورکې بيا ارمان کړې

بس هغه ګړی دي بيرته بيداريږي

دځوانی عمرکه تيرکړې په تدريس کې

په اخيرکې منصبداردرڅه جوړيږي

لکه ونه داميد کښيږدې په کورکې

دهــغــې ونې ثمرتـــاتـــه رسيږي

که افغان ولس دوخت په قد ر پوه سو

نو حکومت به دبيعقلو نه چليږي

که دي ژوند ون مراد خوشحالی وي

خوشحالي هم په زمان کې پيداکيږي

دنن کا ر وسبا ته تعطیل مه کړه

په سبا کې نورکارونه پیداکیږي

که هرڅوان دوخت په پوهه کې غلط سي

دځوانئ عمرد ګل په شان رژیږي

عالمانو وخت په ( ټي ) باندي ښودلی

دا د(ټي) په ارزښت لږخلک پوهیږي

فلسفه کې د زمان اود مکان اصل روښانه

کله جسم بې زمانه بې مکانه پیداکیږي

دادنن بڅرکی اور غوندي روښانه

په سبا بې روښنايي هم خاموشیږي

**شاعر: ننګیالی بڅرکی**


په پای کی باید ووایم :هغه څه چی زما د مرحومي مورپه یاد دي هغه دهغه ښه صفتونه دي،دهغې هغه یادوني دي چي خپله سا جدې په خپل ژوندکي درلوده.اوڅونه آرمان يې درلودچي ټولنه اصلاح وي، دهرډول فساد څخه خلاصه وي،انسانان یودبله سره دوستان وي اود ظلم،استبداد په مقابل کی ټول انسانان سره یوموټي وي.اودهمشه دپاره انسانان یودبل حقوقوته درناوی ولري.خوداټوله آرمانونه وه،ترهغه وخته چي دې مرحومی ژوند د رلو ترهغه وروستئ شیبې پوري دغه آرمانونوته کارکاوه.اوډیرکارئې هم ورته کړی دی.خوآرمانجنه دنیا ده اوپه دغه آرمانونوکي په لږعمرکی چي په تقریبي ډول(۵۳ کالو) په عمرد بد وشرایطوپربنسټ دزړه په ناروغی اخته سوه.اوداد نیایې دآبد د پاره موږ.اوراتلونکونسلونوته ورپریښوده.ددې دی روح ښادوي.

اوس نودراتلونکی نسلونودنده ده چي پردغسي افکاروباندی دځانه سره غوروکړی اودهغې مرحومي پرقدم،قدم کښیږدي ،همدغه لاره تعقیب کې څودساجدې په شان دنورومیندواوبشردوسته انسانانوخیالو نواو فکرونوته دعمل

جامه ورواغوندی.دخپلومیندواوپلارونوروح په خپلو نیکوعملونوورښاد کړي.خومرحومی ساجدې په خپل لنډ ژوند کی هغه خد متونه ترسره کړه چې په واقیعت کي زموږدبیسوادي ټولنی،زموږ دوروسته پاته غریبی ټولنی،دپاره یوه اندازه غنیمت اود قد روړوه. خوداچي دهغې مرحومي ژوند لږعمرؤ.ځکه چي هغه ۲۰کاله دپلارپه کورکي د نجلۍ توب دوره تیروله،بیادواده ښخه وروسته موږپر ستونزوهم رڼاواچول.نوپه واقیعت کې په لږوخت کی د قدروړخد متونه ترسره کړه.نویې د خپل آرمان دپاره دغه لاندي یوبیت موږرا وړوچی دا وایی : سا جده که وي شاعره - همیشه به داږغیږي

یعني هر بد به بد بولي او هرښه به ښه بولي .

ددې دفکرډول ټوله دښیګڼواو هغه ځانګړنوته متوجې سوی وو، چی هم په ملی کچه او هم په نړۍ واله کچه دبشردحقوقو،عمومي انساني پرمختګونواوهمدغسي انسانان دځینوخرافوعقیدوښخه دډه،ډه کولوپه خاطرراوګرځول سي.اوویوې سمی لاري ته دانسانی خد متونودترسره کولوپه خاطرراوګرځي.خوپردغه ټولوتلاښونوبرسیره افغانی ټولنه ددې دافکاروملاتړته نه وه اماده،نودبده مرغه ویلای سم چی ددې دټولو مبارزو نتیجه دومره نه وه لکه دې چی په دغه اساني مترقي لاره کی قدم اوچت کړی وو.ددې دپاره ځکه شرایط وړاوبرابرنه وه چی موږ مخکی ددې کورنۍ ستونزی، محیطي شرایط وښیږل.اونن موږوینو چی زموږهیواد تربل هروخت په ډیروکړاونواختله اولاس اوګریوان دی. دلته موږپه لاندي کاغذ باندی دخدای بخښلي ساجدې بښرکی دقلم یا لیک نخښه وینو چي ددې په خپل لاس سره لیکل سوی دی، خود لیک نوره برخه ئې ما نه ده ترلاسه کړې.




دپورته لیک څخه داسي معلومیږي چي ساجدې یوازی مورته متفقین او متحدین هغه ډ لی راښوی چی په دوهم نړیوال جنګ کې زمورنړئ دیوه لوی بحران سره مخامخ یا لاس اوګریوان کړه، په دغه لیک نخښه کې د متفقینوخبره راغلې ده چي جاپان،ایټالیا،المان مهم هیوادونه ذکر سوی دي،خومتحد ین هم خامخا ذکرسوي دي یایاد سوی دي چی په پورته نیمګړی لیک کي ئې یادونه نه معلومیږي،خودې پردوهم عمومی جنګ باندی هم ډېرکارکړی وو.چی اسنادئې دوخت دشرایط پربنسټ اوس زماسره نسته.اوددوهم نړیوال جنګ متحدین عبارت وه لکه:اتحاد جماهیری شوروي ـ امریکا ـ چین ـ انګلیستان ـ فرانسه وه.



**محمدعلم بڅرکی**

## «دخپل خا وند په اړونده دساجدې بڅرکي ښځینه دریځ»

مرحومه ساجده دافغانستان دکلتوري،مذهبي،عنعنوي اوپښتني دودونو پربنسټ هغه یوداسي پښتنه میرمن وه،چي نه یوازی داچی خپل خاوند اودژوند ملګري ته ئي احترام درلود.بلکي؛هغه ئې دیوه لاربښود په ډول دخپل ژوندپه ټولوچاروکې دځان استاذ ګاڼه .دمرحوم محمد علم بڅرکی وخبرو،کړنوته به ئې تر هغه سرحده احترام درلودلکه لمرته چي څوک دیوه وا قیعت په سترګه کوري .که به هغه یوه خبره سپینه ګڼل ، خودې به هم سپینه ګڼل ،خو که به هغه توره ګڼل ؛ نودې به هم هغه توره ګڼل ، چي په دغه باندی ئې هم یوتعدادخلکوته شهرت درلوداودبیلګې په توګه به ئې دخاوند داحترام په مقصد یادول.

همدغسي په سیاسي چاروکي هم دیوه انډیوال اوملګري په څیرپه څنګ کي ورسره ولاړه وه.په ښارونوکي به یې په غټومظاهروکی بیرغ ورسره اخیستی وو،په دعوتونوکي به یې دهغوی دمیلمنوښه میلمه پالنه کوله،دمرحوم محمد علم بڅرکي سره به یې په سیا سي کړنوکي دریځ یوؤ.اودهغه دسیاسی فکرملاتړبه یې کاوه،که څه هم دمرحومي ساجدې اولادونه بیادپلارسره په یوه ګوندکي نه وه،خوڅه وخت چی به یې دمورسره په سیاسي بحثونوکی خبري کولې نوبیابه مورویل:چی ستاسو پلارترتاسوښه پوهیږی.اوتاسوترهغه هوښیاران نه یاست اودخپل خاوند یادژوند دملګری پلوی به یې کوله.که څه هم دمرحوم محمد علم بڅرکی ټوله اولادونه دمرحوم محمد علم بڅرکي سره په یوه فکراونظرکې وه ،

خوپه یوه ګوندکی نه وه،نویې اندیوالان هم جداوه اودمبارزې شیوې یې هم یودبله سره جدا وې.خوبرسیره پردغه توپیراوګوندی اختلاف بیا هم په فکري لحاظ ټوله کورنۍ سره ملګري اودیوې لاري دپاره سره یو موټې وه.مرحومه ساجده اومرحوم محمدعلم بڅرکی ترهغه حده ډموکراټ پلاراوموروه؛چي هیڅ وخت یې هم خپلواولادونوته دانه ویل چی تاسو به حتمی زموږ سره په یوه خیال اویوه فکرواوسیږی،په یوه ګوندکي مساوات کي به شامليږی.خوموږبه د خبرولاره همیشه خپله کړې وه.اویودبله به موهم خپل اتحاد سره ساته اوهم به موپرپیښوخپل نظرسره ویلی،خودخبرودلاري.چي په دغه سلیقوی اختلافاتوکي زموږ مورزموږ دپلارسره په یوه نظر وه.

زموږ مورمرحومه سا جده بڅرکې ترهغه وخته چي په افغانستان کي وه خپل معاش دښوونکي ئې درلود.اوهغه معاش یې په ثابته توګه دکوردخرڅ دپاره محمدعلم بڅرکی ته ورکاوه،په داسي حال کي چي خپله مرحوم محمدعلم بڅرکي هم خپل معاش اودجایدادشتمني درلودله. نودا هم دډیرباوریوه نخښه وه،خودباوردډیرلوړډول اوبیلګه تردغه هم ډیره لوړه وه،چی دژوند ټوله اختیارات یې دخپل خاوندپه لاس کی وه، چی هیڅ وخت یې هم بیله دمرحوم محمدعلم بڅرکی دمشورې څخه پرته یو قدم هم نه اخیستی. ومرحوم محمدعلم بڅرکی ته یې (ګران آغا) ویلی چي دادمرحوم بڅرکي کورنی نوم وو.

خوهمدغسي ګران آغاهم پرساجدې باندي ډیرباوردرلوداوهغه ته یې چیني ګله ویل،چی همدغه دسا جدې کورنی نوم هم وو.دچینی ګلي سره یې مشوره دخپل ځان ویاړګاڼه اودچینی ګلی په ژوند کې هغه داستوګني کوردهغې په نوم کړی وو.

مرحوم محمد علم بڅرکی یوډموکراټ اوآزادي غوښتونکی منورتعلیم یافته وو،نو په ټولوهغه میلمستیاوکي چی به دی په رسمی توګه دعوت کیده او دنراوښځوګډ دعوت به وو،دکندهارپه شرایط کي به یې خپله میرمن هم دځانه سره بیول.اودځینوشیانوپه رانیولوکي به یې هم صلاح اومشوره ورسره کول اوکه به ضرورت وو،نوبه یې بازاراوسودا ته هم دځان سره بیول.نوپه همدغه اتحاداوکورنی جوړښت کی ترهغه اندازې بریالي وه، چی په دباندي کي به دوستانواودکورنۍ غړوددوی دوستی اودیوه فکریوالی ستایه اومثال به یې

راوړه.د یادولووړده چي ووایم ؛ زما په ټوله ژوند کی چی ما دخپل موراوپلارسره تیرکړی دی،زه په خپل کورکي کوچنی لوی سوی یم زما په یاد نه دي چی مادی یووخت دخپل موراوپلارجنګ لیدلی وي،یادي زماپلارزمامورته په لوړآواز،په قهراوبدوویلوسره زمامورته څه ویلي وي.خودخنداومشترک ښه ژوند بیلګې یې ډیري سته.ترهغه وخته چي ژوند په افغانستان کي شؤنی وو، ددوی ژوند هم په اقتصادی لحاظ ډیرښه وو،خوهغه وخت چي بیا دافغانستان څخه دستونزوپربنسټ ووتل،نوبیاد ښه ژوند څخه ویوه داسي حالت ته راغلل،چي په ټوله ژوند کې انقلاب اوبدلون رامنځته سوه،خو بیاهم دوی په یوه خوله اواتحاد سره ژوند کاوه اودژوند کولو شمعه یې روښانه وه،خوداشمعه ورځ تربلي کمزوره کیده اودخاموشۍ پر لورروانه اوتاریکه کیده،خوبیاهم دوی دواړوامیددلاسه نه ور کاوه،خودمسافري بد شرا یط دومر پردرانه سوه چی وړل یې ګران کارسو.څوبیلااخیره دمرګ پولی ته یې ساجده ودرول.خوپه هغه ناروغۍ کی به هم دسا جدې بښرکی دغه فکراوچورت وو،که زه نه وم نوګران آغا به څه کوي؟ اوڅوک به دهغه خدمت کوي؟ داهغه وخت دی چی مرحومه سا جده بښرکي دکوټي په سیول روغتون کي دزړه دناروغۍ په سبب ترتداوی اواعلاج لاندي ده.اوهره ورځ،هرګړی یې ګران آغاسرته ولاړدی اوپوښتنه پرکوي،دډاکټرانوسره ددې دناروغۍ په اړوند بحثونه اوخبري کوي،خوژوندوفاورسره ونه کړه،مرحوم محمد علم بښرکی یوازي پاته سواوساجده دټول عمردپاره دمرحوم محمدعلم بښرکی څخه دخدای په امانی وکړه.اوپه همدغه دکوټي په ښارکې په سیول روغتون کې په کال۱۹۹۱م کال دجولای دمیاشتی پر۱۸نیټه د سهارپر۸بجواودیرشودقیقووفات سوه.«روح دې ښادوي یاددې تل وي»

خدای بخښلی ساجدې بښرکي په افغانستان کی دښوونی اوروزنی په وزارت کی ترورروستی وخته چی ممکنه وه کاروکی اودکارکاری موده ئې لکه مخکی چی هم یادونه سوې وه د۱۳۳۸هـ ش کال څخه راپیل بیا تر ۱۳۶۰ هـ ش کال پورې دوام وکړ.

پسله هغه چی مرحومه سا جده وفات سوه ،دمحمد علم بښرکی ژوند هم دیوه سرګردانه،په مصیبتونوکی غرق اودژونددچاروڅخه لاس په سر، د مایوسۍ په

کنده کي لویدلی اودمطلقي تنهائی اویوازیوالي سره مخامخ سو.دکورسامانونه يې یوه اندازه خرڅ اویوه اندازه غریبوخلکوته په خیرات کي ورکړه.خودادده خپله خبره ده چي ویل به يې:څه وخت چی به مي دغه شیان چی زمادډک کوراوژوند خاطرات په کښي لیدل نو هغه به می په پټوسترګووخلکوته ورکول اوپرمابه ډیره درنه تمامیدل، خوچاره نه وه، په پای کی مي ودوستانو ته وویل:(چي په مايې مه ويني اوهرشی چي دهرچاه په کاروي ورکوئې.)چي همدغسي هم وسوه.اوخپله يې یوه خونه دمرحومي ساجدې بڅرکي دخورئې (ښاغلي فضل الله مشهورپه نانی آغاسره دهغوی په کورکي ونیول) اوهلته يې یوه وړه کتابخانه جوړه کړه.دخپل یوې بسترې اودضرورت وړشیانو سره هم هلته ئې ژوند کاوه.اوبیا ئې دساجدې بڅرکي دپاره یوښه سمیټي قبراوزیارت هم جوړکی اوکله،کله به يې زیارت ته هم ورتلی .دغه وخت دخدای بخښلی محمد علم بڅرکی دژوند یوه ډیربده مرحله یاپړا وو،چی خپله خدای بخښلي محمد علم بڅرکی هم ددغه دورې څخه شکایت کاوه؛ځکه ګی دیوه پلوه هغه دګلیستان دکاریزکورئې دحمیدزواو غبیزوترمنځ په قومي جګړو کی وران سوآودبله پلوه ئې دژوند ملګرې هم په حق ورسیدل.خپل کورئې نه درلود سرګردانه سو.



**دخدابخښلې ساجدې بڅرکی دقبراوحضیرې ادرس:په شیخانوکلی کې دارباب‌کرم خان روډ کې موقیعت لري.**

دغه نوداسي وخت وو،چي زه ننګیالی بڅرکی اوبریښنا هم په افغانستان کي وو،خوزمری محقق بیاکه څه هم پاکستان ته رامهاجرسوی وو، نوره کورنۍ یې په کویټه کی اوسیدل خوخپله زمری محقق په ډ نمارک کی ؤ.چي وروسته بیا د مورد مړیني څخه خبرسو.

خوداچی دموردمړیني خبرياپه افغانستان کی دهغه واولادونوته ور ورسیدی،یاهم په ډنمارک کي زمري محقق ته خبروورسیدی،نوډیره سخته پړاولادونوبا ندي هم تمامه سوه اودمسافرۍ په بدوشرایطو کي دا ډیره ګرانه خبره هم ده،خودافغانانوژونداوسرنویشت په همدغه ډول سره وو.دلته دیادولووړخبره خودا ده چی که دیوه پلوه دبابا یعني محمد علم بڅرکي سره اولادونه نه وه،خوخپلوان دومره ورته غنیمت سوه ، چی یولړدوستان په دې وخت کي دمرحوم محمد علم بڅرکي (بابا ) سره وه چی دده سره مرسته ئې کول،چی دهغه جملې څخه یوهم دمحقق صاحب اولادونه اوکورنې وه، چی دلمسیانوسره یې هم یوه اندازه سات تیروو.خو!په دې وخت کی د نیکه مرغه

دزمري محقق کارونه هم خلاص سوه اودډنمارک حکومت هغه ومنی اودپلاردراوستلواوکورنۍ دراوستلواجازه يې ورته ورکړه اوپه لړوخت کي ددوی کارونه خلاص سوه اودمحقق صاحب کورنۍ قبوله سوه.دهغه پلارمرحوم محمد علم بڅرکي هم د بې کسۍ په سبب دډنمارک حکومت دمحقق صاحب په غوښتنه راوغوښتی اوپه ډنمارک کې دزمري محقق سره يوځای اوسيده،چی يوه اندازه يې دتنهای ماتم ليری سو.خوپردغه ټولو خبروبرسيره دمرحوم محمد علم بڅرکی دنظره څخه دهغه مهربانه ميرمن نه هيريدل او هميشه به يې يادول.

دیادولوورړده،چی وروسته ترڅوکالوننګيالی بڅرکی هم دهالينډ دولت ته پناه يووړه اوهلته ميشت سو،چي وروسته محمدعلم بڅرکی هم هالينډ ته راغلی اودننګيالي بڅرکی سره يې ژوند راپيل کی،دلته خوشحاله ؤ، پسله لږوخت څخه هم دلته هاليندي پاسپورټ ترلاسه کړ.په آزاده پښه ډنمارک اونورواروپائي هيوادوته ته تلۍ اوراتلی،امريکاته هم يوځل دلور،خوند واونورودوستانو د ليدو دپاره ولاړی.خودبده مرغه دائې لومړی اواخيرنی سفرسو،چي تررا تګ وروسته بيا دزړه د ناروغۍ په سبب په ۲۰۰۳م کال کي دډسمبرپراتلسمه نيټه دننګيالي بڅرکی په کورکې وفات سو.«روح دې ښادوي»خوتردغه وخته چي وفات کيږي ، دخپلې ميرمني ياد يې هم هيرنه کی.

## دساجدې بڅرکي څلور ډيري ښې دوستاني :

دساجدې بڅرکی ځانګړنی ډيري ددوستی،ميني اوخوږولۍ پربنسټ جوړي وې.دهغې دملګرتوب ځانګړني هم په ډيره دهغه کسانو سره وه چي ددې لياقت به ئي درلود.اوهمدغه رازئې ددې دځانګړنوسره نژدې ګډ ټکی درلودله.نود دې انتخاب پرځای وو.اود ښه ملګرتوب ځانګړنی هم په دې کښي وه. ځکه دخپل دوست اوملګري ئې دخپلی کورنۍ اوډيري نژدې دوستي په شان پاللـه.وساجدې ته ښه دوست هغه دوست وو، چي دبدي ورځي په وخت کی په ښه ورتلای سو.دهيواد مينه ،دمنورو کسانو ستاينه، دخپل هيواد،قوم فرهنګ څخه ملاتړ، دهيواد په ابادولوکی دددوستانورول اودهغه انسانانوملګرتيا وه چي په بدو ستاينو سره ئې نوم او نښان نه وخراب کړی. دانو که غريبان وه که خانان وه ددې ملګری وه او ددې دهيواد پالني په لاره کې هميشه ددې ملاتړکړی دی. او

دې هم په همدغه لاره کي دهغوی څخه ملاتړ کاوه.او دخپلودغه نیکواهدافو دپارئې یودبله دملګرتوب اواندیوالئ په روحیه مرسته سره کوله.چی ددغه ملګروپه لړکې زه دنمونې په توګه ددغه څلوروبا شخصیته دوستانو ښځونومونه اخیستلای سم.چي هره یوه ئې دخپل وخت پیاوړې اونومداره ښځه وه،ښه موروه، دهیوادپالنی یوه لوړه نمونه وه.اوتاریخي کارنامې ئې هم دځانه څخه پریښي دي.موږ هم ددوی یادونه دځان فرض ګڼواوپه دوی ویاړ کوو، چي دلته به دهریوې دکار نامو څخه خبر سو.

**لومړی استاد شا ه جهانه :**

داهغه استاده وه چي مخکي هم یوه لنډه یادونه ددې په باب سوې وه، دکندهار دښځودغورځنګ دلومړنیوآزادی خواهانو دقطارباهمته افغانه چي دکندهارپه مترقی تاریخ اولاسته راوړنوکې به ټول عمریادسي،دخپل وخت دستونزو برسیره ئې دخپل همت په سبب دښځو نهضت دپیروزئ وحد ته ورساوه. هرڅومره چي دتند روه کسانودخوا څخه اخطارونه ورکړل سوه خودې دهغوی پرواونه کړه او دخپل ملت دراتلونکو نسلونودروزلوهوډ ئې په بریا لیتوب سره ترسره کړ.که څه هم دشاه جهاني دکورنئ ټوله کسان دهیوادپالنی اودعلم په میدان کي نامداره کسان وه.اودائې هم هڅول ودې ته چي دخپل هیواد دبچیو اوراتلونکی نسل دپاره دښووني اوروزني په بهیرکي ګام واخلی اودهمدغه لاری څخه دتنویرڅراغ روښانه وساتي اودا کارشاه جهانی استادي په بشپړه میړانی سره ترسره کړ.چی دافغانستان دښووني اوروزني بهیربه ددې دغه خدمتونه دیاده ونه باسي.

دشاه جهاني دژوند ملګری ښاغلی محمدانورخان ایازي دښوونی اوروزني په بهیرکي ډیر لوړنوم درلود،چي په کندهار کې په مختلیفو ښوونځیو کي هم زده کونکی روزلي دي اوهم ئې دښوونځیوریاست اومدیریت پرمخ بیولی دی.هغه دکندهار دنامداره لیسې (مشرقي لیسې) یوباتدبیره مدیروو. چی خاطرات ئې دزده کونکو سره سته.همدغسی محمد اعظم خان ایازي چي دپښتو ژبی ډیر لوړ استاد تیرسوی دی او دپښتو ژبي دپاره ئې په لیکلي ډول مختلف کتابونه او اثار هم لیکلي دي چي دهمدغه جملې څخه ئې موږ دپښتو ګرامریادولای سو. چی دپښتنوپه لیکلوکتابو کي دګرامرپه برخه کې ډیردقدروړکتاب ګڼل کیږي.

نوموړی کتاب دګرا مرپه برخه کی به لومړی کتاب وي چی په دغه ساده پښتو او په عام فهمه ادبیاتو لیکل سوی دی.که چیری تر دې دمخه کوم دګرامر کتاب لیکل سوی هم وي،خوپه دغه محتوابه نه وي.مختلفو ښوونځیوکې په زرهاو زده کونکی دعلم او پوهې څخه ګټه اخیستې ده .اونوموړی ګرامر دپښتنو دپاره ډیري اسانتیاوی برابری کړي دي.

خدای بخښلی محمد اعظم ایازی دخدای بخښلی شاه جهانی استاذي خسرکیده ، چی خپله کورنی به ئې تل هیوادپالني اودعلم په رڼاکي ښووني اوروزنی ته هڅول.اوهمدغسي خدای بخښلې شاه جهاني خپل اولادونه دهیوادپالني په روحیه را لوی کړه، چی دهغه دجملې څخه یوهم خدای بخښلی محمد اکبرایازی وو، چي دافغانستان لوی ژورنالیست اودامریکا ږغ نطاق بیا په پراګ کي دآزادئ درادیو اوخپرونومشر وټاکل سو.اودژورنالیزم په میدان کی یوتکړه اوبریالی ژورنا لیست وو.

دوهم : ګلثمه (د ل جانه) :



دوهم : ګلثمه (د ل جانه) :

ګلثمه اڅکزی دکوږک غره ته نژدې دګلیستان په کلي کې په ۱۹۲۹م کال دې دنیا ته سترګي روڼي کړی دي.اودهغه پلارخدای بخښلی عبدالنعیم خان اڅکزی او نیکه ئې خدای بخښلی عبدا لحلیم خان چي دخدای بخښلي محمد انورخان اڅکزی ورورکیده اوخدای بخښلی عبدالنعیم خان ئې وراره کیده. (دوروزوی کیده)،نامتوخان اودقوم مشران وو.که څه هم ګلثمه زموږد کورنئ سره ډیره نژدې اړیکی لري، یعني دمحترمی ساجدې بخرکی دلیورخانمه (یور) کیده اود

نامتواستاذ اوژورنالیست محمد حسن خان انوراځکزی میرمن وه. خو دساجدې بځرکی سره ئې دطرزتفکراوځانګړی سليقې پربنسټ ډېري نژدې اودملګرتوب اړیکی هم درلودلې.دوی دواړوپه سیاسي مؤقف کي ګډ دریځ درلوداودمساوات یاسوسیال ډیموکراټانوپه ګوندکې چي مشري ئې خدای بخښلي محمد هاشم میوندوال په غاړه درلودله اودهغه منشي یا معاوین خدای بخښلی محمد علم بځرکی وو.خدای بخښلې ګلثمه اځکزی دهمدغه ګونددښځود چارومسؤله وه.دغه وخت ددغه ګوند دفعالیت مرکزپه پلازمینه کابل کي وو، چی دوی هم هلته ژوند اوفعالیت درلود.دغه وخت دښځوغورځنګ نوی د پروربنت اوپر مختګ په حالت کی وو، نودلته ګلثمې دښځوپه منځ کي دښځو دحقه حقوقو په باب نه ستړي کیدونکی مبارزې وکړې. اودښځوغورځنګ ئې په دغه حساس پړاوکي سره منسجم کی.ډېري ښځي ئې په ټولنیزوکارونوکي د کاراوهیواد پالني وعملی میدان ته تشویق کړلې.اوډیروښځودخدای بخښلي میوندوال د میرمني په شمول ئې دګلثمې ترلاربښوونی لاندی دښځوغورځنګ پرمخ بیوی.خدای بخښلې ګلثمه دپښتو ادبیاتو سره مینه درلودله اودهمدغه لاري ئې دپښتنو دژړه حالات اودوخت مهم مسائیل اومضمونونه لیکل،چی یولړمضمونونه ئې دکندهارپه نامداره ورځپانه طلوع افغان کي دمیرمن لمبې په نوم خپاره سوي دي.خدای بخښلي ګلثمې په ډیرومهموادبي غونډ کي هم ګډون کاوه اودښاغلي پوهانداعلامه عبدالشکور رشاداواستاد عبدالاحد عارض سره به ئې په علمي غونډواوعلمي مجلسونوکي برخه اخیستل.

خدای بخښلې ګلثمه (میرمن لمبه)یوه اجتماعي یا ټولنیزه ،سیاسي اوادبی میرمن وه. چی دیوه پلوه به ئې ادبي ،سیاسی کارونه دهیوادپالني په مؤخه پرمخ بیول اودبله پلوه به ئې دخپلې کورني،اولادونوژوند ته بشپړه توجو درلودله.

خدای بخښلي ګلثمې څلوراولاده او دوې لوڼي په میراث پریښودې ، چي هریو ئې دلوړوزده کړوخاوندان اودهیوادپالني په روحیه ټولني ته وړاندی کړي دي. دګلثمې (میرمن لمبې)اولادونه لکه: رحمت النسأ ، انجنیرګل غوټۍ ، زامن ئې ښاغلی عبدالله انوراځکزی او ښاغلی روح الله انوراځکزی دي.

میرمن ګلثمه په ځینو ژبوپوهیدل اودهمدغه ژبودلاری ئې علمي کتابونه مطالعه کولای سؤ.لکه اردوژبه،فارسي،پښتوژبه،خودانګلیسی سره ئې بلدیت درلود.

داځکه چی خدای بخښلي ګلثمه اڅکزی دګلیستان په کلی کي زیږیدلې اولومړی زده کړې هم هلته په خپله کورنۍ کي ترسره کړی وې.دوخت دیني علوم ئې هم دخپلي کورنۍ څخه زده کړي وه.لکه چي مخکي وویل سوه دهغوی کورنۍ دګلیستان کاریزخانان وه اویوه علمي اوسیاسي کورنۍ وه،نوهمدغه دلیل ددې سبب کیدای سي چي ګلثمه دخپل وخت یوه عالمه اوپوه ښځه وه اوڅه وخت چي افغانستان ته راغله اودخدای بخښلی محمد حسن انوراڅکزی سره ئې دواده تړون وسو. بیا ئې په افغانستان کي په ډیره چټکی سره فارسي ژبه هم زده کړه، دا ځکه چی دوخت علوم ئې په خپله کورنۍ کي د ګلیستان او بوستان په شمول ویلي وه. برسیره پردې ئې دیني زده کړي هم درلودلې.خدای بخښلې ګلثمه (میرمن لمبه) په کال ۱۹۸۶م کال کی دالمان دایسن په ښارکی وفات سوه. اودهغې جنازه دالمان څخه وخپلی پلارنۍ هد یرې (حضیرې) ته راوړل سوه.اوپه خپله پلارنۍ هدیره کي خاوروته وسپارل سوه.(روح دې ښاد وي اویاد دې تل وي) .

**دریمه حضرته (خور) :**



حضرته خورلکه دنوم سره چې خوریا دسوی دی همدغسي دهرچاه خور،مور اودمهربانۍ په ډګرکې یوه مهربانه دوسته وه.محترمه حضرته خورهم دخپل وخت یوه سیاسي اوټولنیزه شخصیت ده. دهغې پلاراونیکه هم د ګلیستان خانان اودتاریخ په اوږدوکې سیاسي خلک وه.

حضرته خور: دمحمد ایوخان اڅکزي لوراودمحمد یعقوب خان اڅکزي لمسۍ ده.چي پلاراونیکه ئې دوخت په ملي اوډموکراټیکومبارزوکي په پښتني سیموکې لوړنوم درلود.اودوخت انګریزی استعمارپر ضد ئې نه ستړي کیدونکی مبارزې پرمخ بیولې.دمحترمی حضرتي (خور) پلاردانګریزانوپه وخت اوبیا دپا کستان دجوړیدوڅخه وروسته په زندان کي په وارووارورزنداني سوی دي.اودهمدغه ظلم پرضد ئې په ګرم سنګرکي مبارزه را پیل کړه. اوافغانستان ته ئې په کال ۱۹۵۰م کی پناه راوړل.اوترکال ۱۹۷۶م پوري په افغانستان کي دپښتونستان د آزادۍ په لاره کي مبارزه وکړه اوپه همدغه کال کي په افغانستان کي مړسو.او په شهدای صالحین کې خاوروته وسپارل سو. روح دې ښادوي.

محترمي حضرتي (خور) ته دغه مبارزه دپلاراو نیکه څخه په میراث ورپاته سوې وه.اوهغه وخت چي ددوی پرکورنۍ باندي هم دپاکستان دجابیرحکومت دخواڅخه بندیزونه ولګیدل اوترسخت فشارلاندي راغله نوئې وافغانستان ته پناه را وړل.اوترهغه وخته په افغانستان کی وه کوم چي وروسته ئې دپا کستانه سره دورتګ مؤفقه وکړه،اوپه پاکستان کې دژوندکولواوسیاسي فعالیت اجازه ور کړه سوه، نودپښتونستان دمبارزینویولړکورنۍ بیرته پا کستان ته ولاړل چی دهغه جملې څخه اجمل خټک هم پا کستان ته ستون سو.

دحضرتي خورستنیدل وپاکستان ته دستونزوډک ژوند ورپه برخه کی، تر سخت فشارلاندې ژوند کاوه اوهغه پخواني کورونه اوجایدادئې هم ټوله یا نړیدلی اویاهم دنوروترتسلت لاندي سوی وو. خو په هرصورت دهغه ورونه لکه جعفرخان اڅکزی،محمد معصوم اڅکزی اومحمد ابراهیم اڅکزی، همدغسي دخوندوپه شمول دهغې دژوندپه جوړوولوکي مهمه برخه واخیسته اوپه اقتصادی لحاظ به ئې ډیرمشکیل نه وي لیدلی،خوپه ټولنیزاوسیا سي لحاظ ئې ډیرسخت تاوانونه ولیدل،داځکه چي دغه وخت ئې زوی محمداسلم (ولسیار) یوښکلی اوهوښیارزوی دپاکستان دولت په یوه سولیزه مظاهره کي ورشهید کړ،دغه دحضرتي خوراودهغې دکورنۍ دپاره یوه غمیزه وه.اودغم داغ ئې تر نن ورځې پوری پرزړه پاته سو.ولسیار داسي یو ځوان هلک وو، چي په مجلس ئې هیڅوک نه مړې دی.دهغه پرشهادت باندی دمشعل تلویزون اوراډیو دمحترمي خورسره یوه اوږده مرکه وکړه،چي په ډیروجالبوالفاظوسره دغه

مرکه پایته ورسیدل.دهغې په مرکه کي مهم ټکی دولسیارشهید کیدل،یادهغې دهمته ډک بیان وو،چی دسیاسی مبارزینوهمدغه لاره ده،چي دخپله انتخاب کړې وه.دشهیدولسیارپرمړینی دغه شعردخورډیرپه زړه پوری اوپوخ شعر را معلومیږي:چی وایي:نوموړی شعردشهیدولسیارپرقبرباندي نویشته سوی هم دی.

مړشو قهرمان له خپلوډیروارمانو سره

ونړیدی غر له خپلو غټو سنګرو سره

لکه څنګه چي مخکي هم یادونه وسوه، چی حضرتي په افغانستان کي ژوند کاوه اودساجدې بڅرکی سره ئې دنژدوخپلوی درلودله،دسیاسی اوټولنیزو ځانګړنوله مخی دوی ډیري سره نژدې اوهم فکره وې.محترمي حضرتي (خور)په افغانستان کي په علمي غونډواوکنفرانسوکې برخه اخیستل.اوپه سیمه کې دښځودحقوقودپاره مبارزه کوله،هغه ښه لیکواله،شاعره اودملی فکرخاونده وه. اودسا جدې بڅرکي کلکه ملګرې وه. دوی ډیروخت زوموږ سره په یوه کوڅه کي ژوند کاوه چي دحاجي محمد انورخان په یوه کوټۍ (مانۍ) کي ئې نژدې زموږ دکوره سره زموږ دکورنۍ په څیراوسیدله. محترمی حضرتي خور ټوله اولادونه چی په افغانستان اوپاکستان کې درسونه ویلي وه دلوړوزده کړو خاوندان وه.اوځینوئې لا په افغانستان کی درسونه بشپړه کړی وه اوپه افغانستان کي د ښووني اوروزني په برخه کي د خدمت مصدروګرځیدل.خوهغه اولادوچي په افغانستان کي درسونه په نیم ګړي توګه لوستلي وه،بیرته څه وخت چي پاکستان ته ولاړل هم هلته ئې هم لوړي زده کړي ترسره کړې.

دوخت شرایط داسی را غله چي په افغانستان کي د۱۳۵۷هـ ش کال دثور دناکامه انقلاب څخه وروسته بې امنیتي اودیکتاز ګوند (خلق او پر چم ) دخوا څخه پرسیاسی شخصیتونو سخته پابندی اوزندانی کیدل حتا وژل کیدل یو عام څه وګرځیدل نو په همدغه دلیل دساجدی بڅرکي دژوند ملګری خدای بخښلی محمد علم بڅرکی هم پا کستان ته مهاجرسو.خوهلته ئې پخوا هم دوستان موجود وه،خودځینوسره ئې یوازي په نوم شناخت درلود اوپه رنګوئې نه سره پیژندل. نو دغه وخت دساجدې دپاره حضرته خوربیا هم غنیمت سوه،چي ددې دمجلس پخوانۍ ملګرې وه. په نړیواله کنفرانسونوکې برخه اخیسته لکه دپښتو نړیواله

کنفرانس کې چې دواړوبرخه اخیستې وه اوهلته حضرت خوریوه ښکلې بیانیه دپښتنی ښځودآزادۍ اوپرمختګ په نوم واورول، چې دګډ ون والو دخوا څخه په چکچکوسره بدرګه سوله.همدغسي په نوروغونډوکی هم دوی دواړوبرخه اخیسته اودخپل وخت تر ټولو ښې ملګري وې.

## پایله

څرنګه چې زموږ ټولنه دپیښواوتحولاتوڅخه ډکه یوه ټولنه ده،کله مترقي غورځنګونه په دې ټولنه کي راڅرګنده سي اوکله بیا ډیربدوروسته پاته ارتجاعي ګروپونه اوغورځنګونه دقدرت واګی په لاس کي واخلي.اوپه ټولنه کي دبد بختۍ ناتاررامنځته کي،ټولنه دپرمختګ څخه راوګرځوی. او دبهرنیانودپاره ددې زمینه برابره کي چي زموږ هیواد ته راننوزي اوخپل شوم عملونه زموږپه خپلوخلکوباندی قانونی کړی،ټولنه دومره وروسته پاته افکاروته وروسپاري،چی هیڅ نوع ملی اوهیواد پال تفکرهم ونه لري ، نو په دې وخت کی بهرنیان زموږ دمعنوي،فرهنګي ارزښتونوڅخه داسي ګټه اخلی ، چی، اخلاق ، مذهب ، ښوونه اوروزنه موټوله ارتجاعی کی اودځان په ګټه ئې استعمال کي. هغه کړی،قوتونه اوملي ګوندونه چی هیواددهیوادوالودپاره غواړي، سمدلاسه یې،یا زندانی ، یا هم دمرګ وتختې ته ودروي.ټولنه بیسواده اوپرافراطیت باندي داسي برابره کي، چي بیله عقیده وي مسائلوڅخه هیڅ علمی میتودونه نه مني، بهر نیان داسي حالات غواړي اومنورین،چی دانتقاد کولو توانمندی لري، دټولني څخه یا شړلوته اړباسي اویا هم یې په د ننه دټولنی کي داسي منزوي اوتنها کړي،چی څوک یې پر خبرواوسورناغوږ هم نه نیسي.چي موږپه دغه درولسیزوکی په افغانستان کي ددې خبري شا هدان یو. موږ په دغه اوسني یوویشتم قرن کی ددې شاهدان یو،چی په افغانستان کي ځوانان ، منورین اوښوونیزکسان پرړیرو،آزادخیالونو،لڅ سر،په زوره مسجدته ننه ایستل،په زوره لمونځ په کول،ښځي دښوونځی اودرسي زده کړوڅخه محرومه کول، ښځي دکورڅخه دباندي مه پریښول.اوداسي نورروسته پاته شاته تګ په همدغه ۲۱قرن کي،په رښتیاهم یوه غمیزه وه اودبهرنیانوپه وتیززورسره دقد رت اوتوانمندۍ وحاکمیت ته ورسیدل.اوپه همدغه وخت کې هیوادمنورینوڅخه

جاروکړل سو.همدغه حالات نه یوازي داچي نن راغلل، خو مخکی هم پرموږ باندي تیرسوی وه.

که په تاریخی لحاظ لږڅه مخکی نظرواچوو،نودابه راته جوته سي ، چی بهرنیانو همیشه داسلام دمقدس دین څخه په خپله ګټه زموږ دملایانواوخرڅ سوؤمذهبي مشرانوڅخه ګټه ترلاسه کړې ده.هروخت یې همدغه کلمې زموږپه هیوادکي دخلکودخطاایستلود پاره استعمالی کړي دي.لکه:دحرام اصطلاح،ګناه درلودل،کافرکیدل،دوږخي کیدل،دادنیا زموږنه ده،جهاد،غنیمت .... اوداسي نوري مجهولي کلمې،خو! زموږ خلک په دې نه پوهیږي چي افغانان داسلام ډیرلرغونی تار یخ لري اوحتا داسلام په خپرولوکي دافغانانورول ترعربوڅه کم نه دي.دهغه نیتې څخه چی انګریزان پردې هیواددخپلو شیطان صفتو ملایانوپه وسیله د۱۹۳۸م کال څخه وروسته برلاسي سوی دي دهمدغه وخته څخه په افغانستان کی داسلام دافراط پړاوهم را پیل سوی دی،خو! که وروسته ترهغه دانګریزانوجرړي په سیمه کی وختلې خو! دخپل ځان نماینده دولت اوداسلام په نوم یوبل وریانټ(پاکستان) یې جوړکی اودهغه ورځي څخه بیاهم ترنن ورځي پوري دغه نوی جوړسوی هیواد پاکستان تاریخی افغانستان ته داسلام په نوم ګروپونه رااستوی،دلرغوني انګریزدنده سرته رسوي.افغانستان نه پریږدي چی دسولي ترقئ پرلوري قد مونه اوچت کي.دلته موږیوه واقیعت ته ایشاره کوو؛پاکستانیان په خپله په انګلیستان اوپاکستان کي به ښوونیزمرکزونه په هغه لوړه سطحه پرمخ بیائي،چي لوړي زده کړي به د نراوښځي په انګلیستان یا نورواروپایي هیوادوکي پاکستانیان اودپاکستاني ملایانواولادنه ترسره کوي،خو! بیاهم زموږ په هیوادکي به دښووني اوروزنی بهیرپه ټپه دروي.او دښوونځی، سینما،آزادولیکنو،په مقابل کی به دملایانوبلواوي راهبري کوي.زموږعام خلک به دسیرپه څیردخپلوارتجاعي بلواوومخي ته وراچوي.

که موږدپیښورښاروګوروهلته دانګریزانودوخته بیاترنن ورځي پوري دخرابوفلمونوسینماوي،خراب فلمونه دځوانانودبې لاری کولودپاره نندارې ته وړاندی کیږي،هلته دهغه ځای ملایان پټه خوله دي خوپه افغانستان کي دهلکانودمکتب پرضد بلوا کوي.اوزموږهیوادیې دسخت خنډسره مخامخ کړی دی.دلته په افغانستان کی دسواددزده کړي کورسونه زموږ یولړارتجاعي ملایان

اوخرڅ سوی مذهبي مشران نارواګڼي؛خو!دپاکستان دملايانواومذهبی مشرانولوڼي په انګليستان او نوروپرمختللی هيوادونوکی درسونه وايي.اوخپلی زده کړي کوي، موټرچلوي،په اداروکې کارکوي،د ژوندپه ټولنيزوبرخوکي د نارينوسره يوځای کارکوی.خو!زموږځوانانوته بيادزده کړی اوښوونی پرضد تعليم ورکوي.چي دادافغانانوپه مقابل کی يولوی خنډ دی.اوهغه افغانان چی ددغه بداوشوم عمل درک ورسره سته هغه بيا په خپله خاوره کی دغه ډول دپرديو په لاس جوړسوی،اسلام نه غواړی اوددغه ډول ارتجاعي عمل په مقابل کی دريدلي دی. هميشه يې دخپلي خاوري اودخپلو عنعنوي ارزښتونود ساتلو په خاطرقد م اخيستی دی.اومبارزه يې کړيده.چي ددې خبری دتائيد بيلګي موږدمعاصرافغانستان په تاريخ کي لرو.اوموږهغه وختته چی داميراعبدالرحمان خان دوران ته وګورو! چي يومستقيل مرکزي حکومت جوړسو.اوتيت اوپرک قومونه يې سره راټول کړه، خوترده وروسته څه وخت چی بياامیرحبيب الله خان پرتخت کښيناست اوديوه مسقيل هيوادپه څيريې اصلاحات را پيل کړه،نوپه همدغه وخت کي دهغه دزوی اميرامان الله خان په مشری دلومړۍ مرحلې د مشروطيت غورځنګ سرراوايستی ،اودمشروطه خواهانوغورځنګ ورځ تربلي پياوړی سو.

دهغه وخت ځوان شهزاده امان الله خان دغورځنګ مشري په ښه توګه ترسره کړه،نه يوازي داچي په سياسي لحاظ يې دپام وړقد مونه وا خيسته،په فرهنګی لحاظ يې هم دپام وړتغيرات رامنځته کړه. اخبارونه،مجلې،دښځوټولني،ښځي دعمل ميدان ته راووتلې،دښځودپاره هم دلڅ مخ دراوتلوشرايط برابرسوه، دښځوخپرونی هم دشهزاده امان الله خان دميرمني داعلامه محمودطرزي دلورميرمن ثرياونوروملوريڼودخوراپيل سوې.خودبرتانوي هند پيرنګيانوپه سمدلاسه مداخلواودکورنيوجنګونوپه مرسته دانګريزي ملايانوپه تحريک نوموړی غورځنګ بيرته خاموشه کړ.اوپه هيوادکی بيرته دملاينواوسقاويانو حکومت پرسردقدرت راغلی.خودهغه وخت ملي اومترقي غورځنګ دخلکودغوښتنوسره سم وو،نويې په ډيرلږوخت کی دانګريزانو دوروستي ګوډاګي حبيب الله کلکاني مشهوردسقاوپه زوی حکومت نسکوره کړ. خو!ورو،وروبيرته دظاهرشاه په دوران کی دښوونی اوروزنی دروازې بيرته

خلاصي سوې،نارینه اوښځي لومړی په کابل اوبیاپه کندهار اونورولویو ښارونوکي دښوونی اوروزني مرکزوته ولاړه.

خوداخبره دیادولووړده ؛چي بیرته دښځوغورځنګ ژوندی کیده اوپر پښودریدل هم څه اسانه کارنه وو.خولکه چی مامخکی هم پردغه باندي تبصره اوتماس نیولی وو،دې کاریوه غټه قرباني غوښتل چي په کندهارکي موږددغه ډول قربانیوشاهیدان یو،چی دکندها نجون اوښځو پرځانونوهرډول سختی اونا خوالي حتا بدویل د مرتجیعنواو دتمدن ضد انسانانودخوا ولیدلې اودتوري ارتجاع په مقابل کې داسي مقاومت وکړ ، چی بلاخیره یې دښوونی اوروزني غورځنګ پیروزه کی.ترهغه حده دښځوآزادی تامین سوه لکه نن ورځ چې موږپه ډیروپرمختللوهیوادوکي وینو.خوپه دې کی هم شک نه سته چي دهغه زمانې خلک یعني د۱۳۴۳هـ ش څخه بیاتر۱۳۵۷هـ ش پوري.کندهاربښاردآزادۍ سمبول اودغورځنګونویودښوراوړوګه څخه ډک یوښاروو.ددې خبري تنها خاطرات اوس زموږ دهیوادوالوسره پاته دي.په اوسني وخت کی هم موږهغه قهرماناني وینولکه صفیه مشهوره (امه جانه)چی دهیواد ددښمنانواوډموکراسۍ ضد انسانانو دخوا شهیده کړل سوه.هو!دغسی دتاوتریخوالی اوښځودغورځنګ بله پیاوړې مشره شهیده ستاره اڅکزی هم داوسني وخت دهمدغه لاری دشهیدانواوقربانیانودجملې څخه ده،چی اوس زموږپه منځ کی نسته خود قربانیویادګارونه به یې همیش د افغانستان دخلکوسره ملګری وي.البته دستارې اڅکزۍ په باب مخکی هم یادونه سوې وه، چي د ساجدې بځرکي دخورلوروه.

دلته موږدیوې لوئي فکري اندیښنې سره مخامخ کیږو،چي غربي استعمارګرانوپه افغانستان کې شپیته کاله پردغه باندي کاروکی چي دافغانستان ټوله تندروي مذهبي مشران په خپل لیست کی راولي اوخوراډیرامتیازات هم ورته حواله کړي ،هغه هم ددغه هد ف په خاطرچی په افغانستان کي یوداسي طالبي اوملائي حکومت جوړکي چی افغانستان دي ۱۳۰کاله شاته وغورځوي. ددغه ناوړه هدف په خاطرئې دیوهنتون په محصیلینوکي کاروکړ، دافغانستان په ملایانوکې تند روه ملایان سره تنظیم کړه،په پاکستان کې ۴۶۰۰۰مدرسې دتندروی دپاره جوړی کړې.په نړیواله کچه ئې ددغه پنډ میټلیزم دسازمانوڅخه دفاع وکړه،دنړۍ په ګوټ،ګوټ کې قدرت ته هم ورسول،عجیبه خوداده چی په

پای کې دامریکاپه خبره دامریکا ټاورونه دنیویارک دمناتن دښارهم دوی ونړول.اوامریکا دتروریزم اوالقاعدې سره دجنګ دعوې هم راپیل کړې.نودفکری اند یښنې ځای هم دغه دی.چی دغه ټوله ولي امریکادخپلودښمنانوسره وکړه. زه فکر کوم چی امریکا به دغه کار کی به یا خطاوتلې وی اویا به دغه ددرواغوسیاست وي.چی ددغه دوحالاتو څخه خالی نه ده.په پای کي ژوندی دی وي دښځوغورځنګ په افغانستان اونړی کي.دساجدې بڅرکی دي روح ښادوي.اوددې دلاري د ملګروياد دي تل وي.
ننګيالی بڅرکی



## The life and struggle of Sajida Batserki

This book is written about the Women Movement in Afghanistan. This movement was established after 1965, when the constitution was inforced in Afghanistan. First a small number of women, with accepting a lot of trouble, participated in this movement in Kandahar. Sajida Batsarki was one of the first women, that took active part in this movement, which later got momentum and success. Later she guided the education movement in Kandahar with full ability, which first in Kandahar and then in all over Afghanistan was followed by thousands of women and by this The Women Movement succeeded in the country. During his scientific studies, Nangialai Batsarki see this a valuable movement, because of which he collected all those sacrifices and troubles that were imposed upon Sajida

Batsarki in her struggle in this Women Movement as a book, It is hopeful that this book will serve as a reference book for future Women Movement.

**دکتاب لنډه پیژندنه :**

**نوموړی کتاب په افغانستان کي دښځودغورځنګ په با ب لیکل سوی دی.نوموړی غورځنګ د۱۳۴۳هـ ش کال څخه وروسته چی په افغانستان کی اساسي قانون رامنځته سو،دهغه څخه وروسته په کندهارکی لومړی دګوتوپه شمارښځوپه دې غور ځنګ کي دډیرو ستونزو سره برخه واخیسته.چي ساجده بځرکې دهمدغه غورځنګ دلومړیو ښځودجملې څخه وه،چی په وروسته کې نوموړی غورځنګ بریالیتوب ته ورساوه.اوترهغه وروسته ئې دښووونی اوروزنی بهیر په بشپړه توانمندي راهبری کی،ترڅو لومړی په کندهاراو بیاپه ټوله افغانستان کي په زرهاو ښځودغه لاره تعقیب کړه.اوپه هیوادکی دښځوغورځنګ بریالی سو.ننګیالي بځرکي دخپلوعلمی څیړنوپه لړکي دکندهاردغه غورځنګ ته دارزښت په سترګه ګوري.اوپه کندهار کي دساجدې بځرکي هغه قربانۍ او ستونزي چي په دې لاره کې ګاللي وې،هغه ئې دخپل تلاښ اوڅیړنی په نتیجه کی سره راغونډي کړې،امیددی چی دراتلونکوښځینه غورځنګونو، څیړنواوتحقیق دپاره نوموړی کتاب یواخځلیک یا(مأخذ) وګرځي .**

**په در ناوي**